# فقیر ایپي

لیکونکی: ډاکټر ببري ګل (ګل لالا) وزیر

ژباړه: نور الله اتل

**Download from:aghalibrary.cm**

١ څپرکی
د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم

٢ څپرکی
حاجي صاحب ميرزا علي خان چي په فقير ايپي مشهور ؤ، په ١٨٩٧ کي په شمالي وزيرستان کي کجورئ پوستې ته نيژدې کېرته کلي کې وزېږولؤ. د پلار نو يې حاجي ارسلا خان ؤ – چي يو سوله غوښتونکی سړی ؤ او هر وخت به د خپلو خپلوانو په شخړو او مرنو کې منځګړيتوب کولؤ.

ميرزا علي خان په خپله تنکئ ځوانئ کي له خپله پلاره ديني کتابونه زده کړل. د يوڅو کلو د کورنئ زدکړې وروسته هغه بنو ته واستول شؤ چي له مولوي ګلبهادر څخه نوره زدکړه وکوي. په بنو کي په بېلابېلو مدرسو کي له پراخو لوستنو وروسته هغه ټوچي ته راستون شؤ او له نامتو ملايانو لکه ملا عالم جان دوړ څخه يې لوست ته په مخ پسې وساتلؤ. کله چي هغه له بنو راستون شؤ نو يې پلار مړ شؤ. له هغه څخه کجورئ ته نيژدې په شيره تلا او زيندرګله کي يوڅه مځکه پاته شوه. ميرزاعلي خان او ورور يې په ١٩٢٢ کي خپل پټې وپلورلؤ او په سپلګه کي يې يو څه مځکه واخيستله او هلته يې خپل کور، يو جومات او مېلمستون جوړ کړل. په دغه وخت کي هغه له ملا محمدفارق څخه فقه لوستله. په همدغه وخت کي يې د ملا قاضی شېرزاد له لور سره وادهٔ وکؤ.

ميرزاعلي خان په بنو کي تر ډېرو پاته نه شؤ. هغه له خپلي مېرمنې سره سپلګي ته راستون شؤ. هغه به په ټوچي کي د ايپي (ايوبي) کلي ډېر تللؤ چي له ځايي ملايانو څخه ديني زدکړې وکوي. له ديني زدکړې سره سره هغه د تاريخ هم يو تکړه لوستونکی ؤ، په تېره بيا افغان تاريخ .

کله چي هغه د ملا په توګه ديني دنده ترسره کوله نو يې د خوشحالخان خټک، رحمان بابا، پيرروښان کتابونه او د برتانوي نيواک تاريخ او د برتانوي سرکار او افغانانانو د جنګونو په هکله لوست وکؤ.

ميرزاعلي خان له پښتو سره سره په اورودوو او عربئ هم ښه پوهېدلؤ. په ١٩٢٨ کي هغه له سپلګي ايپي ته ولاړؤ چي د شمالي وزيرستان په ميرالي کي يو کلی دی . د يوه نېک او ديني وګړي په توګه هغه ته د کلي د يوې کوندې لخوا يو کور خوشی ورکړ شؤ. په ١٩٢٨ کي هغه حج وکؤ. کله چي راستون شؤ، نو يې نوم نور هم په چټکئ سره خپور شؤ. د هغه د نېکو ديني زدکړو او د وزيرستان او شاوخوا کي له غريبانو او شتمنو سره يو ډول چلند له کبله هغه د يوهٔ نېک مسلمان نوم دګټلؤ. له قبايلي سيمو، بندوبستي اولسواليو او افغانستان څخه به خلک درناوي ته ورته راتلل او دعا به يې ورڅخه غوښتله.

فقير ايپي په هند کي د برتانيي له سرکار سره او په قبايلي سيمو کي يې له سياسي ادارې سره چَپ (ناخوښ) ؤ . خو هغه تر ١٩٣٦ پوري په نيمه وچه کي د برتانوي سرکار په ضد لوی اولسي احتجاج څخه ګوښه پاته شؤ.

## ۳ ځپرکی

## د اسلام بي بي كشاله په هند كي د برتانوي سركار په ضد د فقير ايپي د جنګ پيلامه

اسلام بي بي يوه هيندوه نجلى وه. د هغې نوم رام كاور (رام كوري) ؤ. مور يې مانسا ديوي وه ، پلار يې ميوه رام ؤ او نيكه يې ميلاپ داس ؤ. ترۀ يې هرنام داس نوميدلۀ. رامكاور په يوۀ ځوان مسلمان سيد امير نورعلي شاه باندي مينه شوه. هغه په ۵ مارچ ۱۹۳۶ مسلمانه شوه له سيد امير نور علي شاه سره يې اسلامي نكاح وكوله. هغه يې هندو نوم رامكاور په نورجهان واړولۀ، چي يوه اسلامي نوم دی. له هغه وروسته ډېر ژر د هغې مور او ترۀ هرنامداس د ډومېل په تانې ته راپور وركړۀ. په راپور كي هغو وويل چي رامكاور لاتراوسه وړه ده او باليغه سوې نۀ ده؛ اميرنور علي شاه په زوره مسلمانه كړې ده؛ نوځكه، بايد هغه خپلې كورنۍ ته بېرته وركړ شي. محكمې (عدالت) پرېكړه وكوله چي هغه له نورعلي سره باته كېدلای شي.

د محكمې له پرېكړې وروسته د اسلام بي بي مور او خپلوانو د ډومېل تانې ته يو بل راپور وركړۀ او پكي يې وويل چي د هغو لومړنی راپور سم نۀ ؤ؛ هغوی له اميرعلي شاه څخه شكايت (ګيله) نۀ دی كړی چي له رامكاور سره يې وادۀ كړی دی. په دغه دوُوم راپور د يو څو اونيو لپاره د امير علي شاه لوی ولګېدلۀ (مطمين شؤ)، خو څرګنده نۀ وه چي دغه يوه لومه وه او كه ريښتيا ؤ. خو تر ډېرو داسي پاته نه شوه. كله چي هندوانو او سيكانو ته كشاله او د محكمې پرېكړه څرګنده شوه چي د نوعلي شاه پكي وَړ ؤ، نو يې په ښكاره احتجاج وكۀ او له هرنامداس سره يې د پرېكړې په ضد د پوره مرستې ژمنه وكوله.

هندوانو د مانسا له دوسيي څخه د نوعلي شاه او د هغه د خپلوانو په ضد يوه ګيله (عرض) جوړه كړه، ويل يې چي د دوی لور يې په زور تيښتولې ده؛ هغه كمكۍ ده او بايد بېرته خپلې مور ته وركړ شي. د بنو مرستيال كميشنر، جګړن كوب، له پايلو بې خبره، يوه ورځ د امير علي شاه كوچنی ورو امير عبدالله شاه خپل دوتر ته وروبللۀ او ورته ويې ويل چي جيلكۍ دي بېرته خپلې مور ته وركي. امير عبدالله شاه كور ته ولاړۀ. د جګړن كوب د وينا د منلو په ځای يې له خپل ورور سره په پټه تابيا وكوله چي دوی به لومړی هغه ګومبتي ته يوسي او وروسته به د سپينوام له لارې افغانستان ته واوړي. كله چي دوی ګومبتي ته ورسېدل نو ارباب عطاالله خان ،سي ای ډي انسپكټر، پرې ومنل چي په خپل كار باندي يوه ځل بيا چورت ووهي. هغه ورته وويل چي د سركار چارواكي لالمخه په دوی باندي خبر ول او ورته ويل شوي ول چي و مو نيسي او بېرته مو بنو ته وليږي.

دوی بېرته بنو ته ولاړل او افغانستان ته د نورو لارو په تكل كي شول. په بېلا بېلو لارو له چورت وهلو ورسته هغوی د ټانک او جنوبي وزيرستان لاره خوښه كړه. د سركاري چارواكو د تېرايستلو لپاره يې يو ټيكسي كرايه كۀ چي د يوۀ هندو ؤ. خو هغوی بريالي نۀ شول، ځكه چي سركاري چارواكي لالخه خبر ول او د بنو، ټانک او ډېره اسمايلخان ټولې لارې ګودرې يې نيولي وې. كله چي دو غوريواله تانې ته راورسېدل نو ونيول شول او بېرته بنو ته ولېږل شول. دغه هغه ځای ؤ كله چي له پوليس له نورجهانې څخه نوم و پوښتلۀ نو هغې خپل نو اسلام بي بي وروښودلۀ چي بيا يو تاريخ شؤ.

په بنو ليا کوم بل ځای کي له قانوني لاروچارو پرته، اسلام بي بي سيخه بند ته ولېږل شوه. د پيشي سپيناوی هسي ټوکي ؤ. د محکمي پريکړې هسي په انصاف باندې ملنډې وهلي. هغه ډاکټر چي اسلام بي بي به يې کتله او جوتوله به يې چي وخت وهلي ده کنه، يو هندو ؤ. لکه هيله چي کېدل، هندو ډاکټر د دغي خبرې ملاتړ وکړ چي هغه لا تراوسه کمکۍ ده او په ۶ مياشتو کي به يې وخت ووهي. مانا يو دغه وه چي تر دغه وخت لمخه هغه حق نهٔ لري د خپل وادهٔ پرېکړه پخپله وکوي.

په لومړي سر کي يې هغه خپلي کورنۍ ته و نهٔ لېږله. خپلي کورنۍ يا خپل قانوني مېړه ته د لېږلو په ځای مرستيال کميشنر جګړن کوب هغه انربري مجسټريټ ډاکټر سمندر شاه سينګ – يو سيک – ته په دغه شرط ورکړه چي کله هغه وخت ته ورسيږي نو بېرته به يې محکمي ته راولي. ځکه چي جګړن کوب او سمندر شاه دواړه د هندوانو ځرګند ملاتړي ول او هغه ډاکټر د دې د عمر راپور يې تيار کړ هم هندو ؤ، نو مسلمانانو دغه پرېکړه و نه منله.

کله چي يې دغه خبر واورېدلو چي جګړن کوب اسلام بي بي يوهٔ سيک ته ورکړه نو بنو خلک په جوماتونو، بازارونو او د ښار په منځنی ځلورلاره کي په ټولېدو شول. هغوی دسمندرشاه په کور ورولوښتل او ترې راجاروتل. له دې سره، زياتره سرکاري بنګلو، محکمو او دوترونو باندې يې بريدونه وکول. په پای کي، سرکار په بنو کي مارشل لا او کولپي (کرفيو) ولګوله. ان په دغسي سختئ هم کراري جوړه نه شوه. غال (تشدد) روان ؤ. د کراری د روستلو لپاره سرکار اسلام بي بي د سمندرشاه له کوره د يوه مسلمان، ملک تاج علي خان، کره بوتله. خو دا هسي يو لنډمهاله کار ؤ. چي ځنګه لږ کراري شوه نو سرکار د پوليسو يوه ټولی ورولېږلهٔ چي د شپي په تياره کي يې د تاج علی خان کور راتاو شول او اسلام بي بي يې د يوهٔ شتمن هندو کره چي بګی نومېدلؤ يوړه. هغه دا په خپل موټر کي د هند هوښيارپور ته يوړه.

کله چي يې اسلام بي بي په زوره هند ته وړه، نو نورشاه يې و نولؤ او په هريپور زندان کي يې بندي کړ. ځرګنده نه چي په بند کي له هغه سره څه ډول چلند وشؤ خو دغه ځرګنده ده چي کله هغه له بنده زاغلؤ نو زړهٔ يې مات شوی ؤ. د هغه عجب چلند په ډېرو ډَولونو بيانېدلای شي، خو ريښتيا دغه دي چي هغه له اسلام بي بي سره مينه کوله او هغه د هندوانو او سيکانو د يوې اوړپکي او ځان خوښي ډلي او سرکاري افسرانو لکه د وايسراې استازي جګړن ايولي کوب لخوا په زوره يوړل شوه. پخپله هغه د عجيه تورونو له کبله په هري پور کي په بند کي ؤ. يو تور دغه ؤ چي هغه د مانسا ديوي له کوره غلا کړې ده، چي هيڅکله زبات نهٔ شؤ. د ځايي خلکو له خولي، هغه په بنو کي ورک شؤ او بيا هيڅکله و نهٔ ليدل شؤ.

د هوښيارپور زندان ته د اسلام بي بي تر لېږلو وروسته په بنو کي هندوانوو سيکانو او برتانوي چارواکو دغسي وګڼله چي نور نو کيسه پای ته ورسېدله، خو دغه سمه نه وه. د اسلام بي بي هوښيارپور ته لېږل او د نورعلي شاه بندي کول د يوهٔ بم عوندي ؤ چي په چاودېدلو ؤ.

د مسلمانانو غبرګون له پامه غورځولو او د هغوی د ديني احساساتو سپکاوي، د سرکار لخوا د هندوانو او سيکانو په لوري د پرېکړې په بنو او شاوخوا سيمو کي مسلمانان راوبوړنول.

۱۹۳۶، د مارچ په پيل کي د سرکاري پريکړې په ضد د بنو خلکو ډېر لاريونونه او غونډې وکولي. دنورې مرستي لپاره هغو ټوچي ته ولاړل. هلته په ايدک کي يوه لويه جرګه جوړه شوه، چي د بنوڅو، مروتو، خټکو، او وزيرو ملکانواو ملايانو د اسلام بي بي په کشاله باندې ږغېدا وکوله. فقير ايپي هم هلته په اس باندې سپور راغلؤ او په جرګه کي يې برخه واخيستله.

خو په چپه يې د ټولو وراسه (خبرې) واورېدلې، خو پخپله يې د تودو خبرو په منځ کې هيڅ وَ نهٔ ويل. جرګه پای ته ورسېدله او د خبرداری يې ورکوٰ چې اسلام بي بي دي بی له کومه شرطه خوشې شي او بېرته دي نور علي شاه ته ورکړ شي. که سرکار د دوی غوښتنه وَ نهٔ منله نو په بنو او وزيرستان کې به هيڅ امن نهٔ وي. چې حاجی صاحب هيڅ هم و نهٔ ويل، نو ځينو ځوانانو د هغه په چوپتيا نيوکه وکوله – ولې هغه په دومره لويه خبره کې چوپ دی، د يوهٔ وزرګ په توګه هغه بايد په دغه پېښه بايد پرېشان وای.

خو کله چې د جرګې برخه وال په چيغو سر شول او په خپلو احساساتو سمبالولای نه شول، او ويل يې: راځئ! چې په بنو بريد وکو! او راځئ چې په بنو ورځو، نو حاجي صاحب خپله چوپتيا ماته کړه او خلکو ته يې وويل چې په بنو حمله وَ نهٔ کې ځکه چې له سرکار سره هر ډول درسته (وسله) وه او له قبايلو سره هيڅ درسته هم نهٔ وه. دغه به بيخي يو لېونتوب او تباهي وي که دوی بې درستي او بې تابيا په بنو باندي بريد وکي. دوی به ووژل شي او د پيسونو غوندي به حلال کړ شي. که دوی ريښتيا غواړي دچې وجنګېږي نو له کافرانو او سرکار سره دي جهاد وکوي. نو دوی ته پکار ده چې تياری وکوي، کني د خلکو د خندا به شي. د انګرېز غوندي زورَور سرکار سره جنګ کولو تياری او تابيا وخت ته اړتيا لري. هغه ورته وويل چې په ۱۹ اپرېل (۱۹۳۶) دي په ملک ازدار سره جرګه شي. په پای کې، برخَه والو د هغه منطقي وړانديزونه وَ منل او ژمنه يې وکوله چې په ټاکلې نېټه به ملک ازدار ته ورشي.

لکه وړاندی چې وويل شول، فقير ايپي په ايدک کې د جرګې د راپارولو برخه والو له کبله په هند کې د انګرېزي سرکار په ضد جهاد پيل نهٔ کوٰ. بلکې هغه د جرګې برخه وال وهڅول چې سمه تابيا او تياری وکوي. دلته ده خپل ځيرکوالی څرګند کوٰ چې په قبايلي روان (اروا) باندي او د بوړنېدنو او بې تولې جنګ په پايلو ډېر ښه پوهېدلوٰ. د هغه په چورت کې يوه سمه او اغېزمنه تګلاره وه، نه دا چې په هغو دوديزو بوړنېدنو پسې ولاړ شي چې قبايلي مشران يې د ننګ له کبله کوي، او چې زياتره يې پای شرم او تباهي وي. د هغو تر ټولو زيات زور په ځانګړې توګه د قبايلو، او په ګړده سره د ټولو مسلمانانو په يووالي باندي وٰ، چې د ګروهې، رنګ او ژبې له کوم توپيره پرته د شيطاني ځواکونو په وړاندي وجنګېږي.

د يووالي د پيدا کولو لپاره فقير ايپي اوږده مزلونه وکول، د بېلابېلو قومونو له مشرانو، ملايانو او نامتو کسانو سره يې وليدل، او بلنه يې ورکړه چې په هند کې د برتانوي سرکار په وړاندي جهاد وکوي. له مشرانو او ملايانو سره په خبرو کې به هغه نورو لويو خبرو سره سره په مشرئ باندي ډېر زور اچولوٰ. هغه په دغه ټکي باندي ډېر زور وکوٰ، په ځانګړې توګه کله چې د ملا پوندهٔ زوی ملا فضل الدين ليدلو ته ورغلوٰ چې يو څوک، ملا فضل الدين يا کوم بل څوک په هند کې د انګرېزانو په وړاندي د جهاد مشري وکوي. له ډېرې ږغېدا وروسته، ملا فضل الدين د هغه دا خبره ومنله چې لومړی يووالی او بيا د برتانوي ځواک په وړاندي دخدای په لاره کې جهاد.

نور مشران او ديني ستې چې دی يې ليدلو ته ورغلوٰ: نايب سالار (جنرال) موسا خان عبدالحی، جنرال رمضان خان مسود، پير ملا خان، انګور خان، دلباز خان احمدزی وزير، دين فقير بېټنی، د سوات ميا ګل، د دير او باجوړ نوابان، د کاربوغې ملا، د جلالاباد نقيب صاحب، د ګياخېلو زدرانو ملا صاحب، د تيرا، اورکزيو، ټل، خوست، تنيو او نورو قبايلي مشران. هر چېره، هغه يووالي او جهاد باندي زور اچولوٰ. هغه به ورته ويل چې دغه د خدای لخوا يوه ورکړه ده، پکار نهٔ ده چې له دوی څخه تېروتنه و شي.

چي د سوهېلي او شمالي وزيرستان، د جنوبي افغانستان کي تر جلالاباده، تيرا او نورو ځايونو کي د لويو مشرانو ملاتړ ترلاسه کړ، نو هغه بېرت ايپي کلي ته راستون شو. لکه په د ايدک په جرگې کي چي پرېکړه شوې وه چي بله جرگه به په ملک ازدر کي کيږي، چي له تپي کلي سره يوه هديره ده. د بنو، توچي، ميرانشا، دته خېل، رزمک، مکين، کړې او نورو ځايونو خلک ملک ازدر ته په راتلو شول. ډېر زيات جوش ؤ. ډولونه يې وهل، اتنونه يې کول او چيغې يې وهلې چي « راځئ! له موږ سره راځئ! نن د خوشحالئ ورځ ده! دغه د پښتنو (افغانانو) د ننګ او سلام د ساتلو ورځ ده»

په نړئ کي دغه خو يو دستور دی کله چي يو اولس سره راټوليږي او په يوه لوی ګای (خبره) ږغيږي، په تېره بيا د خپلواکئ، ګروهې، ننګ او درناوي، د مځکې او مال ساتنه، نو دوی د لاربنودانو يو داسي لاربنود غوره کوي چي سمه لاربنودنه يې وکي. په ملک ازدر کي هم بل ډول نهٔ وه. د اسلام بي بي د کشالي له څېړلو وروسته، دوی د يوهٔ لاربنود او د بېلابېلو ټېرونو د استازو په ټاکلو وږغېدل چي د ټاکل شوي لاربنود په مخکښئ کي کار سره وکوي. لکه د نورو جرګو غوندي، فقير ايپي دلته هم غلی ناست ؤ. څومره چي پکار ول تر هغه يې زيات هيڅ وَ نه ويل. هغه هرڅوک پرېښودل چي څه وَوايي. يوازي هغه وخت به يې يوڅه وَويل او يا به يې د بل چا وينا غوڅه کړه چي پوه به شؤ چي کيسه ورانيږي. ځکه چي هغه ډېر زغم لرلؤ او د يوهٔ مخکښ ټول خويونه يې لرل، نو په يوه خوله د ټولو پرګنو لاربنود و ټاکل شؤ.

له ټاکنې وروسته، د جرګې غړيو په هغه او نورو مشرانو باندي زور واچولؤ چي په سرکاري کلاوؤ باندي يرغل وکوي او په بنو باندي ورشي. خو هغه دوی ته د ايدک د جرگې غوندي يو ځل بيا وَ ويل چي بې له پوره تياري او تابيا به دغه کار ښه نهٔ وي. موږ بايد بيړه وَ نهٔ کو؛ موږ بايد لومړی خپل ځانونه چمتو کو او بيا په سرکاري کلاګانو، چامړيو او هغو ځايونو چي سرکاري ځواکونه پکښي پراتهٔ دي بريدونه وکو. سره له دې چي ډېر زيات جنګي جوش او خروش ؤ خو بيا هم جرګې په يووالي د فقير ايپي او نورو مشرانو خبره وَمنله. په بله وينا، د جرګې په يووالی وکړ چي تر هغو به وَګوري تر څو چي فقير ايپي او د هغه سلاکاران دوی ته لاربنوونه کوي.

دوه ورځې وروسته، لښکر *شکتوی* ته او بيا *خيسورهٔ* ته ولاړؤ. د خيلونو له مشرانو او ملايانو سره له ږغېدا وروسته فقير ايپي د کافرانو(د انګرېز سرکار او د هغه د منونکو) په وړاندي د جهاد ږغ وکړ. له انګرېزي پوځونو سره د جنګ لپاره هغه غرنی سيمې او تؤرې (ګوريلا جنګ) غوره کړې .

داسي ګومان کېدلؤ چي په جرګه کي به د سرکار څرکان (جاسوسان) وي. نو هغو له جرګې وروسته سرکار ته د جرګې ټول حال وسولؤ، لکه د لاربنود ټاکنه او نورې پرېکړې، او هم يې د غټو غټو برخه والو ټول کړهٔ وړهٔ ورته بيان کړل.

د بېلابېلو ټپالونو (راپورونو) د پخوالي لپاره د شمالي وزيرستان سياسي استازي (پولټيکل) د بنو د کميشنر په سلا، د توريخېلو وزيرو يو پلاوی فقير ايپي ته ورولېږلؤ. دوی ته وَويل شول چي هغه پوه کي چي شخې دي نهٔ جوړوي؛ ځکه چي برتانيه يو دغسي ځواک دی چي په وچه، لنده او هوا يې واکمني ده؛ که هغه شخې پيل کي او په سرکاري ځواکونو بريدونه وکي نو هغه او د هغه ملګري به تباه کړ شي.

پلاوي د سرکار پيغام ورکؤ او ورته ويې ويل چې سرکار هغه څه ورکوي چې وَ دی يې غواړي، لکه په بندوبستي سيمو کي مځکه، ملکي يا لوړ نوم، خو که هغه له سرکار سره مرسته وکي. هغه هر يو په ارامه واورېدلؤ او هر څه چي دوی وَويل په پام يې چورت ورباندي وکؤ، اوبيا يې دغه ځواب ورکؤ: دوی چي وايي چي د انګرېز باچهي دورمره زوروره ده چي په وچه، لنده او هوا يې واکمني ده، نو زه دومره درته وايم چي زه نۀ ترې وېرېږم، ځکه چي د وچې، لندې او هوا د واکمنی زور يو خدای لري نۀ د انګريي سرکار، ځکه زه او زما ملګري له غه دنيايي ځواک څخه نۀ وېرېږي، که هر څومره هغه زورور هم وي.

د سرکار لخوا په بندوبستي سيمو کي د مځکې، پيسو، ملکي يا بل نوم د ورکړې په هکله يې وَويل، دغه هم د منلو وړ نۀ دي، ځکه چي ماته مادي ګټې خوند نۀ راکوي. هرڅه چي حکومت ورکول د هغۀ پکار نۀ ول. لنډه دا چي سرکار دۀ ته هيڅ وړاندي کولای نۀ شول. هغه څه چي دۀ ته ګران ول هغه د هند انګريزي سرکار نۀ شول ورکولاي، يوازينی څيز چي د دۀ پکار ؤ هغه نياو (عدالت) ؤ.

کله چي فقير ايپي د هند د انګريزي سرکار ټولي بخښيني وَ نۀ منلي، نو په دۀ باندي د غلۀ، شوکمار او ياغي نومونه کښېښودل شول. هغۀ په سيمه کي د تش په نامۀ قانون او سوکالۍ دوښمن وَبلل شؤ. سرکاري چارواکو ته وَويل شول چي ژرترژه يې وَنيسي.

يوڅو ورځې وروسته چي هغه ايپي کلي ته ورغلؤ نو کلی انګرېزي ځواکونو کلابند کړی ؤ. هغوی هڅه وکوله چي دی وَنيسي، خو دۀ ګهيځ وختي د وزيرستان د نورو وګړو غوندي څادر اغوستی ؤ او تر دوی تېر شؤ. پوځيانو وَ نۀ درولؤ. کېدلای شي چي دوی به باور کړی نۀ وي چي دی به دومره زړَور وي چي په دوی باندي دي نېغ ورشي او تېر دي شي.

هغه سيخ خيسورۀ ته ولاړؤ او انګرېزي ځواکونو ته يې پيغام وروَلېږلؤ چي د کلي وګړي دي نۀ تنګوي ځکه چي دی له هغه ځايه تلل دی او دوی وَ نۀ نيولای شؤ. په پای کي په ايپي کلي کي د دۀ او نورو ملګرو کورونو يو ځای وَنړول. سرکار نۀ يوازي کورونه وران کړل بلکې په بنوڅي او دوړ يې د سرکار له کارونو لکه خاسه دار ځواک څخه بند کړل، چي دوی د فقير ايپي له هغه لښکر څخه راوَګرځوي چي د خدای، خپلواکی او ازادی لپاره جنګېږي. له دغه پېښو وروسته، فقير ايپي د پرګنو مشران ، چي خليفه ګان به يې بلل، د سلا لپاره راوَغوښتل. هغه خليفه ګان چي په دغه خورا درني جرګې کي يې د خپلو تومنونو استازيتوب کولؤ، نومونو يې په لاندي ډول دي:

| خليفه | تومن |
|---|---|
| ملا شېر علي خان | مسود وزير |
| پريماوالله خان | احمدزی وزير |
| مهردل خان | خټک |
| عبدالکريم | مومند |
| ګل زمورخان | باجوړ |
| ګل نواز خان | بنوڅي |
| سردار خان | مروت |
| سرمير خان | اورکزی |
| زمير خان | کوکيخېل اپريدی |

هغه کسان چي له ۱۹۳۶ تر ۱۹۳۷ پوري خليفه ګان شول، خونيخېل، مير احمد، شېرباز خان، شودي خېل، ګاګو ګلا جان، جنت مير، الم ګل، فقير محمد، اول مير، لطيف خان ول.

له اوږدې ږغېدا وروسته دوی د لاندي کارونو لپاره د مخکښانو په ټاکنو سره سَرَ (متفق) شول:

أ. د جګړې سرريشته، او د اړتيا په وخت کي د لښکر په شا کول؛
ب. لېږد، د لښکر لپاره د خوراک اخيستل او رسول. په ځينو وختونو کي به جنګيالانو خپل خوراکونه پخپله راوړل.
ت. تۆرې (ګوريلايي جنګ)

هغه بنوڅي او دوړ چي په خيسورۀ کي ول، سرکار ترې په کلکه وَغوښتل چي فقير ايپي پرېږدي او بېرته دي راشي، کني د دوی ملکې، خاسه داری او له سرکار سره د سړکونو تړونونه به مات کړ شي او په بندوبستي سيمو کي د دوی شتمنی به سرکار برمته کي. له دغه ګوتڅنډنې وروسته د دَوړو مشرانو يو پلاوی فقير ايپي ته وروَلېږلۀ چي په سرکار کي د خپلو کارونو او د خپل کمزوري ځای (جغرافيه) له کبله دوی نۀ شي کولای چي له سرکار سره جنګونه وکوي.

چي د دَوړو وراسه يې وَاورېدله نو يې ورته وَويل کوم کسان چي په سرکار کي کارونه لري هغوی بېرته کورو ته ستنېدلای شي. هغه وَويل که دوی (دَوړ) په لښکر کي وي او که نۀ وي، خو جهاد به روان وي. په دغه وخت کي، ډېری توري خېل وزيرو هم د دۀ ملاتړ نه کولۀ. جنرال جون کولريج په دغه لړ کي وايي « کله چي هغه (فقير ايپي) د دوړو لښکر پرېښودلۀ، چي د اسلام بي بي په کشاله سره راټول شوی ؤ، هغه دَوَړو ته په بېلېدلو او توري خېل وزيرو ته په نۀ ملاتړ ښېراوې وکولې.

خو، د سرکار او ځينو خپلو ملګرو له پرلپسې ګواښنو سره بيا هم هغه خپله لاره پرې نۀ ښودله.

په دغه ترڅ کي، هر چا چي به غازيانو ته ډوډۍ يا ځای ورکوٍ نو د سرکار له ګواښنو سره به مخامخ شۆ. د بېلګي په توګه، د سينخېل توريخېل کلي او د خيسورۀ توريخېل کلي مشرانو ته وَويل شول چي وَه دي تاسي په ځان که مو د حاجي صاحب يا د هغه ملګري مېلمانۀ کړل نو له بمبارۍ او سختو سزاؤ سره به مخامخ شئ. سياسي استازي (پوليټيکل) او نورو چارواکو ورته وَويل چي له هغه څخه ځان خلاص کئ او په خپله سيمه کي يې مۀ پرېږدئ چي وَاوسي.

د سرکار د دغو ګواښنو په غبرګون کي، توريخېلو ورته وَويل چي مېلمۀ پالنه د پښتولی له بنسټونو څخه ده نو ځکه کله چي يو مېلمه راشي نو دوی اړ دي چي درناوی وکي. دوی سرکار ته دغه هم وَويل چي فقير ايپي يو وزرګ سړی دی نوځکه خلک هغۀ او ملګرو ته يې مېلمستياوې کوي. هغۀ سرکار تۀ هيڅ ګواښنه نۀ جوړوي. له يو څو ديني کسانو پرته، هغه بله هيڅ لښکر نۀ لري. دغه لاملونه دي چي دوی د سرکار وَيل نۀ شي منلای، او ريښتيا هم دغسي وه، دوی د سرکار هيڅ وَيل نۀ منل.

د ۱۹۳۶ په ړومبۍ اونۍ کې فقير ايپي شکتوی، شام او کاري ووم ته ولاړ. هغهٔ ملا فضلدين، دين فقير او نورو کسانو ته بلنه ورکړه او له رزمک سره نيژدې درګۍ ته وخوځېدلۀ. کله چي د هغهٔ خېل تېر، زرينای توريخېلو وَاورېدل چي هغه کازمي ته راځي، نو يې پرېکړه وکوله دغه خو لوی شرم دی چي د هغوی خېل سړی کلی په کلی ګرځي. پرېکړه يې وکوله چي دوهٔ اوښان وروَليږي چي د دهٔ ټول سامان خېل کلي خيسورهٔ ته راوړي.

زارينای توريخېلو چي څه وکول، په دغه اړوند جنرل کولريج ليکلي دي: هغه دلته تر ډېرو تم نهٔ شو، مي ۱۱، ۱۹۳۶ د زارينای توريخېلو په بلنه هغهٔ بيچي بشکۍ ته ولاړ چي په کوز خيسورهٔ سيند باندي ده، هلته يې يو کور او مزدک جوړ کړل او د ستونزو په جوړولو په پوره توګه لګيا شو. خېل ورور، شېرزمان، يې تيار کړ چي د سرکار نوکري پرېږدي، او له هغه ورسته يې شی متې شو. په خيسورهٔ کي په زرينای کلي کي، ټولو به دهٔ ته کتل. له هغه لري پاته کېدل خو پرېږده، بلکې له وزيرستان، افغانستان او بندوبستي سيمو به ليکه ليکه اولسونه هغهٔ ته راروان ول.

اوس نو سرکار د توريخېلو ملکانو ته وَويل چي دوی دي هغهٔ له خپلي سيمي وَباسي، کني که دوی دغه کار وَ نهٔ کي نو له سختو سزاګانو سره به مخامخ شي. د توريخېلو د ملکانو ځواب چټک او څرګند ؤ: (ا) موږ به فقير ايپي له خپلي سيمو وَ نهٔ باسو، (ب) موږ په سرکاري ځواکونو باندي د فقير ايپي د لښکر د تاړاکونو پړه هم نهٔ منو. دوی سرکاره دغه هم وغوښتل چي د درو مياشتو لپاره دي خيسورهٔ ته هيڅ پوځي لېږد را لېږد نهٔ کوي چي له ستونزو خوندي پاته شي.

لکه وړاندي چي وَويل شول، له وزيرستانه او جنوبي افغانسانه تر جلال اباده پوري، اولسونه په پرلَپسي توګه فقيرايپي ته راروان ول. هغه د ټل غوندي ياغي ؤ او په پرلَپسي توګه به يې په غونډو کي ويل:

(أ) اسلام بي بي دي را ايله شي او خپل روا مېړه سيد علي نور شاه ته دي ورکړ شي.

(ب) په لاهور کي شهيدګنج مزدک دي بېرته مسلمانانو ته ورکړ شي.

د سرکار د سختو غوښتنو پای دغه شو چي حالت په چاودېدلو شو. فقير ايپي د سرکار په چپه وييناوي کولي او وَيل به يې چي جهاد يو روا کار دی تر څو چي يې غوښتني نهٔ وي منل شوي. سرکار هغهٔ يو غل، داړه مار او ياغي وبللو. اوس نو بس د وخت خبره وه چي کله به نيښته کيږي. تر نومبر ۲۵، ۱۹۳۶ وړاندي پرته له وړو شخو او سختي پروپيګنډې بل هيڅ نهٔ ول شوي. د مي له مياشتي راهيسي د فقير ايپي لښکر د تؤرې (ګوريلا جنګ) په زوزنه لګيا ؤ؛ لکه د جنت مير خان توريخېل د لښکر لپاره د خوراک راوړلو د مشر په توګه ګومارل، يا دغه چي هر څوک به له خپله کوره د لسو ورځو څوَری (خوراک) راوړي، او د هغو پوهانو ګومارل چي په تؤرې کي ښه روزل شوي ول.

يو څو ورځي وروسته تر ۲۵ نومبر ۱۹۳۶ وړاندي، د وزيرستان سياسي استازي، ښاغلي کريکټن، له خپل مرستيا ښاغلي ار. اين. بيټلي سره د وزيرستان په هلکه سلا وکوله. له ږغېدا وروسته دوی له مرستيا سياسي افسر، محمد نوازخان، څخه وغوښتل چي دوی ته د فقير ايپي د لښکر، هغه خلک چي له دهٔ سره تړاو لري، او د وزيرستان اړوند نورو پېښنو په هکله يو بشپړه راپور ورکي. يو څو ورځي پسته محمدنوازخان راپور تيار کړ:

(أ) دا ګړی له فقير ايپي سره هيڅ لښکر نشته

(ب) يوازي فقيرايپي دى او يو څو شيخان دي ورسره
(ت) زموږ لښکر بې له کومې ستونزې هلته تلاى شي او هغه نيولاى شي او دلته يې راوستلاى شي.

د محمدنوازخان له خځونکي ټپال (راپور) وروسته سياسي استازي رېزيډنټ کميشنر ته د وزيرستان د چارو او فقيرايپي په هکله ته مالومات ورکړل. له دغه وروسته، ريزيډنټ کميشنر پرېکړه وکوله چي په خيسورۀ يرغل وکي.

## څپرکى – ۴
## د خيسورۀ لومړۍ جګړه
## ۲۵ – ۲۷ نومبر ۱۹۳۶
## د انګريزي پوځ ماتيې او برم بايلنه

کله جي سرکار په هغو ټولو هڅو کي ناکامه شۀ چي په توريخېل وزيرو يې وَ مني چي فقير ايپي له خپلې سيمې وباسي او ليا يې له هغو کړۀ څخه وَ دروي چي هغه به کول، نو يې خيسورۀ ناوې (وادي) ته د دوۀ پوځي ټوليو د وَرلېږلو پرېکړه وکړه چي دغه لاندينۍ دوه موخې ترلاسه کي:

(أ) چي فقير ايپي وَ نيسي لکه د شمالي وزيرستان د پوليټيکل په راپور کي چي ويل شوي ول، او کمپ ته يې راوړي او ليا يې له خيسورۀ ناوې څخه وَ باسي.
(ب) چي خلکو ته وروَ ښيي چي سرکار څومره زورور دى او څومره پوځي ځواک لري.

دغه ټولى يې رزمک او ټوچي ټولى بللې. رزمک ټولى به له ډامډېل څخه پيل کولۀ او ټوچي به له ميرالي. دواړه ټولى به په بيچې کشکى سره يوځاى کېدلې، يوه شپه به هلته پاته کېدلې او په سبا به بېرته د پيل ځايونو ډامډېل او ميرالي ته تللې. د ډامډېل او بيچې کشکى تر منځ واټن ۱۲ ميله دى او له ميرالي څخه نيژدې پينځلس ميله دى. د سياسي استازي د راپور هکله ډګرمن کنډون وَ ليکل: سرکار د لږ خنډ اسره لرله خو دغه تشه يوه هيله شوه، په دغه هکله به وړاندي هم وَ ږغيږو.يوازي دغه نه چي دواړه ټولى له سخت ټکر سره مخامخ سوې، په ټوچي ټولى باندي بريدونه ډېر بريالي ول، په تېره بيا د پرګنو په اندچي ډېره زياته درسته يې نيولې وه، له همدغې ورځي راهيسي د فقير ايپي نوم د يوه سرکار دوښمن په توګه وَ ځلېدلۀ.

رزمک ټولى چي ډامډېله راروانه شوه مشري يې ډګرمن ايس مارشل سي بي، ډي ايس او، اوبي اي کوله. په هغه کي لومړى کنډک او ۱/۹ ګورکا رايفل هم ول چي يوه انګريزي سپکه ټوپخانه او دوه هندي غرنى ټوپخانې ورسرې ملې وې. ټوچي ټولى کي دوه هندي پلې کنډکونه ول او يوه د پروبين هاوس د پوځونو د ماشينګنې ډلګى وه. ورسره دوه غرنى سپرې او د ټوچي سکاږټ اتلس پلې پلټنې ملې وې.

د رزمک ټولۍ د خیسورۀ سیند غاړه واخیستله. د دغه سیند په نس کي ډبرې کنډې کپرې وې نو ځکه تګ ډېر ګران ؤ پکښي. په دغه کوچني سیند باندي پوربوتل او راپوریوتل ډېر اړین ؤ. په دواړې خواؤ یې وړې وړې غونډۍ وې چي په غنو او بوټو پټې وې چي په زرپېژۍ باندې یو تنګی ورڅخه جوړ شوی ؤ؛ دغه ځای نو بیچې کشکۍ ته په نیمه لاره کښې پروت ؤ. د سیند نس په دغه تنګي کښې یوازه پنځوس ګزه ارت دی.

د ټوچي ټولۍ لاره تر ډېره ځایه په خورا اسانه سیمه کښې وه، یوازي په د کاتیره سیند او غونډه تیږه لګډ تر منځ دغه لاره په غرنۍ سیمه تیرېږي. دغه لاره په هسنخېل، ایمرکي کلا، کاتیره سیند او جلېر لګډ باندي تیرېږي.

فقیر ایپي هم خوشی نهٔ ؤ ناست. هغه ته د سرکار د تابیا او په دغو لارو د پوځي رسالو د خوځښت پته وه. د اي. ډبلیو. جنرال ایلیټ له خولې: «ټوچي ټولۍ ته تېر ماښام خبر راورسېدلۀ چي جوړ به یې د پرمختک مخنیوی یې وشي، خو دوی ته وَ ویل شول چي د بریدونو تر پیل ښه وړاندي باید غرنۍ سیمې ته ځان وَ رسوي.

یو خاصَدار سوبیدا او توریخېل ملکانو چي له ټولۍ سره مله ول سکاوټ ته وَ ویل د غونډیو لمنې ګڼ شمېر توریخېلو نیولې دي.

فقیر ایپي پوهیدلۀ چي کله او څنګه له انګریزي پوځ او د هغه له شکومو سره جګړه وشي. لجاریانو (قبایلو) خو په پیدایشي توګه د درستې په چلولو ډېر ښه پوهېدل. هغوی ته له وړوکوالي د خپلو مشرانو لخوا چل ورښودل کیږي. فقیر ایپي هغوی په راوني توګه ډېر ښه تیار کړل د جګړې لپاره. نوځکه یې په دوښمن – پرنګیانو او د هغو شکومي - لاسبر ؤ. فقیر ایپي لښکر ته وَ ویل، که په جهاد، ننګ، مځکې او مال په ساتنه باندي ګروهه لرئ، نو تاسي به د کافرانو له ګولیو خوندي یئ. سي ایچ ټرینچ په دغه اړوند لیکي:
« هغه له مومنانو سره ژمنه وکوله چي له ګولیو او بمونو به خوندي وي، او که څوک وَ ویشتل شي نو ښکاره خبره ده چي ګروهه یې کمزورې ده»
رزمک ټولۍ سهار ۸ بجې رهي شۀ. لومړی د یوې ګڼتي لپاره شاهي سرحدي لوا د مخګښې ډلې او مورچلونو لپاره ځواکونه ورکړل؛ د ټوچي سکاوټ شپږ پلټنې له ټوپکو سره په څنډو رواني وې. کله چي زرپېژۍ تنګي ته راوَ رسېدل نو ساتونکو مخکښي په خپل لاس کښي واخیستله. په دغه ځای کښی لومړۍ ډزه ولګېدله، اوس نو جوته شوه چي په ارامه باندي برۍ تر لاسه کول هسي یو خوب ؤ. له دغه را وروسته د تیاره ماښامه د مخ، شا او څنګونو لخوا تاړاکي ډزونه روان ول.

د څنګلورو خزو (مورچو) بیان جون پریډرګاسټ، چی پاس په غونډۍ ټولۍ د کینې خوا یو افسر ؤ، دغسي کړی دی:
« د سکاوټ د ملاتیر، مخکښه ډله، چي ترشا راروانې لیوا ته یې په ناوه کښې لاره پاکوله، درنه مرګ ژوبله ولیدله. ما د میانه ټوپکو ژور ږغ او د خپلچلانده (اتومېټک) توپکو تېز غږونه اورېدلای شول او کله کله به پکښي زموږ د توپ غوړمب شۀ. یوه ښه مېله جوړه وه. چي ورځ په تېرودو شوه نو ږغ هم په کمېدو شۀ. زما مخامخ افسر ټوله ورځ له ترهونوکو ډزونو سره مخامخ ؤ. هغه یوه اوږده ورځ وه او لمر په مخ په لوړېدو ؤ. پرلّپسې ګرمي زیاتېدله او دومره شوه چي هګۍ دي په کاڼي باندي پخولای شوه، د تندې زما په بدن کښې په

 څرګندېد شوې. ما به ډېر په سپما خپلې اوبه غوړپولې، خو هغه هم دومره تودې شوې وې لکه چاى او نېغې به خولې شوې. »

«موږ په ناوه کښې ليوا ته په پيل کښې ښه لاس ورکوٚ، خو کله چې هغې په پاى کښې زموږ ساتنه پرېښودله او پخپله يې د ځان لپاره خزې وَ وهلې نو يې لاره ډېره اوږده شوه چې د ميرالي ليوا ته ځان وَ رسوي کومه چې له جنوبه راورانه وه. دغه ليوا چې په سمه کښې روانه وه زموږ د سپورو لخوا بررګه کېدله. دغه ليواګانې تر تيارې مخکښې د خوندي شپول په جوړولو کښې ناکامه شوې او ګڼې خزې دشپې خوشې پاته شوې. کله چې به جنګ نۀ ؤ نو لرې خزې جوړول او بيا ليوا لرې او ګړندي ګرځېدل يو بد خوى ؤ. ايلّجاريانو وَ کولاى شول چې په دغسې ځينو مورچو باندې ورشي او کله کله خو به يې ډېره بده ورځ جوړه کړه. »

«ماځيګر د سړک خواته په دوسلي کي خپلې کلا په شاکېدلو کي بريالي شوو. مخامخ څواک اړ ؤ چې تر ناوې پورېوځي او زموږ خواته راشي چې سړک ته يې لاره وشي او موږ به هغه په ګړنديو ډزونو خوندي ساتله. هغه بيخي په موږ پسې وه. بيا موږ د دوسشله په سړک چې پېچومى يې لرلؤ لوړ شوو. دغه د روژې د مياشتې يوه ټکنده توده ورځ وه او په سکاوټس باندې د ورځې د ابو چيښل حرام ول. دوى به خامخا د تندې سختې ګاللې وې. دوى ډېر ستومانه شوي ول او په مټکې يې زموږ. هغه زخميان چې سخت ګوزارونه يې خوړلي ول په تزکزو کي اخيستلاى شول.»

د ټوچي د لښکر ورځ نوره هم بده وه، د ليوا ټول کسان کاواکه شوي ول ، ځکه چې ۳/۷ راجپوت کنډک نوى رارسېدلى ؤ. لکه وړاندې چې وَ ويل شول توريخېل ملکانو او راې بانټلې، مرستيال سياسي استازي، له هغه خبرداري سره چې ستونزه خو به وي ځکه چې پرګنو هلته سنګرونه وهل، بريدمن هيڅ د دوى خبره وا نۀ ورېدله. د ټوچي سکاوټس ښاغلي واينرايټ وي. ايل. ايم چې جګړه يې په سترګو ليدلې وه، وَ ويل؛ « ما د مخکينيو کتارونو په ښىۍ زاويه له يوه ملا لرې ددرې ځلور سنګرونه وَ ليدل . له دغو سنګرونو په راجپوتانو باندې ډزونه کېدل، هغوى ډېر زړور ول خو ډېر نابلده ول نوځکه کوټې ورباندې جوړې شوې، د دوى د دوۀ مخکينيو ټوليو ټول انګريزي افسران وَوژل شول. »

د سيک رسالې سپاره ډله ډله ويشتل کېدل، خو تر ويشتلو وړاندې هغو ته د فقير ايپي يو ليک ورکړ شوٚ، چې پکښې ليکلي يې ول: « اې، د نيمې وچې اوسېدونکو! جګې جګې، ښېرته کور ستانه شئ! جګي له موږ مه جنګيږئ!. موږ له تاسي سره هيڅ نشته او نۀ له تاسي سره د جنګ کوم نيامت لرو. انګرېزان راپرېږدئ چې راسره وَ جنګيږي. پرې يې ږدئ چې رامخته شي. » له لوستلو وروسته، موږ ته وَ ويل شول چې سيک اوسرانو هغه هيسته واچولوٚ، او ويل يې: « موږ د فقير ايپي نوکران نۀ يو؛ موږ د هند د پرنګي سرکار نوکران يو.»

رزمک څواک چې په ۸:۳۰ بجو يې پيل کړى ؤ او يوه ګنټه وروسته په زرپېزۍ کښې جګړه لګېدله وه، د شپې ۲۱:۳۰ بجې بيچې کشکۍ ته راوَرسېدل. انګرېز پوځ له دغه سختې ماتې وروسته څه زدکړه وَ کوله، راځئ چې وَ ګورو چې جنرال کولريج، چې د جنګ يې ليدلى ؤ، په خپل بېخي پټ ټپال کښې څه وايي: «د پاى په بدرګې او هغو پوځيانو چې پرشاتګ يې کولوٚ ډوله ورځ له زبردستو ډزونو سره مخامخ ول، او د پرشاتګ په وخت کې دوښمن له نيژدې ورپسې ؤ. شالورې بدرګه ۱۷:۳۰ شيخ محمد زيارت ته وَ رسېدله او په ۱۸:۳۰ بجې له هغه ځايه درې ميله لرې په ډاکى کلي کښې وه. اوس نو بېخي تياره وه او سپوږمۍ په اوريځو کښې پټه شوه. د هغو پوځونو را ايستل ډېر ګران کار ؤ چې لا اوس هم په خزو کښې پراته ول؛ خو

د ځراغ، ږغ یا شپېلکي په کومک مو ټول پوځیان را وَ ایستل، که څه هم هر ځل چي ځراغ به وَ ځلېدلۀ نو خامخا به یو ډز ورباندي وَ شۀ.

که څه هم ټوچي کتار ته تېر ماښام ټپال ورکړ شوی ؤ چي پرمختګ به یې له خنډ سره مخامخ شي، بیا هم سهار په ۷:۰۰ بجې له میرالي څخه روان شۀ. کومندان ته وَ ویل شول چي فقیر ایپي خپلو کسانو ته ویلي دي چي ترهغو برید ورباندي وَ نۀ کي ترڅو چي جولر لګډ تر نۀ وي پوري وتلی. بیچي کیشکۍ ته د دوی لاره په موساکۍ هسنخېل او ایمرکۍ کلا تېرېدله. په مخکینۍ بدرګه کښي پروبین هارس، یوه ډلګۍ ۱/۱۷ ډوګره شالورې بدرګه وه، ۳/۷ راجپوت یې بېخي د ملا تیر ؤ. د ټوچي سکاوټس په ښۍ ډډه څلور توپچي پلټنې او په کیڼه ډډۀ یې دوه رسالې وې.

د دغه لپاره چي ړومبی لېږد کچرې، اوښان او اسونه تېر شیؤ، کتار له ۸:۳۰ تر ۹:۳۰ بجو لنډه دمه وَ کوله. یمه ګنټه وروسته په ۱۰:۰۰بجې د پروباین هارس په سرتېرو، چي کومندان هسي د سیمې د کتلو لپاره لېږلي ول، له نیژدې ۴۰ ګزه ډزړونه وشول . سړي او اسونه یې تاواني شول. ډېر ژر ورپسې له دواړو خواوۀ له غونډیو درانده او کره ډزونه پیل شول چي پوځیان یې اړایستل چي کومک وَ غواړي. هوایي ځواک یې کومک ته راوَ رسېدلۀ او د غازیانو په سنګرونو یې بمونه واچول، او له پوځیانو سره لویه مرسته وَ کوله. غازیانو یوڅه تاوان وَ لیدلۀ. له دغه وروسته نو جګړه په زور او شور پیل شوله. په ۱۲:۰۰ جګړن تیندل او تورن بوید وَ وژل شول. نو هم ډېر پوځیان وَوژل شول او زخمیان شول. 3/7 راجپوت په ټپه وردېدل او نور هیڅ مه مخ تلای نۀ شول. خو بیا هم په سخته جنګ هغوی ۳۵:۱۴ بجې جالر لګډ ته راوَ رسېدل. د غازیانو لخوا سخت مخنیوی کېدلۀ. راجپوت ډلګۍ نور زیانونه هم ولیدل او ټول افسران یې وَ وژل شول. خو ډلګۍ په مخ خوځېدله، خو کله چي یې تر کاتیره سیند پورېوتل نو تر سختو ډزونو لاندي راغله. خو بیا هم په مخ خوځېدله. په ۱۷:۴۵ بجې د جالر لګډ شمالي غاړې ته ورسېدله.. ټول ژوندي سرتیري، افسران، اربکیان او ځاروي هلته سره غونډ شول او بیا په ۱۹:۳۰ بجې په مخ روان شول.

اسمان شین ؤ او ښه سپینه سپوږمۍ وه. خو دغه د کومندان خوښه نۀ وه، ځکه چي د ده د ځواک ټول سړي او ځاروي له ورایه ځرګند ول او لښکر په اسانۍ په نخښه کولای شول. سره له دغه بیا هم د لیوا کومندان په تیت او پرک توګه ځواک ته د روانېدلو کومنده ورکړه.

د سرکار یو باوري ټپال وایي:
*«کله چي ځواک تر جالر لګډ تېر شؤنو له شۍ خوا برید ورباندي وَ شۀ او ورسره له شا لوري هم ډېر له نیژدې ډزونه ورباندي وَ شول. د لېږد برخې ته تاوان وَ رسېدلۀ، د رسالې اسونه او کچرې سره ګډې وډې شوې او د کتار له ړومبۍ برخې بېخي بېل شول. »*

دواړه کتارونه سره پرې شول. د سخت جنګ سره سره، سخت باداو باران یې یو بل سوب ؤ. د لیوا کومندان یو ځل بیا هڅه وَ کوله. هغه په هر نرخ بیچې بشکۍ ته رسېدل غوښتل نو ځکه یې نیمه شپه ۲۰:۳۰ بجې بیا هم په خوارۀ وارۀ تګ روان پاته شؤ. «ډېر ژر مخکینۍ بدرګه بېخي له نیژدې تر ډزونو لاندي راغله او اربکیان راپه شا شول. د ځواک له منځه هم ځینه کسان وَ ویشتل شول او ځاروي وَ ترهېدل، او په کتار راګډ شول. ډېره زیاته ګډوډي وه. » لکه واینرایټ چي وایي ، ډګرمن تر هغو هڅه کوله تر څو چي یې په دؤوم ځل خپل اس و ترهېدلۀ او ترې ولاړلۀ. دلته هغه هم پوه شۀ چي نور نو د وړاندي تګ هیڅ اسره نشته. هغه پرېکړه وَ

کوله چي په هغه ځای کښي شپه وَ کوي چرته چي هغوی ول؛ نیژدې نیم میل له جالر لګډ څخه.

په دغه بله ورځ، ۲۶ نومبر، یې کتار بې د رزمک کتار له کومکه په مخ وَ نهٔ شؤ خوځېدلای. ډګرمن ځینه کسان په هغو اسونو ، کارتوسو او نور څیزونو پسې وَ لېږل چي په ټېلماټېل او نورو ځایونو کښي ورک شوي ول، خو هیڅ هم په لاس ور نهٔ غلل.

له ډېر زیات تاوانه وروسته، په ځانګي توګه د توپکونو، کارتوسو، څاورویو او خوړو تاوان، په ۲۷ نومبر کتار د میرالي په لور د خوځېدلو تابیا وَ کوله. تر ډزونو وېرې او زغلونو لاندي ۱۸:۳۰ بجې میرالي ته راوَ رسېدل. واینرایټ چي هلته ؤ، وایي: « ما یوه په زړهٔپوري پېښه ولیدله. کله چي دؤومه جوپه راوَ رسېدله نو ډېرې چیغې وشوې، او یو سړی وَ رغښتلؤ او بېخي تسیا شؤ. دوهٔ تزکره وړونکی هغه ته لکه ګولی ورغلل. چي راپورته یې کؤ، په پښو یې وَ درولؤ نو پته وَ لګېدله چي هغه ویشتل شوی نهٔ ؤ هسي له ډاره یې غړي ښوی شوي ول. »

د درو ورځو په جګړه کښي د زیان شمېرې ښېلا ښېلې دي. سي سي ټرینچ وایي: « په درو ورځو کښي، د سکاوټس لسو پلټنو او د پوځ دوؤ توپچي شپږویشت کسان وَ وژل شول. او د پوځ دوؤ لیواؤ یو سل اوه کسان وَ وژل شول».

## وژل شوي:

انګریزي افسران ۲؛ جګړن جې. بي. پي. سیکومبې رایف؛ جګړن جې. ډبلیو. بي ټینډلر، ۳/۷ راجپوت ار؛

| | |
|---|---|
| بی او ار: | یو |
| هندي او ار | ۱۳ |
| چپراسیان | یو |
| ټوچي سکاوټس (اربکیان) | ۷ |

## ټپیان:

انګریز افسران: ۴؛ تورن ایف. ایل. بوید ۳/۷ راجپوت ار؛ تورن ار ار فیلیف ۳/۷ راجپوت ار؛ بریدمن ډبلیو. جې. فلیچر درېیمه سپکه بیټری، تورن جې. ار. ایچ. پیکاک ۶/۱۳ ایف ایف. رایفل.

| | |
|---|---|
| بي او ار | ۱۳ |
| د وایسراې د کمیشنر افسران | ۳ |
| هندي او ار | ۷۱ |
| ټوچي اربکیان | ۱۶ |

د غازیانو د سر زیان ۴۱ ؤ او ۳۲ کاري ټپیان شوي ول. د خیسورهٔ په لومړۍ جګړې پوري ډګرمن ډبلیو. اي. ایچ کونډن، او. بي. اي. لیکي: «دغه جګړه په پوله باندي زموږ د ځواکونو لپاره یوه سخته ناکامي وه، او لکه پخوا چي وَ ویل شول له فقیرایپي یې یو مخکښ جوړ کؤ او د ډېرو کلونو لپاره یې په وزیریستان کښي د ستوزو جوړولو جوګه کؤ.»

## ۵ – څپرکی

## نومبر ۲۸، د انګرېزي پوځ د برم په ځای کولو لپاره د خیسورۀ دؤومه جګړه، یو بې ګټې کار

د انګرېزي پوځ له ناکاره ماتې وروسته، په بنو، دېره اسمایل خان او نورو بندوبستي سیمو کښې له ناورینه د بچ کېدلو لپاره سرکار ته پکار وه چې ډېر ژر یې یو څه کړي وای. له ماتې وروسته د سخت هڅو د کولو دري موخې وې:

١ د بندوبستي سیمو اوسېدونکو ته باور ورکول چې دوی به خوندي او ساتلي وي.
٢ توریخېل او نورو ټبرنو ته سزا ورکول چې په جګړه کښې یې برخه اخیستې وه.
٣ له خیسورۀ څخه د فقیر ایپي ایستل.

د خیسورۀ دؤومه جګړه په دوؤ پړاونو کښې پیل شوله. جنرال سر جان کولریج د تابیا شوې جګړې واک په لاس کښې واخیستلؤ. ځینه د قربانۍ وزې یې کور ته وَ لېږلې. یو له هغو کسانو چې هرومرو ګوښه کړ شول، محمد نواز خان ؤ. په هغه تؤر ؤ چې سرکار ته یې د حاجي صاحب د غازیانو د ځواک ناکره ټپالونه ورکړي ول.

د شمالي پوځ مشر جنرال کولریج ته یې سیاسي او پوځي دواړه واکونه ورکړل. په شمالي او جنوبي وزیریستان کښې مېشتو انګریزي پوځ او اربکیانو سربېره یې هغه ته د ۲ راولپنډۍ ډویژن وړو ټانکونو یوه ټولۍ او دوه غرنۍ بیټرۍ هم ورکړې.

جنرال کولریج یوه تګلاره جوړه کړه چې دوه پړاوه یې لرل: (ا) یو سړک له میرالي تر خیسورۀ او بل له میرالي تر ټوچي کمپ پورې جوړول. (ب) د خیسورۀ او شاوخوا سیمو د اؤسېدونکو د ټولو بازارونو کورونو او نورو څیزونو ورانول. د دغه پړاو موخه د کوز خیسورۀ له ناوې څخه د غازیانو ایستل ول.

### د تګلارې لومړی پړاو

په میرالي – خیسورۀ سړک باندي په ۳۰ نومبر ۱۹۳۷ کار پیل شؤ. په ۲۱ دسمبر سړک خیسورۀ سیند ته رسېدلی ؤ. میرالي – ټوچي کمپ سړک هم ماشیني لېږد ته برابر ؤ. جنرال کولریج توریخېل وزیرو ته د سزا ورکولو هوډ کړی ؤ. د خیسورۀ ناوې او شاوخوا اسېدونکي دوښمنان وَ بلل شول. شاهي هوایي ځواک ته وَ ویل شول چې په مځکه باندي هر خوځېدونکی بمباري کي. شاهي هوایي ځواک پاڼې وَ شیندلې چې د راتلونکي هوایي برید خبرداری ؤ پکښې. د خیسورۀ خلکو خپل ماشومان او ښځې خوندي ځایونو ته یووړل.

کله چې هوایي بریدونه کېدل نو غازیانو په سرکاري ځواکونو بریدونه نهٔ کول، خو د هغې لارې پولونه یې ورانول چې خیسورۀ ته تللې وه.

دا چې لښکر هیڅ جګړه نهٔ کوله نو انګریزي پوځ چورت وَ وهلؤ چې فقیرایپي د زورَور پوځ له ډاره له جګړې لاس اخیستي دي. خو بیاهم، شاهي هوایي ځواک په کلیو باندي بمباري روانه وساتله او پوځ ښارونه سوزول او د حاجي صاحب د نامتو ملګرو برجونه او کورونه یې ورانول.

خو دغه چورت چې په خلک کي د حاجي صاحب مینه په کمېدلو ده سمه نه وه. د خیسورۀ له لومړۍ جګړې راهیسي په سلګونو وګړي د غازیانو په لښکر ګډېدل. د دغو نویو غازیانو

ډېرى امدزي وزير ول. څدراڼ، تني، توريخېل او مسود هم په لښکر ګډېدل. پوځي ټپالونه وايي چي په دوی کي په درو کي د يوې برخي هيڅ درسته نۀ لرله. دوی هيله لرله چي په راتلونکي جګړه کي به له برتانوي پوځ څخه وسله يوسي. خو دوی ته انتظار په کار ؤ. دوي چورت وهلۀ چي بله جګړه به ډېر ژر وي، خو حاجي صاحب نۀ پرېښودل چي بي له سمي تابيا په برتانوي پوځونو بريد وَ کوي. تر ۱۴ دسمبر پوري هغه د وزيريستان، افغانستان او بندوبستي سيمو له وګړو غوښتل چي د هند د پرنګي سرکار په چپه سره يو شي او درسته واخلي. هغه دوی ته وَ ويل چي روژې او اختر وروسته سره غونډ شي. سرکاري ټپالونه وايي چي ملا فضل الدين يي غوښتنه وَ نۀ منله، او ډېرو ملايانو د اختر په دستورو کي له پرګنو وغوښتل چي له هغه څخه دي لرې اوسي. خو بيا هم هغه ډېر درناوی او ملاتړ لرلۀ ځکه چي هغه په خپلو موخو باندي ښخي کلک ولاړ ؤ.

په دغه وخت کي سرکار يوه ډله توريخېل ملکان حاجي صاحب ته ور وَ لېږل چي له سرکار سره د جوړ جاړي په ګټو يي پوه کي. د حاجي صاحب خپلي پښي، زاريني توريخېلو، د هند له پرنګي سرکار سره هر ډول تماس څخه نټه (انکار) وَ کۀ. ټپالونه وايي چي حاجي صاحب ملکانو ته دغه لاندي غبرګون وَ ويلۀ:

*«فقير ملکانو ته وَ ويل چي دوی له سرکار سره په هر ډول تړون کولو کي ازاد دي، خو دی به تر هغو دغسي وَ نۀ کي ترڅو چي سرکار په ديني چارو کي د نۀ لاسوهلو ژمنه لاسليک کړې نۀ وي .»*

په ۲۱ او ۲۲ دسمبر برتانوي پوځ د کورونو او برجونو په نړولو اخته وه، او ورسره يي فقير ايپي لټولو. هغوی دی هرچېري ولټولۀ خو وَ يي نۀ موندلۀ. يو ټپال وايي چي يو ځل هغه يوه ځايه ايله اوس وتلی ؤ چي برتانوي پوځ ورته راغلۀ. لا اوس هم له هغه کوره لوګی ختلۀ خو پخپله د هغه هيڅ پته نۀ وه.

د جنرال کولريج دغه انګېرنه چي حاجي صاحب اغېز بايلي، سمه نۀ وه. حاجي صاحب همځ کله له خپلي موخي لاس اخيستی نۀ ؤ. د هغه د غازيانو لښکر خوشي ناست نۀ ؤ. هغوی د پوځ خوځښت څارلۀ او انجام يي په پوځ باندي د بريد کولو لپاره د ډاکې کلي په سوهېل کښې يو ځای تر ټولو غوره وَ بللۀ. په ۲۲ دسمبر غازيانو په ۲/۲ پنجاب رجمېنټ باندي تاړاک وَ کۀ. درندو او کره ډزونو پوځ خورا پرېشانه کۀ. د هېښتيا وړ ده چي د ليوا کومندان لا پخوا ويلي ول چي په دغه ځای کښې يي پوځ له مخنيوي سره مخامخ کېدلای شي، خو بيا يي هم کوم ځانګړی تياری نۀ ؤ نيولی. خو اوس د هغه لپاره ډېره ناوخته وه. سرتېرو په هغه د ښېړنې مرستي ږغ وَ کولۀ او د نور پوځ غوښتنه يي ورڅخه وَ کوله، ځکه چي نيژدې سل غازيان ورباندي درروان ول. هغو په شاکېدلای هم نۀ شول. خو اوس د ۲/۲ پنجاب رجمېنټ د جګړن ويليم او سرتېرو لپاره ډېر ځنډ شوی ؤ. ترڅو چي نور پوځ رارسېدلۀ دوی ټول وَ وژل شول.

د پاته ۲/۲ پنجاب رجمېنټ بچ کولو لپاره، کومندان ۲/۱۱ سيک رجمېنټ او دوه بيټرۍ ور وَ لېږلي له هوايي ځواک يي هم مرسته وَ غوښتله. هوايي ځواک له ۱۴:۱۵ تر ۱۷:۳۵ پرلپسې د غازيانو سنګرونه ويشتل. خوله هوايي او ځمکنيو بريدونو سره بيا هم برتانوي پوځ بريالی نۀ شۀ چي د جګړن ويليم او نورو سرتېرو مړي راوَ باسي چي په ۱۶:۴۰ بجې په جګړې کښې وژل شوي ول.

بيچي کشکې ته د رسېدلو د پخوانيو هڅو ناکامي لا اوس هم د ناتار دکومندان په ياد کښې تازه وه نو يي د خيسورۀ کمپ ته د بېرته ګرځېدلو په ځای په بيچي کشکې کي د وانده کېدلو پرېکړه

وَ کوله، ځکه چي هلته د ورځې رسېدل څو ګنټې غوښتلې.  په بله وينا، هغه د تېر په څېر يو ځل بيا د ۲۵ نومبر د بودګانو او انسانانو ټېلماتې نهٔ غوښتلؤ .

په ۲۲ دسمبر په رزمک ليوا باندي هم د زرپېزۍ په ختيځ کي په غونډيو کي بريد وَ شؤ کله چي هغه ډمډېل ته په لاره ؤ.  مګر هوايي ځواک د غازيانو سنګرونه وَ ويشتل او توپخانې او ماشينګنو يې ساتنه کوله نو ځکه د ډمډېل په لوري يې پرمختګ وَ کؤ. غازيانو ته ډېر تاوانونونه ور واوښتل نو ځکه  نور په پوځ پسې نهٔ ولاړل.

له زرپېزۍ وروسته ليوا د نورو بريدونو هليه کوله نو ځکه يې له ټوچي سکاوټس او هوايي ځواک څخه مرسته وَ غوښتله.  د غديو له وېرې کومندان غوښتل چي ژرترژره تر ناوې پورېوځي.  هوايي ځواک پرلپسې ليوا تر نېمرې (ګوَر) لاندي نيولی وه چي ډامډېل ته يې وَ رسوي.  ماسپښين هوايي ځواک د غازيانو دوه ډلې تر بريد لاندي وَ نيولې.  دغه ببګټې غدۍ هغه وخت انجام ته وَ رسېدلؤ کله چي په ۱۷:۴۵ ليوا ډامډېل ته وَ رسېدله. په ۲۲ دسمبر د سر تاوان په لانديني ډول ؤ:

وژل شوي:

د ۲/۲ پنجاب رجمېنټ پرنګی افسر جګړن ويليم

| | |
|---|---|
| نور سرتيري: | ۴۱ |
| غازيان: | ۲۱ |

ټپيان:

| | |
|---|---|
| برتانوي افسر: | ۱ |
| انګرېزي سرتيري: | ۳ |
| هندي سرتيري: | ۹ |
| غازيان (کاري ټپيان): | ۲۱ |

په ۲۲ دسمبر د شپې  زارېنۍ توريخېلو د بيچي کشکۍ په اډې بريد وَ کؤ. په غبرګون کي پوځ په ۲۳ دسمبر يو څو کورونه او برجونه وران کړل.

پوځ درې ورځې دوه (يو ګهيځ او بل ماځيګر) د ځارنې الوتنې کولې چي په سيمه کښې نااشنا تګ راتګ وَ ځاري، په تېره په مداخېلو او مسودو کښې.

د تګلارې دؤوم  پړاو

دؤوم پړام له کوز خيسورۀ څخه د غازيانو په ايستلو پيل شؤ.  د دغې موخې لپاره جنرال کولريج يوه سراسري  تګلاره جوړه کړه.  هغه د پوځ کومندانانو ته وَ ويل چي د توريخېلو تر ارامولو وروسته دي  رزمک ليوا ببرته رزمک ته وَ ګرځي او د بنو هغه دي ميرالي جالر ته ولاړه شي.  بل وړانديز يې دغه ؤ:  له بنو څخه د خيسورۀ توی په غاړه د سين تنګي، نرمه خېل، خاسه دار  په لاره تر درې غونډيو پوره ۸ ميله نوی سړک جوړول. په ۲۳ دسمبر په نوي سړک باندي کار پيل شؤ.

کله چي جنرال کولريج ته ځرګنده شوه چي حاجي صاحب ميرزا علي خان تر دهٔ ځالاک او ښه جنګپوه دی نو يې د غازيانو د ماتې او تباهي خوبونه پرېښودل.  په سر کښې يې چورت وهلؤ چي غازيان وَ هڅوي چي بنو ته نيژدې سمې ته راکښې باسي چي د ټانکونو او زغره والو

موټرونو لپاره ډېره ښه وه، هلته يې راګير کي او د تل لپاره يې کار ور وَ کوي؛ او هند د انګرېزي سرکار د يوۀ دوښمن ته د ماتې ورکولو نوم وَ ګټي. خو دغسې وَ نۀ شول. د ميرزاعلي خان غازيانو ته د ماتې ورکولۀ په ځای هغه د خپلو وژل شويو افسرانو د مړيو د را ايستلو جوګه هم نه ؤ. هغه د توريخېلو په سيمه کښې پاتې وَ شيندلې، چې هغوی ته يې پکښې په ۲۹ دسمبر په ميرالي کښې د يوې جرګې بلنه ورکړې وه. هغه غوښتل چې د دوی چلند ځان ته څرګنده کي او هيله يې لرله چې د دوی دغه چلند له سرکار سره نور (بدل) کي. په ۲۹ دسمبر جرګه وَ شوه، پکښې د سرکار غاړې منداړ (ډزبندي) وَ منلۀ چې د خيسورۀ ناوې په اوسېدونکو به له ۲۹ دسمبره تر ۷ جنورۍ هيڅ بريد نۀ کوي او نۀ به چا ته سزا ورکوي. په ۵ جنورۍ د يوې بلې جرګې وړانديز هم وَ شؤ.

په دغه وخت کښې هيڅ ډول بريد وَ نۀ شؤ، خو د سړک رغونه روانه وه. حاجي صاحب د مسودو سيمې شکتوی ته تللی ؤ، په ۱۰ دسمبر بېرته ارسلاکوټ ته راستون شؤ چې له زرپېزۍ څخه ۱۰ ميله لرې د توريخېلو يو کلی دی. هغه د سرکار په نيامت (نيت) ښه پوهېدلؤ او توريخېل ملکانو ته يې وَ ويل چې په جرګې کښې دې برخه نۀ اخلي. هغه وَ ويل: «هيڅ اړتيا نشته چې سرکار ته له خيسورۀ څخه د وتلو زارۍ وَ کو؛ موږ به پوځونه له خيسورۀ څخه وتلو ته اړ باسو. که خدای کول، زه باور لرم،موږ به د کافرانو پوځ ته ماته ورکو. له جنوبي وزيريستانه مسود او وزير او له افغانستانه ټول پرګنې ډېر ژر په رارسېدلو دي او موږ به ژرترژره خپل بريدونه بيا پيل کو.» هغه دوی ته وَ ويل چې په پوځ باندې يو بريد اوس اوس په کېدلؤ دی ، او که اړتيا وه، نو دی به پخپله د شپې په تياره کښې د غدۍ مخکښي وَ کوي.

د دۀ له دغې وينا وروسته ډېر ژر د دۀ يوه ډېر نيژدې ملګري افضل مير، هيبتي توريخېل د شام، په ۵ جنورۍ ۱۹۳۷ شپه له جالر کمپ سره جوخت د درو سوؤ کسانو يو ځواک د بريد لپاره راغونډ کؤ.

سواليخ داد ځدران او د حاجي صاحب پخواني ښؤونکي نقيب صاحب په څرګنده د انګريې په چپه د حاجي صاحب ملاتړ وَ کؤ او له افغانانو يې وَ غوښتل چې په جنګ کښې برخه واخلي. د خوست ګوربزو، تنيو، ځدرانو، منګلو، د برمل امدزيو او اوتمانيو وزيرو او برمل ته نيژدې د زرمېلنې خروټول هم د حاجي صاحب د کار ملاتړ وَ کولؤ.

««« لکه برتانوي سرچينو چې پخلی کړی دی، دوښمن ته به هغه خوراکونه رسېدل چې د توريخېلو په کليو کښې يې ښخ کړي ول او له بنو به د شکتوی په لاره د اوښانو بارونه ورته راتلل. دغه کارونه د فقير ايپي او د شام د جنت مير هيبتي توريخېل په نغوته کېدل چې د ازل مير غوندي د فقير ايپي يو بل ملاتړی ؤ.»»» له بنو او نورو ولسواليو څخه د پرلپسې د خوراکي ملاتړ سربېره غازيانو به خپل سوري هم راوړل چې لړترلړه دوؤلس ورځو لپاره به بس ؤ. يو څه پيسې به ښځو خپلې ګېڼې (زېور) خرڅې کړې، هګۍ، او د اختر د قربانۍ له پوستونو راتلې.

کله چې د جنرال کولريج ټول لارې چارې ناکامه شوې، نو يې د توريخېلو د کلي له څېرمې بمباري کړل چې خپله خبره پرې وَ مني. خو په دغه توګه يې هم خپله موخه وَ نه ګټله. جنرال له توريخېلو او نورو خلګو وَ غوښتل چې غازيان له خپلو کليو وَ باسي. هغوی وَ نه منله. هغوی د ۲۹ دسمبر په جرګې کښې سرکار ته وَ ويل چې دوی به هيڅکله فقير ايپي او غازيان له خيسورۀ ناوې څخه وَ نۀ باسي. دغه د دوی دنده خو نۀ ده چې د سرکار له دوښمنانو سره وَ جنګيږي – هغه سرکار چې بېګناه خلک يې په کليو کښې بمباري کړي دي.

تر ۸ جنورئ په پرتليزه توګه ارامي وه، او هيڅ لويه پېښه وَ نهٔ شوه. په ۸ جنورئ انګرېزانو او شکوميو – سيکانو او هندوانو – او سکاوټ په يوه کلي ډزه پيل کړه چي پکې نهه کسان مړه او شپږ ژوبل شول.

د سرکار پېټ ټپال په دغه اړوند وايي:
»»» د ډزو موخه په کلي په وګړو کښي وېره پيدا کول وه. پوځيان په هغه ډېر خوښ ول چي دوئ وَ کول. خو په دا بله ورځ د غازيانو غبرګون ډېر چټک ؤ. هغوئ په پوځيانو تاړاک وَ کړ، چي ډېر سخت ؤ. کله چي د غازيانو يوې ډلې د پوځيانو په سنګرونو ډزونو کول، يوه بله ډله د ډزونو تر چتر لاند په پوځيانو ور روان وه. هغو ورو ورو رانيژدې کېدل ترڅو دومره رانيژدې شول چي نور يې نو د ماشينګنو ډز نهٔ شو وربانډ کولای، ځکه چي د دوئ خپل ملګري پکښي وژل کېدل. پوځيانو هوايي ځواک ته د مرستې وَ ويل. په غازيانو يې بمباري وَ کړه خو بيا يې هم له پوځيانو څخه په لرې کولو کښي پاته راغلل. پوځيان ښورېدلای نهٔ شول او اړ ول چي همهلته شپه تېره کي. دوئ د نېمرې دېوال جوړ نهٔ کړای شؤ ځکه چي غازيانو کره ډزونه وربانډي کول. نيژدې په ۱۸:۰۰ بجې، چي ښه تياره شوه، پوځيانو هڅه وَ کوله چي نيژدې سره راغونډ شي، خو غازيان ورپسي شول. غازيان به چيغې وهلې او په پوځيانو به يې ډزونه کول، په دغه به هرومر تر هه پيدا کېدله. په ۱۹:۳۰ غازيونو هڅه وَ کوله چي په سنګرونو ور وَ دانګي او ټولي زېرمې هم ولکه کي. په ۲۰:۳۰ يې ځل بيا پرې د وردانګلو هڅه وَ کوله خو د لاسي بمونو په زور په شا وَ تمبول شول. په پای کښي پر شا شول. نو د دغې نښتې په پايله کښي، ټولی ته ، چي په کلي کښي د ترهې د خپرولو لپاره کړې وه، خپل تېرى او ناپوهي د ۱۴ مړيو او ۸ ژوبلو ادا کولو پرېوتله.»»»

کله چي جنرال کولريج پوه شؤ چي خيسورهٔ ته راتګ د هوښيارئ کار نهٔ ؤ او دی جګړه نهٔ شي ګټلای نو يې يوه پلمه وَ لټوله. هغه د توريخېلو، مداخېلو او مسودو يوه جرګه وَروَبلله او ورڅخه وَ يې غوښتل چي غازيانو ته په خپلو کليو کښي ځای ور نهٔ کي. د جرګې برخه والو، که څه هم په زارئ، سرکار ته وَ ويل چي دوئ غازيان په خپلو کليو کښي له پنا اخيستلو نهٔ شي بندولای. او د سرکار دغې غوښتني ته چي هغه توپک او کارتوس چي له پوځ څخه په لومړي جنګ کښي اخيستل شوي دي ، په ځواب کښي دوئ ورته وَ ويل چي دغه يو ناشونی کار دی. په هرډول، لکه جنرال کولريج چي يوه پلمه لټوله چي له خيسورهٔ ناوې څخه ژرترژره بېرته ستون شي، نو يې خپل ځان ته مبارکي وَ ويله او په جرګه کښي يې د ملکانو بخښنه يې وَ منله چي ګواکې د دهٔ غوښتنې يې وَ منلې.

کوم توپکونه چي غازيانو وړي ول بېرته ورکول يې ناشونی ؤ، خو سرکار ډاډهٔ ؤ چي د پخوانيو تېروتنو او بدو کارونو په بدل کښي به د مداخېلو توپکونه زورکې يوسي. مسودو هم يو څو په ځايي توګه جوړ کړ سوي توپکونه ورکړل ځکه چي ملک خونياخېل د حاجي صاحب او د سرکار په چپه د غزا ملاتړ کړی ؤ. په خيسورهٔ ناوې کښي بې د کورونو او برجونو د نړولو او سوزولو جنرال کولريج له بري پرته خپل پوځي ځواکونه رزمک او بنو ته په شا کړل. وروسته ډېر ژر په لومړئ فبروري ۱۹۳۷ دهٔ سياسي واک د په صوبه سرحد کښي د ګورنر جنرل استازي ته وَ سپارلؤ .

۶ – څپرکی

د تورن جي. سي. کيوغ ، بريدمن ار. اين. بيټي وژنه د غازيانو لخوا، او د وزيريستان اولس ته د ګورنر جنرل کننګهم وينا

۱۹۳۷

له ۱۸ جنورۍ د فبرورۍ تر پيله، په وزيريستان کښي پرتليزه ارامي وه. خو دغه د حاجي صاحب د ناروغۍ له کبله وه. هغه چي ناروغ ؤ، نو سرکار مداخېل هيبتي توريخېل ملکانو ته وَ ويل چي له خپل ځای، ارسلکوټ، څخه دي وَ باسي، او که دوی يې نۀ شي ايستلای، نو بيا دي د هغه کارونو پړه وَ مني.

ارسلکوټ له يوې مياشتي راهيسي هره ورځ بمباري کېدلۀ. نو له بمبارۍ د بچ کېدلو لپاره مداخېل هيبتي توريخېل ملکانو سرکار ته وَ ويل چي حاجي صاحب هغوی ته ويلي دي چي دی هغه ټولي خبرې مني چي دوی له سرکار سره منلي وې، او دا ګړۍ به ستونزې نۀ جوړوي.

خو رښتيا دغه ده چي پرتليزه ارامي تر شلو ورځو زياته پاته نۀ شوه. ليوا لا خپل پخوانی زور نۀ ؤ پيدا کړی چي بريدونه بيا پيل شول. بېخي د فبرورۍ له سره ورځ په خرابېدلو شوه. لکه برتانوي افسرانو چي يې پخلی کړی ؤ، دغه ټوله د فقير ايپي د سختې پروپيګنډې له لاسه وه چي په سرکار پسې يې کوله. هغه د اسلام بي بي راسندۀ او بېرته خپل مېړه ته ورکړه غوښتله او سرکار ته يې ويل چي په ديني چارو کښي به لاسوهنه نۀ کوي. سرکا ر بيا د دۀ غوښتنو اورېدلو په ځای له بنو څخه راولپنډۍ ته د پوځونو په شاکېدۀ وَ درول او له بندوبستي سيمو يې تازه دم پوځونه يې وزيريستان ته راپيل کړل. لکه د ايبټ اباد ليوا، دوه غرنۍ بېټرۍ او سپک ټانکونه او داسي نور.

د نورو تازه دمو راوستل او د حاجي صاحب غوښتنو ته ته بې پرواهي ورځ نوره هم بده کړه. فقير ايپي غازيانو ته وَ ويل چی د سرکار چارواکي دي وَ تښتوي، د ټک راټک ټولې کړۍ دي غوڅې کي، او په شمالي او جنوبي وزيريستان ، بنو او ډېره سمايلخان کښي دي د سرکار په ټولو چوکيو بريدونه وَ کي. هغه په وزيريستان او افغانستان کښي ټول اولس ته د جهاد بلنه ورکړه. هغه اولس ته وَ ويل چي د سرکار له تازه دمو پوځونو دي نۀ وېرېږي، لکه د خيسورۀ په لومړۍ جګړه کښي دوی به يو ځل بيا ماتې ورکي. د دۀ د سلا او بلنې وروسته دوه انګرېزي افسرانو ته په ۶ او ۷ فيبرورۍ پېټکونی و شوه او وَ وژل شول.

ړومنی افسرا تورن کيوغ ؤ او ورسره يې اردلي د ساوت وزيريستان سکاوټ ؤ، او بل بريدمن ار اين بيټي ؤ د ټوچي سکاوټ. دوی دواړه په پرلپسې ورځو وَ وژل شول کله چي يې سړک مزل کولۀ. يو پټ راپور (IOR; R/12/70: P:89-91) وايي:

«««شاوخوا په ۱۵:۱۵ بجې، ۶ فيبروري ۱۹۳۷، تورن جې . اې کيوغ د جنوبي وزيريستان سکاوټس باندي ډزونه وَ شول او مرګونی زخمي شو، له هيرپين ګرځني سره له دره توی پول څخه شاوخوا يو ميل لرې په رزمک لده سړک باندي. کله چي له خاسدارانو څخه د پېښې پوښتنه وَ شوه نو يې وَ ويل چي ته پته نشته چي په جې. اې. کيوغ باندي ډز چا وَ کړ. پخپله دوی په يوه زرکه باندي ډزونه کول هغه وخت. »»»

خو د سرکار لخوا د جې. اې. کيوغ د وژونکو ټولې هڅې ناکامه شوې. د بېلګې په توګه، ټول مسود يې سره راغه ته وروَ بلل. سياسي استازی بارنې بارنيس ؤ چې د جرګې په جوړول ډېر

ښه پوهېدلۀ. هغه پوهېدلۀ چي که دی جرګې ته امر ورکي، لکه ټرينچ چي هم وايي، نو دوی به درڅخه ولاړ شي؛ له دوی سره پکار ده ريښتينې (دليل) وشي او جوړجاړی ورسره وَ شي. بارنيس په پښتو پوهېدلۀ. هغه د پښتنو په دود پوهېدلۀ چي په څوک په ولاړه جرګې ته وينا نۀ کوي. نو ځکه هغه ارام کښېنستلۀ او دغه وراڅه (بحث) يې کولۀ چي دی څومره خواشينی دی چي درې مسود خېل هغه کسان نۀ شي کابو کولای چي کشالې جوړوي. ګډونوالې ته مخ ورواړولۀ او ورڅخه وَ يې پوښتل، «««تاسي ته پکار ده چي خپل ستوزې جوړونکي کابو کئ»»». د دغې خبرې په اورېدلو جرګه نارامه شوه او ډېره ببړته ور بړغ کړ چي««« دغه زموږ کار نۀ دی، دغه کار خو ستاسي دی . . . د دغه لپاره خو تنخواوې درکوي. ته خو سياسي استازی يې (پولټيکل)! کنه؟؟»»»

لکه همېشه، د ځان خوشاله کولو لپاره، ښاغلي بارنېس مسود د کيوغ په وژنې ۷۵،۰۰۰ روپۍ ناغه کړل اوځينو ټَتو ټکو کښي وَ منله چي دوی به فقير ايپي باسي که د دوی سيمې ته ورغلۀ، او دوی به خپل غازيان هم کابو کي چي د فقير ايپي د غزا بلنې ته يې د هو غبرګون ويلی دی. جرګې وَ منله چي د تورن جي. سي د وژنې به ۷۵،۰۰۰ روپۍ ناغه ورکي، او شخړه په دغه ځای غوڅه شوه.

په ۲۷ فبروری، د تورن کيوګ له وژنې يوه ورځ وروسته ، زاول، د هغه يوۀ بل ورور او شېرو نورو مداخېلو بريدمن ار. اين. بيټي وَ وژلۀ. کله چي هغه له ميرانشا څخه د دتَخېل په لاره روان ۀ، نو هغه له بويا پول سره جوخت په يوۀ لنډ ګرځني کښي په پوټکنی (کمين) کښي وَ وژل شۀ. ځکه چي ګرځنی ډېر لنډ ۀ نو پکار وه چي موټر يې سوکه شوی وای. موټر لا ګرځني ته رارسېدلی نۀ ۀ چي چي زاول او نورو ملګرو يې ورباندي له نيژدې ډزونه وَ کول، بريدمن ار. اين. ببټي يې وَ وژلۀ او د هغه دوه بدګچيان او نور بدرګچيان يې کارې ټپيان کړل. زاول او انډيوالانو يې چټک په موټر ور وَ دانګل، ۳۲،۰۰۰ کلدارې، درې ټوپک او يوه څرخي توپانچه يې يووړه. له شا لورې لارۍ څخه بدرګچيانو په غازيانو ډزونه وَ کول، او يو يې پکښي ټپي کۀ. سکاوټ او خاسَداران هم ژر هلته راوَ رسېدل او په غازيانو پسې روان شول، خو هغوی له لوټ شويو پوپکونو، توپانچې او پيسو سره تيښتېدلي ول.

د بريدمن ببټي له وژلو وروسته، د شمالي وزيريستان سياسي استازي د سزا بړغ وَ کۀ او نوي مداخېل يې بنديان کړل. هغه ته پته وه چي غازيان د خازه ناوې د مداخېلو له يوه واړه ټبر څخه ول، خو د خپل زور جوتولو لپاره، هغه همزوني دوړ هم ۵،۰۰۰ کلدارې ناغه کړل. که څه هم دوه له غازيانو سره هيڅ اړه نۀ لرله خو د پېښې ځايګی د دوی په سيمه کښي ۀ. په ۱۴ فيبروری سياسي استازي د مداخېلو يوه بشپړه جرګه هم راوَ بلله. هغه له جرګې څخه وَ غوښتل چي زاول او ملګري يې چي په پېښه کښي لاس لرلۀ سرکار تۀ ورکي. د سياسي استازي د غوښتنې په غبرګون کښي، ملک عبدالله خان مداخېل هغه ته يو ليک وَ ليکلۀ چي د ببټي وژونکي په دغه شرط ورکولای شي چي د دوی سپيناوی (محاکمه) به د ټبرونو په دود او دستور باندي کيږي او که سرکار کومه کاروايي کوي نو د توريخېلو، کابلخېلو، ځدانو او تنيو په مرسته به يې په زور مخنيوی وَ شي.

يو ځل چي مداخېلو د غازيانو د ورسپارلو څخه نټه (انکار) وَ کولۀ او د سرکار پروا يې وَ نۀ کوله او ورته څرګنده يې کړه چي که سرکار د توپک په زور سيمې ته ورننوتلۀ نو غبرګون به ورکي، نو له سرکار سره د خاژه ناوې د بمباري کولۀ پرته بله چاره نۀ وه. يو پټ ټپال (راپور) وايي:

«« د کلي د ويجاړولو کار دوؤ ۲۷ (بم غورزونکي) الوتکو سکواډرن، دوؤ ۶۰ (بم غورزونکي) الوتکو سکواډرن او دوؤ باونټي لېږد الوتکو په غاړه واخيستلؤ او يو سل دري پنځوس ګنټي يې الوتيې وَ کولې. »»

مګر، د دغې بمبارۍ ټوله ورانی يو بې شمره کار ؤ.

««ګوره چي دغه به ريښتيا که به نهٔ وي چي فرقه مشر پير مامد خان زاول ترټلی ؤ، د برتانوي هند سرکار وَ افغان سرکار ته وَ ليکل چي پخلی يې وَ کوي. د برتانوي هند سرکار د زارۍ په غبرګون کښي افغان بهرني وزير فيض مامد خان وَ ليکل:
«« زما لپاری د درناوي وړ ده چي ستا ښاغلي ځاني ليک شمېره ۳۶-پي، نېټه ۱۳ فيبروري ۱۹۳۷، په اړه د بريدمن بېټي او دوؤ خاسَدارانو چي د مداخېلو لخوا وژل شوي دي کله چي د ټوچي د سمې پخوا په لاره روان ول، وايي چي د فرقه مشر لخوا زاول ، د مدالي ورود، د هغه په بدو کړنو نهٔ دی ترټل شوی. د افغانستان جنوبي ولايت چارواکو ته امر ورکړ شوی دی چي د وژونکو د لټي په اړې ګامونه واخلي، که افغانستان ته راننوځي نو بنديان دي کي او چټک دي مرکزي سرکار ته وَ وايي.»»
(په پاړسۍ کښي ليکل شوی ليک نېټه ۳،۳،۳۷؛ حوت ۱۳ کابل وَ ګورئ په مخ ... )

په رڼا کښي د افغان سرکار د پورتني بيان او دهغې مرستي چي د برتانوي هند له سرکار سره يې کوله، افغان اولس په افغان سرکار له دين سره د بې پروايۍ تور وَ لګولؤ. د هند برتانوي سرکار په دغه اړوند دغسي وايي:
«« نابېره په وانه کښي اوازې راخپرې شوې چي عبدالله جان زليخېل د افغان سرکار له ځارني راتيښتېدلی دی او بېرته نيکه بند (برمل) ته راستون شوی دی»»

په افغان سرکار باندي د افغان اولس يو بل تور دغه ؤ : «« چي د افغانستان باچا ځکه وَ وژل شؤ چي له دين څخه بې پروا ؤ او له انګريېزانو سره يې خواخوږي لرله.»»

د دوؤ د انګرېز افسرانو له وژلو وروسته او د هند د پرنګي سرکار هغه غبرګون چي وزيريستان ته يې نور ځواکونه وَ لېږل، پراخه نارامي او د انګرېز په چپه پاڅون نورو سيمو ته وېږ شؤ. دغه ځل د سلېمانخېلو او خروټو يو لښکر د خروټيو د يوهٔ ملک د زوی ګلجان تر مشرۍ لاندي سره ټول شؤ، چي انګرېز سرکار يو «بد کس » بللی ؤ. لکه چي هرچا ته څرګنده ده، برتانوي سرکار هر هغه وګړی «بد کس» «ياغي سړی» او په نورو نومو بولي چي له سرکار سره چپ وي. هغه وګړي چي د سرکار ملاتړ يې کولؤ «دوستان» ول. که به د دوی په سترګو کښي هغو ډېر ښه او ډېر وفادار ول نو به غټ سړی ورڅخه جوړ کړل او د سر او نور نومونه به يې ورکول.

ګلجان په ۱۷ فبرورۍ په اوبه سر په وانه کتار بريد وَ کؤ. اوبه سر له وانه څخه د لمرلوېدو خوا ته ښاوخوا ۱۲ ميله لري دی. ګهيځ وختي کله چي په مخکينی بدرګي پسې د پوځ سټه له واندې څخه روانه شوه نو له هسکو ځايونو ورباندي بريد وَ شؤ. يو ځل بيا ځاروي – کچرې، اوښان – او سړي ټول سخت پرله ټمبه شول او کله چي له کيمپ څخه روانېدل نو ډاره مړه کېدل. په دوی کښي ټېلماټېل شؤ او د سنګر خواته د زغاستلو په ځای د غازيانو پخوا ورغلل. ټېلماټېل سخته پرېشاني جوړه کړه. مرستيال سياسي استازي، ښاغلي لوټس لويس، چي سکاوټس، پليو او خاسَدارانو مرسته ورسره کول، په مټکي له درو ګنټو وروسته هرڅه کابو کړل. په ۱۸ فبرورۍ د کتار کومندان، رالف وينګ د شاهي هوايي ځواک مرسته وَ غوښتله.

هوایي ځواک په غازیانو کاروایي وَ کوله، نو کتار له هغه وروسته بې له کومې وېرې وړاندي وانه ته وَ خوځېدلؤ.

د خپلو پوځیانو په اړوند، رالف وینګ لیکلي دي: د هند د دوؤ ټولیو خو بېخي خوند نهٔ ؤ. . . د اس ډبلیو ایس څلور پلټني، له ایم اي سره، زبردسته وي او زیاتره شالورې او څنګلورې بدرګه یې وَ کوله، دوه کسان یې وَ وژل شول او یو اس او یو سپور یې ټپیان شول.

د کتار په ټوله مرګ ژوبله کښي څلو مړه او پينځه زخمیان ول. د لښکر مرګ ژوبله څرګنده نهٔ ده.

کله چي سرکار د پوځي ځواکونو په ناکامۍ اوتر ۱۲ فیبرورۍ په کلیو باندي، په تېره په ارسلاکوټ، د پرلپسي بمبارۍ په بې اغېزمنتوب پوه شؤ، نو یو ځل بیا یې د ملاتړ زارۍ وَ کولې. سیاسي استازي یو شمېر ملکانو ته د ۱۲ فبېرورۍ په یوه غونډه کښي په پوښلو ټړیو (اخطار) کښي وَ ویل چي له اختره وروسته چي په ۲۲ فبېرورۍ ؤ، د فقیر ایپي لځوا د هر ډول ستوزې پړه به د توریخېل ملکانو په غاړه وي.

ملکان شکتوی ته ولاړل او د فقیر ایپي ورور شېر زمان او خسر شېرزاد سره یې وَ لیدل.. دوی دواړو ورته وَ ویل چي فقیر ایپي نه دی اوښتی (بدل شوی). هغه لا هغسي ؤ لکه وروستي ځل چي یې له ملکانو سره لیدلي ول، او د هغو اوازو په هکله چي له بنو او د جنوبي وزیریستان له مسودواو نورو ځایونو راتلي چي دی به د سرکار په ځواکونو، جایدادونو، سړکونو، کلاګانو او نورو څیزونو بریدونه کوي، او دی هغه څه پړه په غاړه نه اخلي چي نور وګړي یې وایي. مګر، د دهٔ جنګ د اسلام او د وزیریستان او نورو ځایونو د مسلمانانود ازادۍ لپاره دی، او د ده چورت (فکر) نهٔ دی بدل شوی. له ناستي وروسته ملکان میرانشا ته ستانهٔ شول. د توریخېلو د ټولو ټبرونو په یوې جرګې کښي دوی د سیاسي استازی غوښتني « بایدهٔ دي چي دوی فقیر ایپي له شکتوی څخه وَ باسي او یا دي خپله ناکامي وَ مني» ته دغسي غبرګون وَ ویلؤ: « دوی هغه نهٔ شي ایستلای ځکه چي ملګري یې د شکتوی او نورو سیمو دي. په دوی کښي هر یوه ټینګار وَ کؤ چي هغه نهٔ شي ایستل کېدلای.، ځکه چي د څه لپاره چي هغه جنګېږي هغه خو د اسلام نرخونه دي. د انګرېزپه چپه د هغه جنګ خو اسلامي بنسټونه لري او د مسلمانانو د ازادۍ لپاره دی، نو له ځکه په هیڅا نهٔ شي منل کېدلای چي د هغه په چپه دي کاروایي وَ کي». دوی سیاسي استازی ته دغه هم وَ ویل چي د دي تومن ډېر زیات مادي تاوان او انساني ربړونه ګاللي دي. نو دوی به په سیمه کښي د سرکار لځوا د هیڅ ډول ښخو شولنګو ملاتړ وَ نهٔ کي.

فقیر ایپي په ۲۲ فیبرورۍ د اختر په ورځ په ارسلاکوټ کښي د غارونو له خلوته را وَ وتلؤ. هغه لمونځ ورکؤ، خو په خپله وینا کښي یې د غزا په اړوند هیڅ وَ نهٔ ویل. مګر، د چارواکو له خولې، هغه ځینو وزیرو ته وَ ویل چي دی اوس د سرکار په چپه څه کولؤ کومه تابیا نهٔ لري. دوي ته پکار ده چي یوه میاشت نور هم وَ ګوري چي حالت ښه وَ څاري. سرکاري ټپال د دغو وزیرو پېژندنه نهٔ څرګندوي. کېدلای شي چي دوی به د سرکار څرکبانه (جاسوسان) ول او لیا به هغه بې باوره کسان ول چي فقیر به نهٔ ورته ویل چي د دهٔ راتلونکي تګلاره او تابیا څه وه. ځکه چي هغه خو په یوې اونۍ کښي دننه د غزا بړغ وَ کؤ.

په ۲۶ فېبروری، فقیر د جومې په لمانځي کښي د اور په څېر وینا وَ کوله، له ټولو ملکانو او خاسَدارانو یې وَ غوښتل « چي د سرکار نوکری دي پرېږدي، کنې جنازه به یې وَ نهٔ شي». دغې ترې اغېزه لرله او ډېرو نوکری پرېښودلې»»».

د ملکانو له یوې ډلې سره تر سلا وروسته، فقیر ایپي په ۴ مارچ ۱۹۳۷ یوه فتوا وَ ایستله چي »»« هیڅ ملا دي د هغو ملکانو او خاسَدارانو جنازه نهٔ کوي چي لا اوس هم د سرکار په نوکری کښي پاته دي.»»» هغه ټولو ته وَ ویل چي په اسلام او کفر کښي دي یو خوښ کي. هر هغه چي په اسلام، د مسلمانانو په ازادي، د وزیریستان او سوبه سرحد په ازادي، او د افغانستان د ازادی په ساتني ایمان لري باید غزا ته راشي او هغه څوک چي په اسلام او ازادی ایمان نهٔ لري به د هند له برتانوي سرکار سره پاته شي.

د فقیر ایپي د غزا له ږغه وروسته، ډېر ژر د وزیریستان ، جنوبي افغانستان او بندوبستي سیمو خلک د دهٔ ملاتړ ته په رارسېدلو شول.

د سرکا او د هغه د «درو څرکښو» په چورت د ټولو ستونزو مېړوی فقیر ایپي ؤ. هغه ته ګڼ شمېر ایلَجاریان راتلل او په ښکاره به یې وَیل چي د جومې په ورځ ۵ مارچ ۱۹۳۷ به پیل کوي. هغه ته د ارسلاکوټ په شاوخوا کښي لږترلږه ۴۰۰ کابلخېل، غیلجیان، او امدزي وزیر ناست ول. دین فقیر هم له دهٔ سره د سرکار په چپه د ښکاره ملاتړ ژمنه وَ کوله. هغه اولس وَ بوږنوولؤ چي سړکونه او د سرکار نور بنسټونه ویجاړ کي. ځینه درې پلاري توریخېل چي د خیسورهٔ په کاروایي کښي یې برخه نهٔ وه اخیستې او د کوزې ټوچي دوړو ځینه ډلې هم ارسلاکوټ ته راروان ول. لنډه دا چي فقیر ایپي ته د ځدرانو، تنیو، او ګوربزو په ګډون له بېلابېلو پرګنو د لښکرو پرلَپسې بهیرونه راروان ول. »»« فقیر ایپي ته خواږه له بنو څخه رالېږل کېدل.»»»

فقیر غازیانو ته وَ ویل چي ټولی جوړې کي او د خلیفه ګانو له لارښؤوني سره سم دي په بندوبستي سیمو، بنو، دېره غازیخان، سړکونو، پنډغالیو، کلاګانو او نورو ځایونو کښی په سرکاري څواکونو او د دوی په شکومیو بریدونه وَ کي.

غازیانو هغسي کول چي څه ورته ویل شوي ول. دوی په سړک په سرکاري څواکونو بریدونه وَ کول، او په بنو، دېره سمایلخان، دېره غازیخان، او میاوالی کښي په پنډغالو او کلاګانو یې ډزونه وَ کول . سرکاري ټپال یې پخلی کوي: »»« د غازیانو له وېرې په سړک د موټرونو تګ راتګ ډېر کم ؤ، او د مارچ له پیله یوازې د ایشا تر میرانشا، د ټانک او دېرسمایلخان په لاره بنو او مانزی او له ټانګ څخه د بین په لاره غزنیخېل ته سړکونه د موټرونو په مخ پرانیستي ول. د جنډولې په لاره له مانزی څخه تر وانه او له بنو څخه تر رزمک پوري موټرونه په کاروان کښي د زغروالو موټرو او پلیو بدرګو کښي په ورځ کښي درې ځله تلل.»»» د حالت د کابو کولو او په بندوبستي سیمو کښي له ستونزو د بچ کېدلو لپاره په ۸ مارچ ۱۹۳۷ سرکار نور څواکونه وزیریستان وَ لېږل، چي ایچ کیو لومړی هندي ډویژن، څلورمه ډګر لیوا، دؤومه زغره واله، درېیمه هندي پلې لیوا، ۷ اې. ټي. ټولی، ۳ اې. ټي. ټولی، ۱ او ۴ د سامان رسوني ډله، ۴ ډګر امبولانسونه او یو د پاکی د برخي کوچنی ډله پکښي ول.

لکه د سوبه سرحد والی، سر جارج کنینګم چي ډادهٔ ؤ چي د تازه دم پوځ لېږل به د فقیرایپي او ملګرو په هوډ باندي کوه اغېزه وَ نهٔ کي، نو ځکه د وزیریستان پرګنو ته په پښتو کښي یو څرګندونه چي پښتو یې (الف --(appendix) ، او انګرېزي یې په ( ب) کښي ده، د

وزيريستان، بنو، ډېره سمايلخان او کورمې په هلکه ور وَ لېږل. دوه پښتو کاپۍ يې کابل ته هم ور وَ استولې. په پاسلکوټ، ارسلاکوټ، ګلزميرکوټ او د ارسلاکوټ شاوخوا نورو کوټونو يې پاڼې وَ شيندلې، چې پښتو او انګرېزي بڼې يې په (ج ، د) کښې راغلې دي.

د سرکار د تازه دمو د راتګ په اړوند فقيراپيي خپلو غازيانو ته وَ ويل چې په انګرېزانو او ملګرو دي په شمالي، جنوبي وزيريستان او بندوبستي سيمو کښې بريدونه وَ کي. له دغه وروسته نو غازيانو خپل کارونه پراخ کړل او په بندوبستي سيمو کښې يې هم بريدونه پيل کړل. دوی په بنو، ډېره سمايلخان، ډېره غازيخان، پېښور او هزاره اولسواليو کښې په انګرېزانو او د هغو په ملاتړو بريدونه پيل کړل. د سرحد د «پلټنې ډلګۍ» له خولې، چيف کميشنر په بندوبستي سيمو کښې د خپلو وګړو په اړه ډېر پرېشان ؤ، او ويل به يې، چې د وسلې او روزنې د کمي له سوبه « برتانوي وګړي لکه پسونه چې د لېوانو مخې ته ولاړ وي، او ورځ يې نوره پسې بديږي ځکه چې قبايل په درسته ښه ګهلي (ليس) دي او هلته د يوۀ ښه روزلي سرحدي ځواک په ځای ناساتلي کليوال، او ناروزلي پوليس او ملېشا ځواکونه دي.

هندوانو او سيکانو چې هر وخت يې د خپلو بادارانو ــ پرنګيانو ــ ملاتړ کولۀ، د انګرېز د راتګ له وخته يې په سوبه سرحد او د جنوبي وزيريستان په ګډون په ټولو ايجنسيو کښې واک چلولۀ، سرکار ته د غازيانو په اړوند ګيله وَ کوله چې په دوی او برتانويانو يې بريدونه کول. د خپلو ځانونو د ګرمولو په ځای يې له سرکار څخه د ساتنې او ملاتړ غوښتنه وَ کوله. په خپلو سيک ، پنجابي ، ګوکه او نورو رجمنټونو چې له انګرېزانو سره په ګډه يې پرلپسې په وزيريستان کښې کلي، کورونه او شنه کښتونه سوزول، باندي د نيوکې په ځای يې غازيان ځيګلیان وَ بلل. د روغې په ځای يې برتانوي مخ په وړاندي (فارورډ) تګلاره غوره کړه او په سرکار يې ټينګار وَ کولۀ چې د غازيانو په چپه دي سخت ګامونه اوچت کي. هندوانو او سيکانو به غازيان په هغو نومونو يادول چې انګرېزانو به کارول، لکه ياغي، ځنګلي او تور او سرکار ته به يې ويل چې بېګنا تيرنې (ټيکس) ورکونکي دي له غازيانو وَ ساتي. ډي، سي. اوبرای چې د مخ په وړاندي تګلارې سخت ملاتړی ؤ، به ويل چې د قبايلو غرونه بايد ازاد پرې نۀ ښودل شي، او ليکي « د برتانوي واکمنۍ په تېرو نوي کلونو کښې دا جوته شوې ده چې دپولې تومنونو هيڅ کله نۀ ده ښودلې چې د يوۀ ښۀ ګاونډي غوندي به اړيکي راسره وَ لري. دوی بايد په خپلو زړو او ځنګلي دودونو ولاړ پاته شي، خو د هند لوړ ښاري برتانوي سرکار، چې د تاج د وګړو د ساتنې له امپراتوري دندې پوره خبر دی، د تيرنې (ټيکس) ورکونکې او بېګنا ټولنې په چپه د دغو پخوانيو خلکو تاړاکونه، شوکې او برمتې نۀ شي زغملای.»»

دواړو هندو او سيک جرګو (سبها)، په تېرو د دغو ټولنو بډای غړيو د خپلو ديني خلکو په بدې ورځې او سبر (قسمت) يې ډېرې ګيلې مانې کولې، خو پخپله يې بېوزلو هندوانو او سيکانو هيڅ مرسته نۀ کوله. د هندو او سيک ټولنو هيڅ غړي له سرکاره نۀ ؤ غوښتي چې د توکم (ذات) اډانه (نظام) دي وررړ کي – چې د بې انصافۍ، نابرابرۍ او ناانسانتوب جرړه وه.

۵۰۰ کاله وړاندي تر عيسا(B.C) د براهمن ملايانو لخوا جوړه شوې د توکم اډانې له مخې څلور لوی توکمونه (ذاتونه) دي: (ا) برهمن، د ملايانو توکم، چې د برهما خدای له خولې راوتلی دی، نوځکه دوی سپېڅلي دي او په ټولنيزه تله کښې تر ټولو درانه دي. برهمنان کار ته اړ نۀ دي، ځکه چې د لاس کار به يې د دستوري سپېڅلتيا ناپاکه کي. (ب) کيشتري يا جنګيالان، چې د خدای برهما له مټو څخه د لومړني توکم د ساتنې لپاره پيدا شوي دي. (ج) وېش، کشيان (بزګران) او سوداګر، چې د برهما خدای له ډوډيو (کوناټو) د لومړنيو دوو

توکمنو د ګټې لپاره پیدا شوي دي، (د) شودر، موسلیان (جاروکشان) چې د برهما خدای له پښو پیدا شوي دي. د دوی کار د نورو دریو توکمنو چوپړ دی. تر څلورم توکم لاندي د اچوت یا ناپاکان دي: دوی ټول چټل کارونه ترسره کوي. دوی ته اچوت وایي چې یو چې ته د لاس وروړلو اجازه نۀ لري؛ دوی هغه کارونه کوي چې ډېر چټل وي. د هندوانو په ګروهه دوی د انسان له توخمه نۀ دي.

د هندوانو او سیکانو په دواړو جرګو کښې یوازې ودان هندوان او سیکان ول. له دوی سره د نېستمنو وګړو هیڅ پروا نۀ وه، مګر تش هغه وخت به یې سرکار ته مانه کوله چې د دوی خپلې ګټې به له ګواښ سره مخامخ شوې. د کومک په ځای به شتمنو هندوانو او سکانو خوران د پور په ورکولو زبېښل. درغلو پوروركونكو په یو څو پیسو له نېسمنو ټولې مځکې او نور څیزونه وَ پېرل. برتانوي سرکار د نېسمنو د کومک په ځای د ودانانو ملاتړ کولۀ، او هغوی ته یې لوی لوی نومون لکه «سر» او نور ورکول. په تېره بیا په سیند او پنجاب کښې، او د سرحد په ځینو بندوبستي سیمو کښي. لکه یو کوز توکمی هندو، ښاغلی پهول، چې لیکي: « شتمنو هندوانو به تش هغه وخت د یووالي سورې وهلې چې ګټې به یې له ګواښ سره مخامخ وې؛ چې یو ځل به یې موخه پوره شوه نو بیا به یې ویل « زه دلته ښه یم، او ته هلته». لکه وړاندینو چې ویلي دي: «موږ ستا د توخم غله خورو، مګر خپله کرلو ته ساتو.»

په دغه ډول د بډایه هندوانو او سیکانو، په تېره بیا د بنو هغو، په ۱۹۳۶ کښې او تر هغه له مخه د خپل ځانو لپاره کارونه کول. د بنو هندوان او سیکان ټل د درغلو او ټګانو یوه ټوله وه چې همېشه به یې د خپلو ګټو ساتنه کوله. د بنو ریزیډنټ، جګړن هربرټ ایډورډ، د بوګای په څېر شتمنو او درغلو او منافقو هندوانو په اړوند لیکي . هغه په نیمه وچه کښې د برتانوي سرکار شکومی او نیژدې دوست ۇ. هغه یو شمېر لارۍ لرلې. هغه وزیریستان ته د پوځونو یو لوی لېږدونکی ۇ. د ۲۰ پېړۍ له سره په نیمه وچه کښې د سیاسي ورځې له کبله، هغه او ملګري یې پوهېدل چې دخوارو هندوانو، سیکانو او مسلمانانو د زبېښاک لوبه نوره پای ته په رسېدلو ده. مګر د نېسمنو هندوانو، سیکانو او مسلمانانو د زبېښاک د اوږدولو لپاره، چې ده او ملګرو به یې پورونه ورکول او بیابه یې هرهغه څه ورڅخه اخیستل چې دوی به لرل، ده نورجهان بي بي (اسلام بي بي) په خپلې لارۍ کښې هندوستان ته یوړه. دغه کار ورته ډېر دوښمنان پیدا کړل چې بیا یې د دۀ په لاریو بریدونه وَ کول او تبا یې کړې.

بګای، هرنامداس، رام چند او ملګرو یې له ۱۸۴۷ راهیسته د بنو اوسېدونکي زبېښل. جګړن هربرټ ایډوډ، چې بیا سر جګړن هربرټ ایډورډ شۀ، لیکي چې د بنو هندوانو له زړو سره تر ژوند زیاته مینه کوله: «««مګر له پیسو سره مینه تر ژوند هم زوروره ده، او اسیا کښې هندوانو، لکه په اوروپا کښې یهودان، له هر ګواښ او ټولو دینو او ښاري ناکراریو سره جګړه کوله، تش په دغه هیله چې یوه ښه پانګونه وَ کي. یو ابله هندو چې له له زانګو یې له پیسو سره د مینو روزنې کېدل، به خپل لومړی غاښ په روپی وَ ایستلۀ»»» ««« زه باور لرم که یې خپله نیا هم د کاروبار په لاره کښې راغلې وای نو لوړې به وژلې وه»»»

سر جارج کننګم، د سرحد سوبې والي، د وزیریستان اولس او د نیمې وچې نورو مسلمانانو ته په ډاګه کړه چې د اسلام بي بي په کشاله کښې د سرکار په چپه د اولسونو د پاڅون جرړه حاجي صاحب دی. خو په دغه د سرکار کار وَ نۀ چلېدلۀ، په تېره بیا په وزیریستان او بندوبستي سیمو کښې د ټیکاو په راوستل. په وزیریستان کښې د امن د نۀ راوستلو یو لوی لامل د سرکار د منافقت تګلاره وه؛ له یوې خوا به یې د ښه نیت څرګندونه کوله او ژمنه به یې کوله چې په دیني چارو کښې به لاسوهنه به نۀ کوي او روغه به راولي، مګر له بلې خوا یې په

وزيريستان کښي پوځونو ته تازه دمي وروَ لېږل. ږومبی يې ارسلاکوټ بمبار کۀ، او بيا يې له ۱۷ مارچ څخه ارسلاکوټ په هواي زور کلابند کۀ. په دغو کارونو د سرکار موخه ترسره نۀ شوه. دغه کارونه سرچپه پايلي لرلي. له ډامډېل څخه ۲۵۰ گزه لرې په يوه مورچل باندي د سرکار منافقت او کاروايی په ډاگه کړې او د غازيانو همت نور لوړ شۀ چي د سرکار په ځواکونو او کسانو باندي بريدونه وَ کي. کله چي د اسلاکوټ بمباری او هوايي کلابندي روانه وه، نو د دېرشو څلوېښتو غازيانو يوه لښکر په سپينه ورځ په ۱۵:۳۰ بجي په يوه مورچل باندي بريد وَ کۀ چي دوی يې له مخه تابيا کړې وه او يو پيره وال يې وَ وژلۀ. د پيره وال له وژلو وروسته يو غازي په دېوال وروَ ختلۀ او مورچل ته ورواوښتلۀ او نشانچي (سيگنلر) يې هم وَ وژلۀ. نورو غازيانو هم له هره لوري په چوکی ورودانگل او پاته گورکيانو سره يې ښخ شول. دوی څلور نور گورکيان وَ وژل او دري يې کاري ټپيان کړل، که څه هم کمپ ۲۵۰ گزه لرې ؤ خو ورپټه نۀ وه چي په مورچل څه تيريږي. د ټولی کومندان هيڅ له وسه پوره نۀ ؤ، ځکه چي هغه وېره لرله چي په يوه لومه کښي کښي نۀ وځي. لکه يو پوځي ټپال چي وايي: « ورپسې چي کومه لاس په لاس جگړه وَ شوه، توپکونه، توري، خنجرونه او ډېري پکښي وَ کارول شوې.»»

له غازيانو څخه دوه مړه او دوه ټپيان شول. غازيان يوه گنټه وروسته له مورچل څخه په شا شول، خو تر ۱۸:۰۰ بجو هلته نيژدې پاته شول او په مورچل يې ډزونه کول. دغه چي ولي د پوندېغالي پوځ هغه ډزونه نۀ اورېدل چي پرلپسې په مورچل باندي کېدل، لا تر اوسه هم څرگنده نۀ ده.

## ۷ – څپرکی

## جګړه له اسدخېل کلي شمالي وزيريستان سره نيژدې
## ۲۹ مارچ ۱۹۳۷

د ډامډېل کمپ مورچل له بريده اته ورځې وروسته، په ۲۹ مارچ له اسدخېل کلي سره نيژدې په تازه دمه اېبټ اباد پلې ليوا باندي بريد وَ شؤ. د لومړنی پلې ليوا (اېبټ اباد) پوځيانو د ميرالي او ډامډېل تر منځ او هم د رزمک په لاره د ميرالي او مانزي تر منځ د لارې د ساتنې کار په غاړه لرلؤ. ليوا ګهيځ وختي رهي شوه، کله چي ۵۰ ميل ډبرې ته راوَرسېدله نو د پولټيکل نايب تحصيلدار لخوا کومندان ته يو ټپال را وَرسېدلؤ چي د سړک په دواړې خواوې غازيانو نيولې دي چي په بهير باندي بريد وَ کي. خو دغه ټپال بې شمره ؤ، ځکه چي په بهير باندي خو درانده ډزونه لا لمخه پيل شوي ول.

يو پوځي ټپال په دغه اړوند وايي: «غازيانو د بريد لپاره له يوې زبردستې تګلارې کار واخيستلؤ. د پوځيانو پام د جنوب خوا ته د اړولو او بيا ورباندي له شمالي لوري له شپوې څخه د بريد کولو لپاره، دوی د خيسورۀ له جنوب څخه د منځ په پوځيانو او مخکينی بدرګې دواړو باندي بريد وَ کؤ.»»»

کله چي يې د پوځيانو پام جنوب ته وَ ګرځولؤ نو «دوښمن» د شمال له شپوې څخه په مخکينی بدرګې باندي درانده ډزونه وَ کول کله چي دوی هلته تېرېدل. پاته پوځيان چي ماشنګنې چلولې او د سړک په شمالي لوري په پېچومي کښي کسان وَ ويشتل شول، او هغه ايلّجاريان چي د سړک شمال لوري ته په يوۀ خوندي خوړ او نورو کوچنيو چړونو ان د سړک د غاړې چريو کښي پټ ول، له خنجرونه سره راوَ دانګل. دوی د لېوني جوش بريدونه کول او دومره رانيژدې شول چي لاس په لاس ښخه يې پيل کړه. «««مخکينی بدرګې ته سخته مرګ ژوبله واوښتله چي د برتانوی کومندان او دوه ګورکه افسران هم ول پکښي»»»

برتانوی کومندان، دوه ګورکه افسران او د مخکينی بدرګې ټول سيګنلران او نورو ډېرو سرتېرو په ګډون ډېر ګورکيان وَ وژل شول. د جګړې په لومړنيو شلو شپېو (دقيقو) کښي د خپلو ځانونو او بودَکانو د ژغورنې په ځای، پوځيان ښېخي ګنګس او ګډوډ شوي ول. ليوا ښېخي ښه وهل خوړلي ول. يو شمېر غازيان له خپلو پټو سنګرونو راڅرګند شول. ځينو کچرې هی کړې، ځينو له تراټو څخه د ماشينګنو ګولی شکولې او نور هسکه غاړه په سړک رهي شول. دوی يوڅه په ځانونه غره شول چي سوبه يې وَ کړه او د حاجي صاحب امر ته يې وَ نۀ کتل چي لومړی انتظار وَ کي او بيا بريد وَ کي. د دغې تېروتنې تاو تر دوی وَ ختلؤ. کله چي په دوسالي کښي ډزونه واورېدل شول نو د سپکو ټانکونو يوه ټولی د جګړې د ډګر په لوري را وَ خوځېدلؤ.

د ټانک ټولی نابېره راتګ غازيان هک کړل. تر دې له مخه چي دوی تياری وَ نيسي، لس پکښي وَ وژل شول او يو شمېر نور کاري ټپيان شول. وروسته يو شمېر نور غازيان هم وَ وژل شول کله چي دوی له پټو سنګرونو راڅرګند شول او په دغه چورت کښي ول چي پوځ ماتې خوړلې ده او بېرته د ډامډېل په لوري تښتي. که څه هم د دوی دغه چورت سم ؤ، ځکه چي ډېرو پوځيانو د خپلو ځانونو د ژغورلو هڅه کوله، خو بيا هم دوی ته پکار نۀ ول چي په دوښمن پسې په بېړندويه توګه منډې وَ وهي. بل هيڅ لامل نۀ ليدل کيږي بې له دغه کله چي پوځيانو په شا کېدل نو غازيانو په پوځ باندي کمزوری چورت وَ کؤ او د هغه لخوا يې د بل

برید اومید نۀ کولۀ. په ۲۶ نومبر ۱۹۳۶ د خیسورۀ په لومړۍ جګړه کي، ځینو غازیانو غوښتل چي په پوځیانو پسې ورشي او چي ځومره توپک، کارتوس او نور ځیزونه ورڅخه وړای شي یو یې سي. مګر، ډیری غازیانو ته چي کله پته وَ لګېدله چي لیوا ته له دوسالي څخه کومک راغلی دی نو د سړک په شمالي غاړه په خپلو پټو سنګرونو کښې پاته شول. پوځ څو ځله هڅه وَ کوله چي خوړ څخه غازیان را وَ باسي، مګر بریالی نۀ شۀ نو ځکه یې پرېښودل. د ټولۍ کومندان بریدمن ار. اې. ایل. مارکس او د هغه یو شمېر کسان وَ وژل شول. نیژدې همدغه مهال،۲۰۳۵ بجې، شاوخوا ۳۰۰ نور غازیان را وَ رسېدل او په پوځ یې یرغل وَ کولۀ. په ۲۱:۰۰ بجې، غازیان له لوېدیځ او جنوبه راجاروتل او سخت برید یې وَ کړ چي غونډۍ وَ نیسي، خو بریالي نۀ شول. یوې بلې ډلې هڅه وَ کوله چي د ډامډېل او اسدخېل تر منځ نَنَوځي او پوځ په دوو برخو سره پرې کي، او بیا دشپې برید ورباندي وَکي، مګر دوی هم بریالي نۀ شول. د لیوا د احتیاط ټولۍ، چې د دغسي شېبې لپاره ساتل شوې وه، د دوی مخه وَ نیوله. یو ټپال وایي: «««دغې ټولۍ د کمپ د ټوپونو په کومک ډېر کوچني خو سخت بریدونه په شا وَ تمبول.»»»

د ډګرمن ار. او. اینسکیب ډي ایس او، ایم سي، تر کومندې لاندي برتانوي پوځ او غازیانو تر منځ جګړه د ګهیځ له ۸ بجو بیا د ماښام تر ۷:۴۵ بجو په شېبو شېبو روانه وه. له نورې مرګ ژوبلې د بچ کېدلو لپاره پوځ ځینه مړي تر سبا پورې پر ځای ایله کړل. ډامډېل کمپ ته پرشا تګ په ۷:۴۵ بجو بشپړ شۀ. ځینه مړي، په تېره د ۵۰ میل ډبرې هغه، چي تېره شپه یې را وا نۀ خیستلای شول، په سبا سکاوټس راوړل. مرګ ژوبله په لاندي ډول وه:

مړه:
تورن او. ار. بیتون، ۲/۵ ار. جي. ار. ایف. ایف
بریدمن. ار. اې. ایل. مارکس، ۱/۶ جي. ار.
ګورکه افسران: ۲
نور ګورکیان: ۳۰

ټپیان:
بریدمن. ار. ایف. سي. نیکلسن، ۱/۶ جي. ار.
برتانوي سرتېري: ۱
ګورکه افسر: ۱
نور هندي او ګورکه سرتېري: ۴۱

سره له دې چي د سپکو ټانکونو نابېره برید په غازیانو کښې ډېر مړي وَ کول،مګر دوی بیا هم د جګړې سمه پرې نۀ ښودله. دوی بیا ځانونه سره وَ اوډل او په برتانوي پوځ یې برید وَ کۀ. دوی تر سبا ګهیځ د جګړې په سیمه کښې پاته شول او بیا سوکه سوکه سره وَ رهېدل. شاهي هواي ځواک د ځمکنیو ځواکونو مرسته کوله، چي له ځار سره سره یې د غازیانو په سنګرونو بمباري هم کوله. د سوییِنسون له خولې، د ځواکونو (هندي) ټولټال مرګ ژوبله ۱۶۳ وه. د غازیانو مرګ ژوبله کښې ۹۴ مړي او ۶۴ ټپیان ول.

که څه هم حاجي صاحب څو څو ځله سرکاري چارواکو ته ویلي ول چي دی پخپله بشپړه واک نۀ لري، مګر کله چي یوه کاروایي کوي نو همېشه له خپلو ملګرو – خلیفه ګانو، ملایانو او نورو – سره سلا کوي، خو سرکار په هغه تور وَ لګولۀ چي هغه ژمنه یې پوره نۀ کړه چي په لومړنۍ پلې لیوا باندي به برید نۀ کوي. بل دغه چي سرکار په حاجي صاحب باندي په برید کښې د نېغ په نېغه لاس لرلۀ تور هم وَ لګولۀ، او ویل به یې چي د برید په سر کښې توریخېل

دوښمنان ول، چې پخوا او اوس دواړه ځله يې د حاجي صاحب تر کومندۍ لاندې کارونه ترسره کړي دي. کله چې ريزيډنټ پوه شؤ چې حاجي صاحب او د پښتونخوا اولس د سرکار په چپه له غزا لاس نۀ اخلي ، نو يې د سياسي اکر د بدوالي ټوله پړه په توريخېلو واچوله.

د اسدخېلو د سيمې له جګړې وروسته سرکار د ملکانو يو پلاوی حاجي صاحب ته ور وَ استولؤ او د اوربند او روغې وړانديز يې ورته وَ کؤ. په يوې جرګې کښې، حاجي صاحب ملکانو ته وَ ويل، چې زه به په روغې باندې چورت وَ وهم خو يوه ګره (شرط) ده، چې سرکار به ژمنه کوي چې په ديني چارو کښې به لاسوهنه نۀ کوي او د بنو جيلکې (اسلام بي بي) ته به خوښې ورکي چې هر دين يې خوښ وي. د ملکانو له غوښتنې ورسته، حاجي صاحب سرکار ته يو ليک وَ لېږلؤ او ورته وَ يې ويل چې زه له سرکار سره تر هغو روغه نۀ شم کولای ترڅو چې د ټولو ټبرونو له استازو سره سلا وَ نۀ کم. د حاجي صاحب او سرکار تر منځ د ليکونه لېږل رالېږل بل هيڅ نۀ ؤ پرته له يوۀ چل (مانور)، ځکه چې د دواړې خواو نيامت څرګند ؤ، او هغه ؤ د سيالۍ لوري بشپړه تباهي.

کله چې حاجي صاحب او د هغه خليفه ملک خونياخېل او نورو په شهور تنګي کښې د سرکار په يوه بهير باندې د بريد تيارى کولؤ، نو سرکار توريخېل ملکانو ته دغه لاندې وېناوې وَ کولې، چې په رېښتيا سره د يوۀ بشپړه جنګ ړ غ ؤ:

د اپريل ۶ څخه وروسته، دغه لاندې سيمې به تر هوايي کلابندۍ لاندې وي:
(ا) ارسلاکوټ ناوه، موساکی، سين، شکتوی، تبۍ لګډ او اروپکوټ
(ب) د خيسور د توريخېلو ماجبونه (لونګۍ) بېرته ورڅخه واخيستل شوې
(ج) د خيسور دملکانو ماجبونه او خاسَدارۍ له ۵ اپرېل څخه وَ ځنډول شوې
(د) له بنو او رزمک څخه د توريخېل ايستل
(ر) بنو – رزمک سړک ته درې ميله نيژدې د توريخېل کلي به لري کړل شي

راځئ چې په راتلونکي څپرکي کښې په ۹ اپرېل ۱۹۳۷ په شهور تنګي کښې په بهير باندې بريد په هکله وَ کړېږو او وَ ګورو چې د بل ستراتيجيک ګوزار تابيا کوم لوري کړې وه.

## ۸ - څپرکی

### د شَـــهور تنګي ښخه
### ۹ اپرېل ۱۹۳۷

شهور تنګی په جنوبي وزيرستان کښې په مانزي – وانه سړک باندې يو تنګ کنډَو دی چې درې څلور ميله اوږدوالی لري. سړک درې لنډ ګرځني لري ، په شمالي ډډه يې ژور کمرونه دي چې پاس وچو غونډيو ته رسيږي، او په جنوبي اړخ يې يوه سيخه ژوره ده چې لاندې تر شهور توی پورې رسيږي. په ۱۹۳۷ کښې سړک ښه ارت نۀ ؤ؛ چې يو ځل به کوم موټر پکښې وَ نښتلؤ نو بيا يې رايستل خورا ګران کار ؤ. که څه هم اوس لږ ښه شوی دی، خو بيا هم په ډېرو ځايونو کښې دغه سړک ښه پلن نۀ دی. په ژمي کښې او باراني ورځو (جولای او اګست) کښې خورا ستونزمن دی. د تنګي په دواړو خواوؤ اوس هم ډبرينې خزې شته، چګملی په ختيځ کښې او څپلی توی د تنګي په لوېديځه خوا کښې.

لکه مخکې چې وَ ویل شول، له حاجي صاحب سره د توریخېل ملکانو لیدلو کومه ګټه وَ نۀ کړه. حاجي صاحب د درو اونیو منداړ (اوربند) وَ غوښتلۀ چې له خپلو انډیوالانو سره د اکر (حالت) په اړوند سلا وَ کي. سرکار د دغې غوښتنې له منلو په دغه بنسټ نټه (انکار) وَ کولۀ چې نور نو د سرکار زغم بشپړ شوی دی او بله چاره نۀ لري پرته له دغه چې ژرترژره کاروايي وَ کي. خلیفه خونباخېل هم په یوه ناسته کښې مسودو ته وَ ویل چې ده خپل سبړ (قسمت) له فقیر ایپي سره تړلی دی او ترڅو چې یې خپل لاربنود نۀ وي منلی نو دی هم روغه نۀ شي کولای.

کله چې دغه بې شمره وراځه (مذاکرات) روانه وه، او د دواړو غاړو – فقیر ایپي او سرکار - تر منځ ځرګنده بې باوري وه، نو فقیر ایپي خلیفه خونیا خېل ته وَ ویل چې په شهور تنګي کښې په بهیر باندي ګوزار وَ کي.

سرکار خبر ۇ چې غازیان له شکتوی څخه د سرۀ راغۀ په لاره له شهور تنګي سره نیژدې کلیو ته راغلي دي او خلیفه خویناخېل هم پکښې دی. د بهیر کومندان هم په ۳ اپرېل په خپل ټپال کښې وَ ویل چې ده دغسې قبایلي کسان لیدلي دي چې د خاسَدارانو غوندي نۀ ښکاریږي. دوی په شهور تنګي کښې په لوړو سنګرونو کښې سره ټولیدل. پولټیکلي چارواکو ته هم د شکمنو کسانو په اړوند یو ځانګړی ټپال وَ رسېدلۀ. مګر پولټیکلي چارواکو کوم ګواښ وَ نۀ انګېرلۀ او بهیر یې پربښودلۀ چې خپل کار په مخ بوځي. مګر د پام لپاره یې یو څه تیاری وَ کۀ. «« لکه په نورو بهیرونو کښې. دغه ځل هم په بدرګې کښې دوه سپکي ماشینګنې، یوه ډله هندي لارپاکان او شاهي سورنګ اینجینران ول. د هر بهیر په سر باندي پرلپسې هوايي ځار هم کېدلۀ، پیلوټانو ته ویل شوي ول چې که چیري لاره بنده وي نو دي ژرترژره خبر ورکي او که د کومک غوښتنه ورڅخه وَ شي نو هم دي تیار اوسي.»»

د ډګرمن ډبلیو. اي. ایچ. کونډون له خولې، د بهیر ساتنه پوره نۀ وه. پر دې سربېره، پولټیکل چارواکو چې خاسَدارنو ته د لوړو ځایونو د ساتنې کومه وینا کړې وه،هغه هم خوشې کار ۇ.

بهیر له مانزي څخه وانه ته په ګهیځ په ۶:۰۰ بجې په اپرېل، ۱۹۳۷ روان شۇ. پکښې ۴۹ لارۍ، چې ۲۷ یې شپږ ټیره او درې ټنه وې؛ تورنیکرافټ، ای. اې. ایس. ایل، ۱۶ ملکي لارۍ د بګې د ګډې (کمپنۍ) وې، درې ځاني (پرایوېټ) موټرونه، څلور زغره وال ټانکونه د اتمې ټولۍ، او یو امبولانس ۇ. یو زغره وال موټر په سر کښې، دوه په منځ کښې او یو په لم کښې ۇ. په دغو کښې پوځي او ملکي څیزونه بار ول، ټولیو ته یې سامانونه او هغه افسران رسول چې د ژبې له ازموینې یې سر ته رسولې وې. پلې بدرګه تر پخوا دغه ځل پیاوړې وه.

ګهیځ وختي د شاهي هوايي ځواک الوتنه وَ کوله خو هیڅ شکمن څیز یې تر سترګو نۀ شۇ، مګر کله چې د بهیر کومندان کنډَو ته د چګملۍ له خوا ور ننوتلۀ نو هک شۇ چې هلته خو یو خاسَدار هم نشته. د جنوبي وزیریستان سکاوټس د شهور تنګي د ګزمې په ځای د جنډولې او کوټکي ترمنځ ګزمه کوله.

## په بهیر باندي ړومبی برید

ګهیځ ۷:۴۷ بجې د بهیر مشر بریدمن هوپکینز په لوېدیځ سر ته نیژدې ۸۱/۲ میلډبرې ته راوَ رسېدلۀ او د بهیر لم هم په کنډَو کښې بنه دننه ۇ، نو، لکه ایل. پېټیګریو چې لیکي، لګه درګه جوړه شوه. «« په سر کښې د خونیاخېل کسانو له نیژدې سنګرونو چې ښخي ښه پټ ول،

شاوخوا په هر موټر باندي بېخي كره ډزونه وَ كول چي شاوخوا پينځلس شېبې (منټونه) روان ول.»»»

په ټول كاروان باندي په يو وخت كښي ډزونه پيل شول، خو په مخكيني نيمايي باندي بېخي سخت ول. هغه افسران چي د موټروانانو په څنګ ناست ول او يا په ځاني (پرايوېټ) موټرونو كښي ول په لومړيو يوڅو شېبو كښي نيژدې ټول وَ وژل شول او يا ټپيان شول.

لومړی پينځلس مينټه د غازيانو ډزونه سخت او پرلپسې ول. دېرې بدګچيان له موټرانو څخه د راټوپ كولو مخكي وَ ويشتل شول. ډېر موټروانان وَ وژل شول او يا ټپاين شول، لارئ يې په سړک وَ ښوېدلې او لاره يې بېخي بنده كړه. زغره وال ګاډي خو بېخي بېكاره ول، ځكه چي ټوپكونه يې پوره نۀ شول پورته كېدلای چي په غازيانو باندي ډزونه وَ كي. غازيان د سړک په دواړو خواؤ په دغسي چړيو كی او د كمرو تر شا پټ ول چي دوی ته خو سړک له يوه سره بيا تر بله سره ټول ور ښكاره ؤ.

هغه كسان چي ژوندي ول د ډزونو له لاسه په شېلو او پاټونو كښي پټ شول. ځينه ټوله شپه تر لاريو لاندي پټ ول، له وېرې مړه كېدل چي غازيان به يې وَ وژني او بيخول به يې كي. (وَ ګورئ انځور ۴ او ۵)

غازيانو په هر خوځېدونكي ځيز باندي ډزونه كول. په منځ كښي په جګړې كښي يو درنګ راغلؤ، په دغه شېبه كښي روغتيا افسر ، تورن اين. ايم. دورانی غازيانو ته د اوربند خواست وَكؤ. هغه غوښتل چي زخميانو ته لومړنی روغتيايي مرسته وركي، خو په پخپله په دۀ يوه كاري مړدک وَ لګېدلؤ او مړ شؤ. يوازينی افسر بريدمن هوپكينز ؤ چي له درې لاريو سره له تنګي ژوندی وَ وتلؤ. هغه ځېلی توی ته ولاړؤ او بيا بېرته تر ډزو لاندي كسانو كومک ته راوَ ګرځېدلؤ ، خو ډېر ناوخته شوی وه.

كه څه هم زغره والو ګاډو پاس غازيان ويشتلای نۀ شول، خو دومره يې وَ كول چي په خپلو ټوپكونو سړک وَ نيسي او غازيان پرې نۀ ږدي چي له خنجرونو سره راكوز شي. خو بياو هم، په ځينو ځايونو كښي غازيانو له خنجرونو سره لاره پيدا كړه چي د زخمي سرتيرو او نورو كسانو تر سر يې تېره كي.

كله چي د بريدمن هوپكينز له خولې واورېدل شول او شاهی هوايي ځواک ځار پيل كؤ، نو د بهير د كومک لپاره دغه لاندي تازه دم ځواكونه ور وَ لېږل شول:

له مانزي څخه: د سپكو ټانكونو له ۸ ټولی څخه يوه ډلګی؛ د۴/۱۶ پنجاب رجمېنټ يوه ټولی؛ د ۴/۱۶ پنجاب رجمېنټ يوه كومكي ټولی چي وروسته ۴/۱۶ يوه ګډه ټولی هم ورپسې ولاړه.
له جنډولې څخه: د جنوبي وزيرستان سكاوټس درې پټلټني
له وانه څخه: د جنوبي وزيرستان سكاوټس درې پلټني چي ماځيګر ۴:۳۰ بجي ځېلی توی وَ رسېدلې.
له سروَ كی څخه: د سپكو ټانكونو ۸ ټولی يوه ډلګی؛ يوه رساله او ۴ د جنوبي وزيرستان سكاوټس پلي پلټني. سكاوټس د سروَكی په ختيځ كښي په ګزمه ول چي په سره غره كښي

ورته وَ ویل شول چي د سروَکی مرستیا پولټیکل، پي. لویس، په څپلی توی خاسَدارانو ته یوه مېلمستیا کړې ده.
له میرانشا څخه: د نیژدې مرستي لپاره دوهمه الوتک

د تازه دمو راتګ اوږد وخت وَ نیولؤ. له جنډولي څخه، چي له تنګي څخه شپږ میله ده، او له چګملی څخه بس څلور میله ده، تازه دمي په ۱۰:۳۰ بجې راوَ رسېدل. د تورن چیسمن تر کومندې لاندي شمالي سکاوټس له خاسَدارانو څخه د څپلی توی چوکی او مورچلونه واخیستل چي د تنګي په لور د غازیانو نور پرمختګ وَ دروي. د جنوبي وزیریستان سکاوټس کومندان، جګړن سکراین، د کنډَو شمال لور ته لوړه سیمه وَ نیوله. بریدمن ویلکاک، چي تر ټولو هسکه څوکه، لي، د نیولو هڅه یې کوله، له چګملی څخه دوه میله لوېدیځ ته تر ډزونو لاندي راغلؤ او په شا کېدلو ته اړ شؤ. د کومندان جګړن ډبلیو. ار. مول پلټنې پرېکړه وَ کوله چي د ویلکاک پَلټنه راوَ باسي چي په هغه لومه کي کېښې نهٔ وځي چي دی یې ویني. دوی په ۱۸:۴۵ بجې چمګلی ته راوَ رسېدل. د پرشاکېدلو په مهال، حوالدار متین سیپا اپریدی وَ ویشتل شؤ او کاري ټپي شؤ. بریدمن ویلاک هم په اوږه کېښي یو مړدکی وَ لګېدلؤ خو په متکي تر چګملی را وَ رسېدلؤ.

په دغه ترس کېښي مرستیا پولټیکل ښاغلي لویس له ملکانو یو ډک بس تیګي ته راوَستلؤ چي په غازیانو زور واچوي چي له ولاړ شي. خو هغوی هم بریالي نهٔ شول. »»» یو قران په لاس ملک په ډز وَ وژل شؤ. نور یوه شول چي دغه د پولټیکل د دفتر مخې ته پېنډې نهٔ دي چي دوی به خپلې بابولالي پکښي ویلې، دوی ډېر ژر په شا شول او خپل بس یې هلته پرېښودلؤ چي نوره یې هم لاره بنده کړه، په دغه نو نامېندي او پرېشاني نوره هم زیاته شوه.»»»

۱۶:۰۰ بجې له وانه څخه د بریدمن ایف. ډي. رابرټسن تر کومندې لاندي د جنوبي وزیریستان سکاوټس پلټنې راوَ رسېدلې. دوی یوه جګه څوکه وَ نیوله چي له دوړو خواوؤ له ډېر زیات جنګ سره مخامخ وه. برید زخمي شؤ خو غونډۍ یې وَ نیوله.

دیوځ ۵ کنډک شاهي هوایي ځواک دوه الوتکي له یوځ سره نیژدې راښکاره شوې؛ تل به یې د سړک په دواړو خواوؤ یوه الوتنه کول. پرلپسې یې د غازیانو سنګرونه بمباري کول، مګر دوی هم دومره اغېزمنې نهٔ وې لکه څومره چي یې تابیا او هیله لرله. یوه الوتک خو بیخي غازیانو وَ ویشتله. یو مړدک د تېلو په ټانک وَ لګېدلؤ او بل یې د چلونکي په پونډۍ، الوتکه په چګملی کېښي کېښناسلو ته اړه شوه. (وَ ګوری انځور ۶).

غازیان له پوټکنی څخه دېرش ګنټې وروسته سوکه سوکه ورک شول، مانا دغه چي د ۹ اپرېل له ۰۷:۴۵ بجو څخه بیا د ۱۰ اپرېل ۱۹۳۷ تر ۱۴:۰۰ بجو پوري. له هغه وروسته تنګی له لاریو، مړیو، زخمیانو او د جګړې له خځلو څخه پاک کړ شؤ.

د سي. ایچ. ټرینچ په وینا، د بهیر د مړیو شمېره نهه نوي وه چي اوه پکښي افسران ول. (بریدمن ډګروال بولم: مخ: ۸)

مړه: برتانوي افسران ۷، نور برتانوي سرتېري ۲؛ ای او ار ۲۷ ( د جنوبي وزیریستان سکاوټس ۷، یو خدمتګار او ۳ ملکي موټروانان)

زخمیان: برتانوي افسران ۵؛ بي او ار ۱؛ وي سي او ۲؛ ای او ار ۴۲ (د جنوبي وزیریستان سکاوټس ۴؛ خذمتګاران ۳ او ملکي موټروانان ۳)

د ډګروال بولم په وینا و د غازیانو د مړیو اټکل ۳۰ او د زخمیانو یې ۷۶ ؤ.

ډګرمن ډبلیو. اي. ایچ. کونډون (د فرنټیر فورس: مخ: ۱۹۱) کې د مړیو شمېر ۷ افسران او ۴۵ برتانوي او نور سرتیري او موټروانان؛ د زخمیانو شمېر ۵ افسران، ۲ جي سي او، ۴۳ برتانوي او هندي سرتیري او موټروانان یادوي. په وژل شویو کښې د ۳ پنجاب کنډک بریدمن جي. این. سکاټ هم ؤ.

جګړن جنرال جي. جي. ایلیټ (مخ: ۲۶۶) د مرګ ژوبلې په هکله وایي: «په بهیر کښې دوه پنځوس وَ وژل شول، چې د بهیر کومندان او شپږ نور افسران هم پکښې ول، او اوه څلوېښت زخمیان شول. ویل کېدل چې د غازیانو شپاړس وژل شوي ول او شپږ ویښت زخمیان شوي ول.»»

کومو غازیانو چي لومړی برید وَ کولؤ، شمېره یې له شپېتو تر اتیاؤ وه، مګر د دوی د پیل له برې وروسته تر ماښامه یو شمېره درې سوؤ ته وَ رسېدله.

په ۱۱ اپرېل، جنرال سکرین، ایل. سي. پیټیګرو څېلې تول کلا ته وَ لېږلؤ. پیټیګرو ځان د یوۀ ځایي کس غوندي جوړ کؤ او د پټکي په شملې یې په مخ باندي تربوزک (مول) وَ وهلؤ، د مسودو په یوې لاری کښې یې مزل کولؤ، ځکه چې جنرال سکراین دغسې هڅ وهلؤ چي که چیري غازیان اوس هم په شهور تنګي کښې وي، نو هغوی به د مسودو په لاری باندي ډزونه وَ نۀ کي.

د شهور تنګي له پېښې وروسته، خلیفه خویناخېل د سرکار تر ټولو لوی دوښمن شؤ. سرکار د هغه او ملګرو په چپه کاروایی پیل کړې. د جنوبي وزیریستان پولټیکل، پي. لویس، د مسودو له درو ملکانو سره په ۱ اګست ۱۹۳۷ په یوې الوتکي کښې ولاړی چې د هغه کور پیدا کي، خو هغوی په دغه کار کښې بریالي نۀ شول.

دویم ځل چې دوی کله هڅه وَ کوله چې خلیفه د بمباری په زور راوَ باسي، نو دغه لاندینی پېښه وَ شوه، چې د وزیریستان خلکو د خدای او حاجي صاحب دورهۀ (فضل) وَ بللؤ.

لکه ټرینچ چې وایي: یوه الوتکه چې ۲۵۰ بمونه پکښې بار ول، د لدې د فټبال په ډګر کښې چې ډېر ښوی ؤ په بېړنی توګه کوزه شوه، او ولاړه د کټارې له مزیو سره و جنګېدله، خو له نېکه مرغه بمونه وَ نۀ چول. د لدې پولونه او سړکونه په بمونو الوځول شوي ول، نو له ځکه د الوتکي چلونکی او هوایي توپچیان تر څو اونیو هلته بند پاته ول.

د جنوبي وزیریستا په ځای شمالي وزیریستان ته د نورو تازه دمو د لېږلو په اړوند پولټیکل لویس وایي: ««په ګرده سره اکر (حالت) ډېر بد دی. پوځ په شمالي وزیریستان کښې سره غونډ دی او زموږ په اړوند تر یو څه وخته پوري هیڅ پروا نۀ کوي، نو موږ یوازي پرېښودل شوي یو او خپل وس به کوو بله چاره نۀ لرو. په ځاني توګه زه ډاډه نۀ یم چې موږ به بریالي کیږو. زه نۀ پوهېږم چې دغه به ترکومه وخته پوري وي، خو په شکاره زما لوی لګېدلی دی (مطمین) چې رایاد کړم چې موږ خو یو کال وړاندي دغې پرېکړې ته رسېدلي وو چې « پره

جمبه»»»، *(سره ببړ يې که نو اېل يې که)* يوازينی تګلاره ده چي موږ دغه ټبرونه تر ولکې لاندي پې ساتلی شو.

پولټيکل لويس د ټبرونو او پرګنو د يوالي په اړوند سم ويل. که دوی سره يو وای نو يې له سرکار سره ښه ډغره وهلای شوه او ستر ګواښ يې ورته جوړولای شؤ. سرکار شمالي وزيريستان ته تازه دمي ور وَ لېږل، ځکه چي هغه پوهېدلؤ چي د ستونزې مېږوی او د يووالي نخښه فقير ايپي دی، او غوښتل يې چي دغه نخښه تبا کي.

## په اليګزبېنډرا مورچل باندي برید،
## له خیسورۀ چوکی څخه د انګرېزي پوځ وتنه او د وزیریستان په ګرد چاپېریال یې اغېزې،
## افغانستان او بندوبستي اولسوالی له ۱۲ اپرېل راهیسته ...

د شهور تنګي له ناورین وروسته، سرکار د اکر د ارامولۀ په موخه نور تازه دمي وروَ استول. له راولپینډی څخه تازه دمي په ۱۵ اپرېل راوَ رسېدل. جنوبي وزیریستان ته د تازه دمو د لېږلۀ په ځای، سرکار د شمالي وزیریستان په میرَلي کښي ځواکونه سره غونډ کړل، ځکه د ټولي لګې درګې مېړوی خو فقیر ایپي ؤ، او هغه لا اوس هم د توریخېلو په اوېچۀ کښي ؤ. سرکار غوښتل چي د هغه په چپه کاروایي وَ کي چي د اور د خپرېدلۀ مخنیوی وَ کي.»»»

د تازه دمو راتګ د وزیریستان د اولسونه لپاره څه نوی څیز نۀ ؤ. د سرکار په چپه جګړه نوره هم توده شوه؛ د غازیانو اوډلیو (منظم) ډلو به د سرکار په لاریو باندي ډزونه کول. هر یو د بګی ټرانسپورټ کمپنی د لاریو په لټه کښي ؤ چي د خپل توپک ازموینه ورباندي وَ کي. دوی په شهور تنګي کښي د بګي ټرانسپورټ د لاریو په شرمېدلو او تباهی ډېر خوښ ول. ځینو خلک په رنځړې (یو ډول تېزاب چي په وزیریستان کښي جوړېږي) په اوبو کښي واچولې چي اوبه له چیښلۀ وَ باسي.

په مامدخېل خاسَدارانو، چي د سرکار د «ښېل یي که نو اېل که» تګلارې په مټ یې د لري کړ شویو توریخېل خاسَدارانو ځای یې نیولی ؤ، څو شپې د توریخېل خاسَدارانو او غازیانو لخوا ډزونه کېدل.

په ۱۲ اپرېل، شاوخوا ۳۰۰ دربېلاري توریخېلۀ ښه شمالي وزیریستان کښي په سپینوام سکاوټ چوکی راجاروتل او درې ورځې یې کلابنده کړه . سکاوټانو هیڅ شور نۀ شۀ خوړلای. له میرَلي څخه د ټل په لاره کورمي ته سړک بېخي بند ؤ. سرکار له سړک سره نیژدې او په سپینوام کښي کلیو ته سختي ګوښني وَ کولي، توریخېلو هم د چوکی سکاوټانو ته حال ور وَ لېږلۀ چي دوی ته ښه سزه ورکړه نور به نو په دوی باندي ډزونه یوه څه کم کي. دوی پخپله ژمنه وَدرېدل او سرکار هم د سزا ورکولو کاروایي وَ ځنډوله.

### د الېګزبېنډرا کمر په مورچل باندي برید

دغه مورچل له رزمک پنډغالي څخه پینځه میله لري پروت دی. د ۵۰ – ۸۰ غازیانو یوۀ لښکر په ۱۹ اپرېل په مورچل باندي برید وَ کۀ کله یو شمېر سرتیري د اوبۀ راوړلۀ لپاره بهر وتلي ول. غازیانو د ګودر او مورچل شاوخوا پټکنې ورته وَ کوله. کله چي اته سرتیري ګودر ته راوَ رسېدل، نو غازیانو د توپکو خولي پې ورواړولي. ځینو غازیانو په دغو سړو باندې وروَ دانګل خو له چوکی څخه ډزونو یې مخه وَ نیوله. له ګودر سره نیژدې کسانو یوه تېروتنه وَ کوله. د ځانونو نېمره کولو په ځای هغوی جګړه پیل کړه، «««په دوی کښي اوه ځای په ځای وَ وژل شول؛ شپږ خو د غازیانو مخ ته وَ پرتل، ځکه چي دوی مورچل ته ورښکارۀ نۀ ول او د نورو سرتېرو لخوا کومک ورسره کېدلای نۀ شۀ. دوښمن (غازیانو) د دوی مړي وَ سیکوَل او د غونډی شا ته یې یووړل او هلته یې د دوی ټوپکونه او درستي لوټ کړې.»»»

يو مړی چي ساتندويه ټولی ته نيژدې پروت ؤ، توپک او درسته يې د ساتندويه ټولی کومندان نايک بچ کؤ. د غازيانو د مړيو پته وَ نۀ لګېدله؛ ټپالونه وايي چي په دوی کښي هم مړي شوي ول.

سرکار پوه شؤ چي شخړه جنوبي وزيريستان ته هم په غځېدلؤ ده، او ډېر ژر به د «د ستونزې مېړوی» دواړه جنوبي او شمالي وزيريستانونه پکښي ښکېل کي. د جنوبي وزيريستان ځوانان د خپلو ملکانو نۀ اورېدله، او له سرکار سره په ښځؤ کښي خورا بوخت ول. په ملا شېراليخان او توريخېل کليو باندي بمباريو او د جنوبي وزيريستان په جلالخېلو او عبدلرحمانخېل باندي د سرکار زور او ټينګار هيڅ شَمر نۀ لرلؤ. په بله وينا د خلکو په هوډ يې کومه ځانګړې اغېزه وَ نۀ کوله.

۲۲ اپرېل غرمه، سر جان کولريج ته يو ځل بيا د بنو، دېره سمايلخان او شمالي او جنوبي وزيريستانونو سياسي واکې ورکړ شوې. د وزيريستان رېزيډنټ (سياسي استازي) د دۀ د لوی سياسي سلاکار په توګه کار کولؤ. له ځمکنيو کاروايیو سره سره دۀ ته د هوايي بمبارۍ د راغوښتلو واک هم ورکړ شوی ؤ. په ځای د کوم نوي چل، جنرل سر کولريج يو ځل بيا هغه پخواني چلونه را مخ ته کړل چي پخوا يې هم ازمويلي ول: چي غازيان به سمي ته راکوز کو، سخت جنګ به ورسره وَ کو او په اسانی به يې پوپنا کو. جنرال ايليټ کاړي: «»« جنرال سر کولريج پکار وه چي هغه وخت پوهېدلی وای چي دی له يو داسي چا سره په جنګ اخته دی چي تر هغه ډېر زيات د جنګ کولو په تابيا پوهيږي چي دۀ يې سوچ کولی شؤ. پکار ده چي دی پوهېدلی وای چي فقير ايپي به دغسي مرګوني تېروتينه هيڅکله وَ نۀ کي چي له ګڼ شمېر غازيانو سره په دۀ باندي له ميرَلي سره نيژدې يا کوم بل ځای بريد وَ کي. خو بيا هم جنرل سر جان کولريج په خپل ګای باندي ټينګ ولاړ ؤ.»»»

«»« امر ورکړ شؤ چي ... که چيري دوښمن په لوی شمېر کښي جګړې ته راوَ دانګي. . . دغه د کولريج نيامت ؤ چي له ميرَلي څخه د خيسورۀ په لوري يوه کاروايي وَ کي»»»

جنرال د ۲ پلي ليوا کومندان ته وَ ويل . . . «»« که څه هم په برسېرنه توګه د کاروايی لامل خيسورۀ سکاوټ ته کومک رسول ؤ خو لويه موخه يې هغه ته زيات ترزياته تاوان وراړول ؤ که کله هم دغه چانس برابر شي.»»»

لکه د جنرال سر کولريج لخوا چي يې تابيا شوې وه، برتانوي ځواکونه په ۲۳ اپرېل له ميرَلي، ډامډېل او نورو ځايونو د خيسورۀ ناوې پَخوا روان شول موخه دغه وه چي غازيان جوتې جګړې ته را ايستلو وَ هڅوي. کله چي پوځيان روان ول، نو يو لوی شمېر غازيان په رزمک، شکتوی او شام کښي سره ټول شول. خو دوی تر ۲۷ اپرېل ماښامه وَ نۀ خوځېدل، کله چي يې د بيچې کشکی په مورچلونو بريد وَ کؤ او بمونه يې هم پکښي وَکارول. ډېر ځله دوی وَ کړای شول چي بمونه دننه مورچلونو ته ورغوځار کي چي تاوانونه يې واړول او نهه سرتيري يې زخميان کړی. په ۲ مي، پوځيان ټوچي پندغالي، ايدک او ميرَلي ته ستانۀ شول. په دغه ترڅ کښي، په خال خال ډزونو کښي په ځواکونو کښي پينځه سرتيري وَ وژل شول او ۵۴ زخميان شول. په غازيانو کښي دوه سوه مړه او پنځوس زخميان ول، خو دغه د څرکانو (جاسوسانو) ټپالونو ويل.

په ګرده سره، اولسونو ویل چي سرکار له حاجي صاحب سره جنګ وَ بایللؤ او ګرځېدلؤ ته اړایستل شؤ.  په جنوبي وزیریستان کښي د مسودو ملکانو د ملک خونیاخېل په سمبالولؤ کښي خپله بې وسي وَ ښودله.  ابدولی مسودو، د وانه او برمل امدزو وزیرو د غازیانو ملاتړ جوت کؤ. خلیفه شېراَلي خان د شکي له مسودو او وزیرو پرګنو غازیان راغونډ کړل.

حاجي صاحب غازیانو ته وَ ویل چي پرنګی له وېرې په خیسورۀ کښي نۀ شي پاته کېدلی او ډېر ژر به رزمک، وانۀ او نور ځایونه هم ایله کي.  پایله یې دغه شوه چي ډېر اولسونه نور هم په غزا ورګډ شول؛ له ځینو سره خو درسته (وسله) هم نۀ وه.  یو خوستوال له یوۀ اوږدۀ پړي سره راغلؤ چي یوې کچرې یا اس ته به یې ورواچوي.  ویکټر واینرایټ وایي: «« سکاوټ یو ښایسته ځوان بندي رواستلؤ چي په ملا یې یوه اوږده رسۍ پېچلې وه، کله چي موږ پوښتنه ورځخه وَ کوله، نو وَ یې ویل چي په خوست کښي اوازه خپره وه چي برتانویان بېرته روان دي او لوټ ښه اسان دی، نو ځکه دی هم د یوې کچرې یا اس په لټه کښي ؤ چي ورسره بو یې ځي.»» ځینه قبایلي وَ ګړي له اوښانو سره وانه ته راغلل چي د لوټ سامانونه وَ لېږدوي.

په جنوبي وزیریستان کښي په پوځیانو باندي له بریدونو سره سره، حاجي صاحب غازیانو ته وَ ویل چي بندوبستي سیمو ته هم خپلې کاروایۍ وَ غځوي.  می ۲، ۱۹۳۷، په د دېره سمایلخان د پیزو په جنوب-ختیځ کښي په پهارپور کلي یو برید وَ شؤ. سرکار د غازیانو مخنیو ته ورغلؤ. په ۲۳:۲۰ بجې، پوځیانو د غازیانو د یوې ډلې مخه وَ نیوله او له کجورۍ سره جوخت په ټاکوره نال یې په دوی باندي له نیژدې ځخه ډزونه وَ کول. په غازیانو نابېره ګوزار وَ شؤ، سره تیت شول خو وَ نۀ تېښتېدل.  یوه ګړۍ وروسته بیا سره راټول شول او له هرې خوا یې له برید کوونکو سره جګړه پیل کړه او د خپلو مړو ساري یې وَ کول.  یوه ګنټه وروسته دوه ډلې پوځیان راغلل او له غازیانو سره یې په جنګ شول.  ښځه د ګهیځ تر ۵ بجو روانه وه. پوځیانو ویل چي یو کس یې بایلی دی. خو نور ټپالونه وایي، پینځه سرتیري او پینځه اسونه وَ وژل شول او درې پوځیان زخمیان شول.  بل پلو،  څلو غازیان مړه شول، درې توپک او یوه ځه خوارۀ هم ورک شول.

## له سره کمره سره نیژدې په پوځیانو باندي برید

په ۳ می، شاوخوا ۱۲۰ غازیانو له مانزي ځخه ۱۵ میله لرې د بېټنیو په سیمه کښي له سره کمره سره نیژدې په پولیسو باندي برید وَ کؤ.  پولیس ترهغو کلابند ول ترڅو چي ډېره ژنده او ټانک ځخه کومک او له مانزي ځخه الوتکه د دوی ژغورنې ته راغله. په پای کښي غازیان هم په شا تګ ته اړ شول خو کوم تاوان یې وَ نۀ لیدلؤ.

دغه برید د ټانک په پولټیکلي چارواکو کښي خورا پرېشاني او وېره خپره کړه.  دوی د بېټنو ملکان پړۀ وَ بلل، ځکه چي برید د دوی په سیمه کي شوی ؤ، په تېره بیا دوی د دین فقیر چي د حاجي صاحب یو خلیفه ؤ په سمبالولؤ کښي پاته راغلي ول.  د بېټنو ملکانو او پرګنې ټولې لورېینې یې وَ ځنډولې او خاسَدرانو ته وَ ویل شول چي له نوکرۍ به یې لرې کي که خپلې دندې ته را نۀ شي.  د ډاېینې په توګه یې د کسانو د برمته کولو غوښتنه هم وَ کوله.  بېټنو زړه نا زړۀ دغه غوښتنه وَ منله، ځکه چي له هوایي بمبارۍ وېرېدل. مګر دین فقیر بیا هم یاغي پاته شؤ او د فقیر ایپي او غزا ملاتړ به یې کولؤ.

۱۰ – څپرکی

## د ابلانک غاښي جګړه
## ۷ – ۱۸ مي ۱۹۳۷
## او د غریوم پنډغالي رغېدا

۱۰۳۷ د مي په پیل کښي، کله چي غازیانو په بندوبستي سیمو کښي بریدونه کول، جنرال سر جان کولریج په جنوبي وزیریستان کښي په پوځي چلونو لګیا ؤ، چي په برسېرته توګه یي دغه لاندیني دوه موخې لرلې:

أ. چي غازیانو یوې دغسي جګړې ته راوَبولي چي د برتانوي ځواکونو لپاره ګټوره وي.

ب. چي حاجي صاحب وَ نیسي، چي په ارسلکوټ کښي یي خپل مېخزین جوړ کړی ؤ.

سر جان کولریج دغه دواړه موخې وَ نهٔ ګټلې ځکه چي لامل یي څرګند ؤ. اوس غازیانو ښه زدکړه کړې وه چي له انګریزي چارواکو او ځواکونو په څه ډول چارې تر سره کي. چارواکي د حاجي صاحب په ژوندي لیا مړهٔ نیولو کښي هم پاته راغلل. بس دوی دومره خوښ ول کله چي خبر شول چي حاجي صاحب د یو څهٔ وخت لپاره له وتلی دی. جنرال سر کولریج یو زبردست ځواک سره راغونډ کړ، لس زره او شپږ سوه مېړونه او څلور زره بوډګان، چي مشري یي جګړن جنرال اې، ایف. هارټلي کوله، په چا باندي چي جي.ډبلی.اې. لویس تور لګولی ؤ چي «یو ناپوه کوچنی سړی دی». هغه په غرنی جګړې هیڅ پوه نهٔ ؤ.

جنرال هارټلي ارسلاکوټ ته د تللو لپاره د سرې مېلې او ابلانک کمره لاره خوښه کړه. د ابلانک کمره لاره ډېره اړه ده،له شمال څخه د جنوب په لوري شاوخوا تر درو میلو پوري د دېوالهٔ غونډي سیخ پورته شوی غر دی ، دغه ځای له سرې مېلې څخه ۱۱/۲ میله لرې دی. یو انګرېز افسر هم په دغه لاره بلد نهٔ ؤ. سکاوټان به کله کله په دغه لاره تلل راتلل، نو څه ورباندي بلد ول.

هاجي صاحب د جنرال هارټلي په تابیا خبر شؤ. هغه غازیانو ته وَ ویل چي ارسلاکوټ ته په ټولو لارو سنګرونه جوړ کي او د ایشا او رزمک په منځ کښي دي په پوځیانو بریدونه وَ کي. هم یې وَ ویل چي د رزمک لیوا به له بې ګوزاره پرې نهٔ ږدي چي رَزنی ته وَ خوځیږي. نو ځکه یې پول څو ځایه مات کړ چي د لیوا تګ له خنډونو سره مخامخ کي. د اوبو ګودرونه یې هم وران کړل او تېزاب یې هم پکښي واچول.

د انګریزي پوځونو له خولې، په خیسورهٔ کښي نی د ۲،۴۰۰ غازیانو نیژدې یمایي د افغانستان له پکتیا او نورو سیمو راغلي ول. خو د هغو غازیانو شمېره چي د لارې په اوږدو کښي یې ځانونه پټ کړي ول کره نهٔ وه څرګنده. د حاجي صاحب ورور، شېر زمان، د شام ډاګ ته تلل ؤ چي یو ځواک راغونډ کي چي د هغو انګرېزي ځواکونو مخنیوی وَ کي چي دوی یې ارسلاکوټ د راتلو اټکل کولؤ. پرنګي چارواکو ته هم څرګنده شوې وه چي غازیان په شام ډاګ او د شام نرې، د شام لګډ په غریوم او د سرې مېلې لګډ په کنډونو کښي ګرځي راګرځي.

پوځونو لومړی په دوسَلي واړول خو د وروسته د اوبو له کمې په ۸ مي د دوسَلي کلي لوېدیځ ته یوهٔ پونډغالي ته کډه شول. په ۱۱:۰۰ بجې د پونډغالي لمرلېدهٔ او جنوب لوېدیځ ته غازیان راڅرګند شول او ډزه یې پیل کړه. په ۱۴:۰۰ له جنوب لویدیځه نور غازیان راغلل او په جنګ ورګډ شول. په ۱۷:۰۰ بجې د غازیانو او پونډغالي ترمنځ ۲۰۰ ګزه واټن ؤ. په ۱۶:۰۰ بجې دغسي دوړې والوتلې چي شاهي هوايي ځواک یې بې اغېزې کړ. پای په ۱۸:۰۰ بجې د پوځ کومندان پرېکړه وَ کوله چي بېرته د دوسَلي پونډغالي ته په شا شي.

د پوځ مرګ ژوبله: يو برتانوی، ۲۰ ګورکيان، او يو ټوچي سکاوټ مړه؛ او يو برتانوی افسر تورن جي.ايل.ايس. واغن د ۱.۶ جي.ار زخمي ؤ. د غازيانو مرګ ژوبله په کره توګه څرګنده نۀ وه.
په دغه ترس کښې، شاوخوا ۱۵۰ غازيانو په رزمک ليوا باندې بريد وَ کړ، چې د دوړو له لاسه يې ښه نۀ شول ليدلای. او غازيانو بيا دومره ګټه ورڅخه واخيستله چې بېخي د رزمک تر دروازو ورپسې ول. رزمک ليوا يوؤلس پوځيان وَ بايلل؛ او د سرکار له خولې، ۲۰ غازيان مړۀ او زخميان ول.
په ۱۰ مي ۲۱۰۰ بجې غازيانو په تالندې او توپان کښې بريد پيل کړ خو پوندغالي ته ورنَنوتلای نۀ شول. په ۱۱ مي غازيان وَ ليدل شول چې د سرې مېلې لګډ په ختيځه او لوېديځه غاړه يې سنګرونه رغول. دوی غوښتل چې د شام ډاګ شمالي سيمې وَ ساتي. په ۱۰ مي، دوی شاوخوا د څلورو سوؤ مېړو يو لښکر په رزمک کمر پرېښودلؤ او نور يې په نورس سيمو کښې تيت کړ، چې د پرنګيانو د اټکل له مخې يې شمېره څلور زرو ته رسېدله.
جګړن جنرال په ۱۱ مي، ۲۱۰۰ بجې په توره تروږمۍ کښې خپل پوځونه وَ خوځول. د ګيمسن، جورج لامين، او جان پريندرګسټ تر مشرۍ لاندې د سکاوټانو اته پلټنې په سر کښې وې. دوی د مزريو څپلې په پښو کړې وې او يوازې ټوپک او کارتوس ورسره ول. دوی ۷۲۰ هغه کچرې خوښې کړې چې اونګارې يې نۀ وهلې، ځکه د بوډګانو اونګارو ټوله کيسه ورانولای شوه او د دوی تګ يې بربنډولای شؤ. دوی له نيمې شپې يوه ګنټه پس د ايبلانک غاښي لوړو ته وَ رسېدل. هلته دوی د غازيانو ببکۍ واورېدلې او وَ يې ليدل چې ايبلانک نرۍ هم ټمبه دی.
« د ليوا لپاره تګ بېخي ګران ؤ چې دغاښي په ښويو سيخو ولاړې تېزو باندې ختل ؤ، کچرې خو هسې پرې ښوَيېدلې، بايد هرې يوې دوۀ فوټه لوړ ټوپ وهلی وای. د چړې غوندې تېره غاښي په دواړو خواؤ دغسې ژورې ښويندی وې چې کله به يوه کچره پرې وَښوېدله نو تر هغو به رغړېدله چې تر څو به يوې غنې ليا ونې نۀ وه راوَ نيولې»»
د ګورکيانو جان ماسټر وايي: ««« موږ هڅه وَ کوله چې چوپ وَ اوسو، خو د غونډيو په چپه چوپتيا کښې زموږ د تګ ځوږ دومره لوړ ؤ چې بيان يې نۀ شي کېدلای. بوټونه په کاڼو لګېدل، د کچرو واګې شرنګېدلې، نالونه چې به تيږو سره وَ لګېدل نو بڅرکي به يې پورته شول ... کله چې به په بېلچو يا راډيو بار کچرې بې تولې شوې او سل فوټه کوز ګړنګ ته به وَ لوېدلې نو په موږ به د نابېره چيغو يو توپان ګډ شؤ. د غاښي په دواړو خواؤ ورک ول، په تکو تورو تيارو کندو کښې يې کچرې لټولې. ما په لسو ژبو کښې ښکنځلې واورېدل او سرتيري مې وَ ليدل چې د کچرو غاړې يې غوڅولې.»»»

ګيمسن چې له جارج ليمن او پرينډرګاسټ سره يې د سکاوټانو مشري کوله، ليکي: «سربېره پر دې چې د کچرو له لوېدلو سره چې به کله کله درز غوبل جوړېدلؤ ، زموږ چارچاپېره په لوړو ځايونو کښې غازيانو هم يو بل ته چيغې او سورې وروَهلې»»». دغه وېرونکې لنداره وه، ځکه چې ګيمسن خو لا له مخه زړه ختلی ؤ، اوس ډګرمن مېنارډ ورته وَ ويل چې په مخ زور وَ کي او د غاښي په دواړو ډډو غونډۍ دي وَ نيسي، هغه ځای چې ليوا به پرې تېرېدله. مګر ګهيځ په خړه وړه کښې کله چې پوځونه په مخ وَ خوځېدل نو له مخ لوري او د غاښي له دواړو ډډو تر سختې ډزې لاندې راغلل. چې څه پېښ شول، په دغه اړوند پرينډرګاسټ ليکي:
««« نابېره چټک ډزونه پيل شول . ما شا ته وَ کتل نو تر ما لاندې مې د سپېدو په زياتېدونکې رڼا کښې د سيکانو يو کتار وَ ليدلؤ چې ډېر يو بل ته سره نيژدې ول – دومره سره جوخت ول لکه په يوې نرۍ رسۍ چې تېرېدل. په ډزونو کتار دغسې کروغ شؤ لکه د جوارو په پټي چې سيلۍ راشي او هغه ټوله روزنه چې د دغسې سختې شېبې لپاره يې ورکړې وه هېره کړه او سره ګډوډ شول. ما يو ښه ارام خو لوړ غږ واورېدلؤ. د هغوی کومندان، ډګروال کېز، ؤ چې

دوی یې سمبېدلو ته راوَ بلل. دوی هم دی ښه پېژندلۀ نو ځکه یې ډېر ژر د هغه وینا وَ منله. سیکان مخ په وړاندې روان ول. د دوی مرستیا کومندان، ټاینې فیرویل، ته چې ډېر دنګ سړی ؤ زما پام وروا وښتلۀ. زه د هغه خوا ته په خاړپوسو ورغلم ما ګومان کولۀ چې هغه ټپي شوی دی ځکه چې د هغه په سر یوه سره پټی وه. مګر دغه د هغه د خول سره لیکه وه چې هغه ځکه هیسته کړې وه چې له لرې وَ نۀ برېښي. له ما سره نیژدې یوه سکاوټ پرلپسې او په سوچ ډزونه کول. هغه د خپل پټکي خاکي خولی راوَ ایستله او ماته یې د کربوسکي (مالوچو) یوه غړوسکه راښکاره کړه. یو مړدک پوري اوري تر وتلی ؤ خو د هغه ککری بس یو اینچ ورڅخه بچ پاته وه... غازیان له یو څه مرګ ژوبلې وروسته چې کله زموږ هوډ وَ لیدلو نو وَ تیښتېدل.

سکاوټان چې درې افسران دوه نور سرتېري یې وژل شوي ول، تر ایبلانک نرې پورې وتل. سکاوټانو غرمه د لیوا رارسېدلۀ وروسته د پونډغالي لپاره یو ځای وَ ټاکلو او په هغه یې «کورنېشن کمپ»» نو کښېښودلۀ. په ۱۸ مې پوځیان او سکاوټان یوه کلي ته وغلل چې غیروم یې بللۀ. د دوی موخه د کلي ځینو کسانو برجونه ورانول ول چې د فقیرایپي ملاتړ یې کولۀ. مخکینیو سکاوټانو، چې د ښی ډډې ساتنه یې کوله، وَویل چې تر یوې ونې لاندې یو څو کسان دي.

لکه پرینډرګاسټ چې پخپله په واز کومې منې چې غیروم ته په لاره نۀ یوازې دی او د دۀ ملګري افسران سخت وېرېدلي ول، بلک غیروم ته له رارسېدلو سره سم، دۀ، د دۀ ملو افسرانو او سکاوټانو او پوځیانو یوه بله سخته جګړه وَ لیدله. دغه ځل نۀ یوازې غازیانو بلکه یوې سختې ږلی هم دوی سزا ورکړه. پرینډرګاسټ لیکي: «««کله چې موږ مېشتېدلو او د پونډغالي بریدونه مو ټاکل، چې خوراپه ښه توګه مو تر سره کړل، خو یوه سخته ږلی وَ شوه، ولاړې کیږدۍ یې راوَ نړولې، کچرې یې سره ګډې وډې کړې او مځکه یې دومره ښویه کړه چې ټول سامانونه او توپکونه به ورباندې دلته او هلته رغښتل. موږ د منا (اشپزخانه) په کیږدۍ په لکړو پورې نښتي وو او یوډول مو د هغو کچرو مخې ته کښېښودله چې ږلی وهلې وې ، لیونۍ منډې یې وهلې او هرچېرته یې خپل بارونه غورځول.»»»

د غیرم د مزله په هکله د ۱۸ مې یو بل ټپال وایي چې کومندانانو غوښتل په هرډول چې وي دوی باید غریوم ته وَ رسیږي. «««لکه چې وَویل شول، د ټولی کومندان چې وَلیدل چې څه کیږي نو یې خپلې وروستۍ پلټنه شماره ۱ په مخ بوتله ... خو پلټنه تر ډزونو لاندې راغله چې له ډېر نیژدې وربانديې کېدل، ډېر ژر یې څلو کسان وَوژل شول، دوښمن ډېر ژر د دوی توپک یووړل له مخه تر چې کوم څوک یې مخنیوی وَ کي.»»»

وریږسې په نوره جګړه کښې د ګورکیانو او جګړن ویالنس درې کسان وَ وژل شول او درې نور یې ټپیان شول. په دغه ورځ تر ۱۴۲۰ بجو اوه هندي سرتیري مړه او درویشت نور ټپیان شول. د غازیانو اوه ډېر مړه او اوه ډېر کاري ټپیان ول، څرګنده ده چې د دغه شمېرې د چارواکو د څرکانو (جاسوسانو) لخوا ورکړ شوې وې چې ښځې زیاتې ښودل شوې وې.

یو کس چې له ډېره نیژدې ویشتل شوی ؤ، هغه یو ګورکی ویشتندوی، تیل بهادر ؤ. جان ماسټر یې د وژلو په اړوند دغسې وایي:
«««په کینه ډډه، ویشتندوی تیل بهادر په خېټه او سر وَ لګېدلۀ او ځای په ځای مړ شؤ. قبایلانو د دۀ په مړي وروَ دانګل. هغه زموږ تر ډزو لاندې پروت ؤ، خو دوی دومره وخت پیدا کؤ چې د دۀ په ګېډه خنجر وروَ منډي او تر کمربنده پوري وڅیرله، او ډېر ژر یې د هغه درسته ، او د

کاړتوسو کڅوړې واخیستلې. په ځوابي برید کښې موږ د هغه مړی راوړلۀ، چې تر یوه سړي زیاته د وینو یوه ډیرۍ شوې بوجۍ ښکارېدله، هغه سره نیښتېځلی ؤ او لاسونه یې په وچې شوې وینې لړلي ول. ډاکټر هغه د اوښ په کجاوې کښې واچولۀ چې په بله خوا کښې یې بل مړی ؤ، او بیا یې یوه کمبله وربانديې واچوله. کله چې اوښانو موږې موږې مزل کولۀ نو مړي او ټپیان به هم په دغو کجاؤ کښې کښته پورته کېدل. دغه اوښ چې کله زموږ مخې ته راوَرسېدلۀ نو د تیل بهادر یو لاس بهر راوتلی ؤ او له تزکرې څخه بهر ټالی وهلې او مړغنده زنګېدلۀ. یو ویشتندوی چې له ما سره نیژدې ولاړ ؤ یې کمبله پورته کړه چې وَ یې ګوري چې دغه د چا لاس دی، بیا یې د هغه له ټالۍ وهونکي لاس سره ښه توده سترې مۀ شې ورسره وَکوله، په ریښتیا یې ښه په کړې وربانديې وَ خندل، او هم هلته ولاړو ملګرو ورسه وَ خندل. دوی ټول د تیل بهادر ملګري هم ول.»»»

دوی په دغه اکر کښې ولې خندل، څوک پرې نۀ پوهیږي. یوازې سړی دومرې ویلای شي چې دوی به نېشه وي، هیجاني به وي یا به ډېر ساده ول.

له یوه اوږده، سخت او ګران مزله وروسته، په ۱۸ مې لیوا ارسلاکوټ ته راوَ رسېدله. جان ماسټرس د دغه مزله په اړوند دغسې لیکي:
«»« کله چې موږ ارسلاکوټ ته وَ رسېدلو نو فقیرایپي او د هغه ځاني ملګري تللي ول، مګر د دوی ځمځې هلته وې، چې خولې یې اوس هم د دوی د پخلي په لوګیو تورې وې. له یوه څخه خو لا اوس هم لوګی پورته کېدلۀ، موږ پوهېدلو چې دی به اوس هم ډېر لرې نۀ وي تللی.»»»

دغه ځمځه دوی د شاهي هوایي ځواک په هغو درو بمونو والوزوله چې دلته یې ناچاودلي پیدا کړل. د بم یوه پارچه د یوۀ پوځې ډم (نایي) په ملا وَ لګېدله، چې څلور سوۀ ګزه لرې اور ته کړوپ ولاړ ؤ. هغه ځای په ځای مړ شوۀ، او تش په نامۀ ملګرو یې بس دومره وَویل، چې غم یې مۀ کوئ، پېښې خو کیږي.

پوځ او سکاوټانو د حاجي صاحب اډه تباه کړه خو د هغه په نیولۀ کښې پاته راغلل.

د ایبلانک د کاروایۍ په اړوند ګیمسن په ۲ جون ۱۹۳۷ وَ لیکل: «»« د دغې کاوایۍ تر ټولۀ بیخول (بد) اړخ دغه ؤ چې انګریزي لیوا بېخي بېکاره وه، چې پخوا یې د جنګ کولۀ ډېر ښه نوم لرلۀ. هغې ته پټکنی وَ شوې، نابېره بریدونه وربانديې وَ شول، د مزله په منځ کښې راګیره کړ شوه، توپکونه یې وَ بایلل، مړي او زخمیان یې تر شا پرېښودل، او دغسې نورې ډېرې کیسې.»»»
«»«دوی بېخي نامېنده دي او د دوی ټوله مرګ ژوبله د دوی د خپلې بېکارۍ له لاسه ده. زه وایم چې دوښمن دوی ښه پېژني چې یو اسانه ښکار دی او د راتګ لاره یې ځاري.»»»

ډګروال ایچ. ار.سي. پیټیګریو یوه یا دوه ورځې پس له وزیرستان سکاوټانۀ سره ؤ. بل له دۀ سره سوبېدار خانباز ؤ. ډګروال پیټیګریو لیکي: «»« زه له یوې ډلې سره په ګشت جنتې ته روان وم چې موږ له نیم درځن مسودو سره مخامخ شوو چې درې اوښان هم ورسره ول. دوی په وچ شوې براري لګډ کښې راروان ول. دوی هیڅ د شک وړ نۀ ښکارېدل. مګر کله چې موږ تر دوی تېر شوو، نو په موږ یو ډېر بد بوی وَ لګېدلۀ، دمره بد ؤ چې بې پوښتنې مو نۀ شۀ پرېښودلای.»»»
«»« ما له خانباز وَپوښتل چې دغه څه بلا ده، خو خپله پزه مې بنده کړې وه. هغه په زوره راته وَ ویل، «مسود دي»، «بس مسود دي، د دوی ټولو دغسې بد بوی ځي».

دغه د دهٔ لېمون (رايه) ؤ، د پرېشانئ په دغسي وخت کښي ټولو سکاوټانو او ټولو قبايلانو بس دغسي يو لېمون لرلؤ.
له مورږ سره چي کوم مسودان ول، هغوی په خپله ناتواني ښه پوهېدل، د دوی رنګونه تور شول او په خپلو منځو کښي يې پسپوسی شؤ؛ دغ پسپوسی جوړ د خانباز د مور او پلار نيوکونو او ځو پښتو په اړوند ، کېدلای شي له ګشت سره د هغه د شاندي (اړېکيو) په اړوند يا د دهٔ د خور د عجيبه خويونو په اړوند ؤ. ما خپله خندا نيمه پټه کړای شوه، خو زما مسودان ډېر خوښ نهٔ ول. بيا چټک شوم چي له دغه بويه ځان وَ باسم. بيا زه او خانباز نابېره دواړه په يوه وار وَ درېدلو او يو بل ته مو وَ کتل، دواړو يو چورت وَهلؤ. نوره نو کومه اړتيا نهٔ وه چي زه دي دهٔ ته د څه کولؤ وَ وايم. هغه پخپله د مسودو اوښان وَدرول او پوښتنې ورڅخه پيل کړې.
«ستاسي په اوښانو څه بار دي؟»
«مړي»
مورږ هم دغسي چورت وهلی ؤ! بل دغسي بد بوی چيري هم نسته، او ګرمي هم وه.
«څه ډول مړي؟»
«ګوره لوګ» انګريزي پوځيان!
«له کومي خوا؟ تاسي له کومه کړل؟»
د خانباز پوښتنې له شک سره چټکي شوې؛ د اوښانو ځاروانانو هم چټک ځوابونه ورکول.
مورږ د دوی کيسه واورېدله. دوی د شام ډاګ د سيمي ول چي تر نيشپا نرې ها خوا پروت دی او برتانوي پوځيان له وزيرو سره په يوې جګړې کښي وژل شوي ول کله چي دوی د پوځې ليوا په ګرځندهٔ کتار باندي بريد وَکؤ چي له بنو يا رزمک څخه راروان ؤ. دغه مړي هلته پاته شول او له جګړې وروسته مورږ پيدا کړل، په اوښانو مو بار کړل او اوس يې په سره راغه کښي پولټيکل صاحب ته وروړو، چي هغه وخت بابينګټن ؤهلته، او دغه د دهٔ کار ؤ چي د دوی کيسه واوري بيا که باور پرې کوي که يې نهٔ پرې کوي دغه نو د دهٔ خپله خوښه وه. خو په هر ډول دغه کيسه څه نا څه ريښتيا هم وه. نو مورږ يوه بدرګه بېله کړه چي دوی سره راغه ته وَ رسوي او مورږ په خپله لاره ولاړو، خوښ وو چي د ورستو مړيو د پېژندلو له ګران کار څخه بچ شوو چي ځينه پکښي خامخا د انګريزي پوځيانو ول. دوی به خامخا د وزيرو (يا مسودو) لخوا بربنډ شوي ول، کېدای شي چي غړي يې هم غوڅ شوي وي، او له بده بويه يې جوته وه چي پېژندنه به يې هم خورا ګرنه وه، ځکه چي په مرګ يې وخت اوښتی ؤ.

کله چي مورږ بېرته سره راغه ته راوَرسېدلو نو مي له بېز څخه واورېدل چي دوی ريښتيا هم برتانوي پوځيان ول، او مورږ ته پټه وه چي په اوس وختونو کښي د ټوچي په سيمه کښي يوازی يو برتانوي کنډک جنګېدلی ؤ، نو دغه مړي به خامخا د هغه کنډک ول. دغه کنډک د لوړې سيمي په کنډکونؤ کښي ډېر نامتو ؤ، او د جنګ اوږد تاريخ يې لرلؤ، مګر دغه وار يې په وزيريستان کښي لنډه دنده ښه کامیابه نهٔ وه.»»»

په ۱۹ مي غازيانو په غريوم پنډغالي ، پوځ او سکاوټانو باندي بريدونه پيل کړل چي کله به يې هم وار برابر شؤ. يوځل خو کله چي د ۱۲۰۰ په شاوخوا کښي پوځ يوه پلټنه پنډغالی ته په شا کوله نو تر سلو زياتو غازيانو چي د ټوچي سکاوټ غوندي خړ کالي يې اغوستي ول په هغه پلټنه باندي د لاسي بمونو او توپکونو بريد وَکؤ. پلټنه بېخي ګډه وډه شوه او نهٔ پوهېدله چي څه وَ کي. پلټنه دوه کسان وَ بايلل او نهه نور يې ټپيان شول.

د پنډغالي لخوا جوابي بريد وَ شؤ خو هيڅ مرسته يې وَ نهٔ کوله ځکه چي ډېر ناوخته ؤ، پوځ اټکل کولؤ چي يو دوه غازيان يې مړه ياو ټپيان کړل چي په پنډغالي يې ډزونه کول.

په یول برید کښي، کله چي ځینو پوځیانو د غریوم په جنوب ختیځ کښي یو مورچل جوړولؤ، نو غازیان پټ پټ په خاړپوسو پنځوس گزه نیژدې ورغلل مګر یوۀ بل مورچل وَ لیدل او په ټوپکو او لاسي بمونو یې د دوی مخه وَ نیوله.

کله چي پوځ په ارسلاکوټ باندي د بریدکولو تابیا کوله نو حاجي صاحب په ۲۰ مي په باوانه منځه کښي ملک خونیاخېل ته ورغلؤ. د یوې برتانوي سرچینې له خولې، که څه ملا فضل الدین په ښکاره څه نۀ ویل خو له حاجي صاحب سره یې شانده (رابطه) لره او د غزا لپاره یې پیسې او مرسته هم ورکوله.

## ۱۱ – څپرکی

۱ په عمر تته خېل او په پیزو کښي په اورګاډي باندي برید ۲۴ مې ۱۹۳۷
۲ په ارسلا کوټ برید ۲۶ مې ۱۹۳۷
۳ په شارونګي نري کښي ښخه

کله چي د غازیانو یوې ډله د دته خېل او بویا تر منځ یو پول وران کؤ، د ۷۰ غازیانو یوۀ بل لښکر په بنو اولسوالی کي په یوۀ کلي برید وَ کؤ. دغه کلی عمر تته خېل نومېدلؤ، د پیزو په شمال کښي ۹ میله، برید د ۱۹ – ۲۰ مي په شپه وَ شؤ. له سربېره په یو شمېر توکیو، څلور هندوې نجونې هم برمته کړ شوې.

له پیزو شپږ میله شمال خوا ته د شهبارخېل کلي یوۀ شکومي (دوست) د غازیانو مرسته کوله. غازیانو نجونې هغه شکومي ته وَسپارلې. تر ۲۴ مي، د غازیانو شمېره ۳۶۰ ته وَ رسېدله؛ چي ډېری یې بېټنیان ول.

یوه ډله غازیانو هڅه وَکوله چي د اورګاډي د پټلیو ځینه توکي وَ باسي چي اورګاډی له لارې وَ غورځوي. په دغه وخت اورګاډی راوَ رسېدلؤ. کله چي یې غازیان په پټلی باندي وَ لیدل، نو اورګاډي شپېلی وَ وهله. یو سړی چي د اورګاډی په سر کښي سپور ؤ په غازیانو یې ډزونه پیل کړل چي وَ یې شړي. چلونکي، چي د مرګ وېره پرې راغلې وه، اورګاډی وَ درولؤ. غازیانو چي بېرته خپل ځانونه سره سمبال کړل، په اورګاډي یې له یوه سره بیا تر بله سره جوابي ډزونه یې پرې وَ کول، درې بدرګچیان یې وَ وژل او څلور نور یې ټپیان کړل. مګر له مخه تر دې چي دوی اورګاډی په خپل لاس کښي واخلي، چلونکي هغه بېرته چالان کړای شؤ. پوځیانو له روان اورګاډي څخه په غازیانو ډزونه کول او یو څو یې پکښې مړه کړل. په دغه ترڅ کښي، شاهي هوایي ځواک هم راوَرسېدلؤ او پوځیان یې تر پوښش لاندي وَ نیول.

له غازیانو سره مرسته، د هندوؤ نجونو برمته او په اورګاډي باندي برید کښي برخه اخیستلؤ له امله شاهي هوایي ځواک له کوټ سره نیژدې بره کلي، رغژی کلی اوله عبد الله کهوټو سره نیژدې لواژي کلی، چي د بېټنیانو کلي ول، بمباري کړل. د اوبو ژرنده او له کوټ سره نیژدې د دین فقیر کلا یې هم بمباري کړه. مګر د ګوښونو او سزاګانو سره سره بیا هم دین فقیر کله هم د سرکار په چپه غزا پرې نۀ ښودله او د حاجي صاحب یو رېښتونی خلیفه پاته شؤ.

## په ارسلاکوټ ورتګ، ۲۶ مې ۱۹۳۷

کله چې شاوخوا هره ورځ په بندوبستي اولسواليو او وزيريستان کښې بريدونه کېدل، سرکار يو ځل بيا پرېکړه وَ کوله چې د دوی د ټولو «رېړونو ځاله» هيسته کي او په ارسلاکوټ د حاجي صاحب اډه تباه کي. پرېکړه يې وَ کوله چې له ټوچي سکاوټ سره يو ځای له غريوم څخه نور پوځ په ۲۶ مې ارسلاکوټ ته وَ رسوي. مګر په ۲۵ او ۲۶ مې د باران او ږلۍ يوه توسنده (شديد) توپان د دوسَلي سړک وران کؤ، په تېره بيا د کچ او کارپوريشن کمپ تر منځ، په ټولو خوړنو کښې نيزونه راغلل. ورپسې غريوم پنډغالی هم تاواني شؤ. پوځيان په ۲۷ مې وَ خوځېدل او بې له کومې نيښتې د پاسلکوټ تر شمال پوري وَ رسېدل. له هغه وروسته د غازيانو کوچنيو ډلو په دوی باندي بريدونه پيل کړل. په ۱۹۲۵ بجې بريدونه زيات شول ځکه چې نور غازيان راوَ رسېدل.

تر ټوله سخت بريد په تېز باران کښې وَ شؤ کله چې شاوخوا ۵۰ غازيانو هغه وخت په يوهٔ مورچل باندي بريد وَ کؤ کله چې پوځيان له خپلو مورچلونو څخه بېرته روان ول. دوی موچل وَ بايللؤ او شپږ کسان يې وَ وژل شول او اوه نور يې زخميان شول. يوې بلې پلټنې پاته سرتيري وَ ژغورل.

پای، پوځيان ارسلاکوټ ته راوَرسېدل خو وَ يې ليدل چې شاهي هوايي ځواک لا له مخه په درندې بمبارۍ هغه ځای تباه کړی ؤ. خو حاجي صاحب وتلی ؤ. کله چې پوه شول چې نهٔ شي نيولای نو په پوځيانو د کاروايی پيلولو تابيا يې بېخی کړې نهٔ وه.

## د شارونګي نری جګړه: ۲۳ – ۲۴ جون ۱۹۳۷

په جنوبي وزيريستان کښې د پاڅون د مخنيوي لپاره سرکار پرېکړه وَ کوله چې د وانه او رزمک تر منځ په توروام کښې يو پنډغالی جوړ کي او د پنډغالي د رغولو لپاره يې له رزمک څخه د رزمک ليول له څلوېښتی څخه د لرې کولو تابيا وَ کوله. جنوبي وزيريستان سکاوټ ته وَ ويل شول چې د کار د اسانه کولو لپاره د توروام شمال ختيځ ته ۶ ميله لرې په شارونګي نري کښې پونډغالی جوړکي. رالف وينګ او د جنوبي وزيريستان ډيوېډ ويليم دغه تابيا وَ نهٔ منله، ويل يې چې په نيم ميل کښې دننه هيڅ اوبه نشته. خو پوځ د دوی په خبره چورت نهٔ کؤ خراب او د خپل امر په ترسره کولو ټينګ شول.

کاروايي په ۲۳ جون په ۰۷۳۰ بجې پيل شوه، لومړی رزمک ليوا له څلوېښتی پنډغالي څخه لرې کړ شوه. ټوچي ليوا تر شارونګي نري پوري د دوی تګ بدګه کؤ. که څه هم ليوا له کومې سختې نيښتې سره نهٔ شوه مخامخ، خو يون يې ډېر سوکه ؤ او په ۱۹۲۰ بجې توروام ته وَ رسېدله. په لاره يې د دوؤ کسانو مرګ ژوبله وَ ګالله، کومندان افسر بريدمن ډګروال پي. ګرانټ وَ وژل شو او يو سرتېری زخمي شؤ.

په شارونګي نري کښې، کله چې سکاوټانو د ټوچي ليوا لپاره د ودانۍ جوړولو ته تيري راغونډولې، ۲/۱۱ سيکان او ۱/۱۷ ډوګران چې اوس اوس رارسېدلي ول، تر درندو ډزو لاندي راغلل. يو څو شېبې وروسته، سيکان، ډوګران او تېره بيا ادم خېل اپريديان لاس په لاس ښخه اخته شول. دوه ادم خېل وَ وژل شول او د دوی د جمادار په ګډون اتهٔ نور زخميان شول. پوځ او سکاوټان له غونډۍ کوزېدلو ته اړ ايستل شول خو غازيان يو ګزه لرې ورپسې ول.

کله چي جګړه روانه وه د شمال له خوا یوه زوره ړلۍ راغله چي د غازیانو همت یې نور هم لوړ کړ. په ړلۍ کښي دوی دوښمن ته ورنیژدې شول، دومره نیژدې چي یو څو ګزه واټن یې تر منځ ؤ. د جنوبي وزیریستان سکاوټ کومندان، ډیوېډ ویلیم، سوبیدار مهبت خان اکاخېل اپریدي ته وَ ویل چي له خپلو درو پلټنو سره دي د دوی کومک ته ورشي. سوبیدار مهبت خان په غازیانو برید وَ کړ او وَ یې کولای شول چي پوځ او سکاوټان له نور تاوان څخه بچ کي.

د لیوا څلور وَ وژل شول او دري دېرش زخمیان ول. د ملا شېرالي خان تر کومندې لاندي غازیانو د تاوان شمېره یو ځل بیا اټکلي وه. د یوهٔ پوځي ټپال له خولي، د پایندهٔ خان او د هغه د ورور په ګډون، د دوی د مړي شمېره څلېرویشت وه. پایندهٔخان یو ښه جنګیالی او زړَور سړی ؤ. د دهٔ تاوان د غازیانو لپاره ډېر ستر ؤ.

## ۱۲ – څپرکی

### په جولای کښي د مسود ملکانو لخوا د روغې هڅې، او اسمان منځه مورچل باندي برید

په سپیرلام کښي د ټوچي سکاوټ د نورې زیاتي پلټنو ګومارل او د ګولاجان او ګاګو د کورونو نړولو د دوی ارمان پوره نهٔ کړ. د پولټیکل په سپارښتنه سرکار له مسود ملکانو څخه مرسته وَ غوښتله، مګر ورسره دغه ګواښنه هم وَ شوه چي که دوی خپل غازیان له سرکار دوښمنه کارونو راګرځولو کښي پاته راغلل، نو خپل ماجبونه به وَ بایلي. پولټیکل په ۱۰ او ۱۱ جولای ټول مسود ملکان یوې غونډې ته سره راغه ته راوَ بلل او دوی ته د خطرناک اکر په اړوند څرګندونه وَ کوله چي د فقیر ایپي له لاسه جوړ شوی دی ځکه چي هغه د دوی په سیمه کښي دی. سرکار غوښتل چي پوه شي: (ا) چي ملا فضل الدین په کومه خوا زور کوي، څه هغه په تېرو اتو میاشتو کښي د سرکار شکومی دی که یې دوښمن؛ (ب) د ملا شېر الي او ملک خونیاخېل جوته دوښمني؛ (ج) د ملک موسا خان ابدلي چلند.

د توریخېلو په خبر نهٔ، مسود ملکانو د هغه وخت لپاره په جنوبي وزیریستان کښي د حاجي صاحب د شتون په ګډون خپله پېره وَ منله.

یو سرکاري ټپال د هغه وخت په اړوند دغسي وایي: «««لکه څنګه هیله کېدله، د فقیر ایپي راتګ بې شمره ؤ. هغه ویل چي له خپلو سلاکارانو او مشرانو سره تر سلا وروسته به له سرکار سره پرېکړې ته وَ رسېږي. هغه د دوي له نومونو اخیستلؤ څخه نټه وَ کوله، مګر د درو اونیو منداړ (ډزبندي) یې وَ غوښتلؤ چي له دوی سره وَ لیدلای شي. دغه غوښتنه د سرکار لخوا وَ نهٔ منل شوه. ملا فضل الدین ملکانو ته وَ ویل چي دی د سرکار دوښمن نهٔ دی، د ډاډ په توګه یې خپل دوه وروڼه له ملکانو سره راوَ لېږل. د دهٔ د سمبالولؤ لپاره، سرکار ورته ویلي ول چي یو ورور به یې په اونی کښي یو ځل خامخا رزمک ته راځي. له ملک خونیاخېل سره تر لیدلو وروسته، ملکانو پولټیکل ته د هغه د چلند په اړوند وَ ویل چي هغه وایي خپل سبړ (قسمت) یې له فقیرایپي سره تړلی دی او تر هغو روغه نهٔ شي کولای تر څو چي لارښود نهٔ وي کړی.»»»

ملک موسا خال له سرکار سره ژمنه وَ کوله او وَیې ویل « زه د افغان سرکار یو نوکر یم، چي برتانوی سرکار ورسره دوستي لري، نو زه به تر ټولو وروستی سړی یم چي د سرکار په

چپه به پروپیګنډه کوم.»»» ملک شېرآلي خان له ملکانو سره له لیدلو نټه وَ کوله. کله چي ملکان راستانۀ شول نو یې پولټیکل ته وَ ویل چي که ملک شېر آلي خان له ښځي لاس وا نۀ خلي نو دوی به یې له خپلي سیمې ایستلو ته اړ کي. ملکان لا په سره راغه کښي ول چي د ملا شېر آلي خان په مشرۍ کښي یوې ډلي غازیانو په اسمان منځه کښي په یوۀ مورچل باندي برید وَ کړ. دوی په هغه مورچل باندي دوۀ بمونه وار کړل چي ګورکه کنډک ؤ پکښي، او شپاړس کسان یې یا خو وَ وژل او یا یې زخمیان کړل. دوی مورچل لوټ کړ او لس توپک، یوه سپکه ماشنګنۀ، اته بمونه او پینځلس سوه کارتوس یې یوړل. یو ګورکی یې نۀ وَ ویشتلو او نۀ یې په خنجر وَ وهلو – ټول په بم زخمیان شوي ول.

سرکار له رزمک سره نیژدې د کانیګرم او مردار لګډ اولس پر وَ بللو او ورته وَ یې ویل چي په یوه میاشت کي دي درسته ښرته راوړي او هغه غازیان دي وروَ پېژني چي برید یې کړی ؤ. ملکانو د غبرګون له وېرې غازیان ورښوولای نۀ شول،ځکه چي بدي ورڅخه پيښېدلای شوه. دوی چارواکو ته وَ ویل چي د سرکار کار ترسره کولو کښي بې وسه دي.

په دغه وخت کښي، حاجي صاحب ملا شېر آلي برمل او شول ته وَ لیږلو چي تازه جنګیالیان راپیدا کي کله چي د دۀ ملګر په اسمان منځه کښي د چوغۍ سترګو (ګورکیانو) په وژنه خوښۍ کولي. حاجي صاحب بیا خپله غوښتنه وَ کوله چي اسلام بې بې دي خپل شرعي خاوند ته ورکي. دۀ خپل ځینه خلیفه ګان شکتوی، وانه او دافغانستان جنوبي ولایتونو ته وَ لیږل چي غازیان غزا ته راوَ بولي. په توریخېلو او نورو اولسونو یې ټینګار وَ کړ چي د سرک جوړولو او نورو کارونو ټرونونه دي نۀ کوي؛ او هغه کسان چي لا له مخه یې له دغسي ټرونونه کړي دي، له سرکار سره دي کار او مرسته کول بس کي، ځکه چي دغه د اسلام له بنسټونو سره سم نۀ دی. د وزیریستان، افغانستان او بندوبستي سیمو په زرګونو وګړیو ان د ملېشو او پوځ ځوانانو یې ږغ ته هو وَ ویله. هغه یو لنګر پرانیستلو چي هر مېلمانۀ ته به یې ډوډۍ خوشي ورکوله. لنګر ته خواړۀ او پیسي اولس ورکولي.

## ۱۳ – څپرکی

### د افغان سرکار رول،
### د نایب سالار موسا خان منځګړیتوب
### د حاجي صاحب او د هند د برتانوي سرکار تر منځ
### اګست – سپټمبر ۱۹۳۷

افغان سرکار نایب سالار ملک موساخان، چي په مسودو کښي د افغان سرکار یو مخور لونګۍ (ماجب) وال ؤ، ته دنده وَ سپارله چي حاجي صاحب او د وزیریستان نور مشران یوه جرګې ته راوَ بولي او له دوی سره دي د سولې په اړوند وراخه (خبرې) وَ کي. حاجي صاحب بلنه وَ منله او ماندېچ ته ورغلو، چي له رزمک څخه ۶ میله لرې جنوب ته د جرګې ځای ؤ. نایب سالار موسا خان په سرکار نۀ ؤ ډاډۀ. هغه پولټیکلي چارواکو ته تر جرګې وړاندي وَ ویل چي له ده سره دي دوکه نۀ کوي او کله چي جرګه کیږي نو د حاجيَ صاحب په چپه دي هیڅ کاروایي نۀ کوي.

د رابلل شویو ملکانو سربېره، شاوخوا د توریخېلو، مسودو او احمدزي وزیرو ټول مشران او ملایان د سرکار د سرسختو دوښمنانو په ګډون هلته سره غونډ شول. ډېری لېوال ول چي حاجي صاحب وَ ویني او د دۀ په راتلونکي تابیا پوه شي. سرکار د جرګې په اړوند ډاډه نۀ ؤ.

که څه هم حاجي صاحب د سرکار په چپه کومه وینا وَ نهٔ کوله، سرکار وېرېدلؤ چي دی به جرګه د خپل ځان خواخوږي کي. نو ځکه يې غوښتل چي بنده يې کي.

خو ډېر ژر افغان سرکار یو ځل بیا نایب سالار ملک موسا خان ته وَ ویل چي بله ناسته راوَ بولي چي د مشرانو کم شمېر په کي ګډون وَ کي. دغه غونډه په منه کښي وَشوه، چي له ډانډېچ څخه اوه میله شمال ختيځ ته پرته ده. تر غونډې وړاندي حاجي صاحب اؤبلن ته ولاړؤ چي له منې څخه د ختيځ خوا ته دوهٔ میله لرې دی. په ۱۴ اګست د جومې له لامنځه وروسته، هغه شاوخوا یو زر کسانو ته د غزا په اړوند وینا وَکوله. په ۱۶ اګست کله چي په منه کښي جرګه پیل شوه نو دغه شمېره شپږو زرو ته وَ رسېدله. دوی غوښتل چي د حاجي صاحب په ګډون مشران د اکر (حالت) په اړوند وینا ورته وَ کي. د وزیریستان له غازیانو او وګړو پرته د افغانستان له جنوب څخه هم ډېر غازیان راغلي ول. په مخورو کسانو کښي حاجي صاحب، نایب سالار ملک موسا خان (رابلونکی) سید خان او د شېوې فقیر ول.

مشران په اکر باندي ښه اوړده وَ ږغېدل مګر غوښي ته وَ نهٔ رسېدل. بلکي دوی یو لیک تیار کؤ او د یوهٔ ټاکلي پلاوي په لاس يې په اورګون کښي افغان چارواکو ته وروَ لېږلؤ. په لیک کښي دغه لاندیني ټکي راغلي ول:
(ا). نوره سړک رغونه به بنده وي
(ب) سرکار به په دیني چارو کښي لاسوهنه نهٔ کوي،
(ج) له هغو ټولو سیمو څخه د پوځ لرې کول چي پخوا پکښي کومه چونۍ نهٔ وه او په پای کښي له ټول وزیریستان څخه د پوځونو ایستل.
که چیري دغه ټولي ګرې (شرطونه) وَ نهٔ منل شي نو افغان سرکار ته پکار ده چي د انګرېز سرکار په چپه جګړه کښي له دوی سره کومک وَ کي.

له خبرو وروسته حاجي صاحب په یوهٔ اس سپور شؤ او شپږو زرو کسانو ته يې دغسي وینا وَ کوله: « سوله یوازي هغه وخت راتلای شي که سرکار تیار شي چي له ټېرونو سره د مسلمانانو د دین او قانون سره سم چلند وَ کي، کني زهٔ د یوهٔ مسلمان په توګه به بیا هم د سرکار په چپه پاته شم. که افغان سرکار لیک ته د نهٔ ځواب وَ وایي، نو زهٔ به په خپل سر ښخي پیل کم. » بیا يې له اولس څخه پوښتنه وَ کوله: « څه تاسي به د کافرانو په چپه په دغه دیني جنګ کښي زما ملاتړ وَ کوئ؟»، دوی په زوره ځواب ورکؤ چي: « هو!، موږ به دي ملاتړ او کومک کوو.» بیا حاجي صاحب دوی ته وَ ویل چي خواره شئ او کورو ته ولاړ شئ او تر هغو وَ ګورئ تر څو چي د افغان سرکار ځواب راځي، چي کېدلای شي درې اونۍ واخلي.

ملا فضل الدین چي د سړک رغوني په چپه ؤ، له دهٔ سره ژمنه وَ کوله چي هر څنګه چي د دهٔ خوښه وي دی به هغسي کوي.

کله چي غازیانو د ټاکل شویو درېو اونیو ورځي ګڼلي، په وزیریستان کښي ګنګوسي وې چي سرکار له وزیریستان څخه د وَتلؤ تیاری نیسي، مګر پولټیکلي چارواکو غوښتل چي ټېرونه بې درستي کي.

جنرال جان کولریج په ۲۴ اګست د جنوبي وزیریستان یوې سترې جرګې په مخ کښي ځینه څرګندوني وَ کولې. هغه وَ ویل چي سرکار له وزیریستان څخه دوتلؤ هیڅ نیامت (نیت) نهٔ لري ځکه چي اولس په دیني چارو کښي هیڅ لاسوهنه نهٔ کوي، او بله دغه چي سرکار به د سړک رغونې کار روان وَ ساتي. جرګه ته سخته ګواښنه وَشوله که چیري څوک د سړک رغونې په

کار کښي کوم خنډ واچوي. لنډه دغه چي دوی ښېخي سپین وَ ویل شول چي سرکار په وزیریستان د واک چلولؤ ښه کلک هوډ کړی دی.

له یوې خوا سرکار ګواښ وَ کؤ چي که هر چا د خنډ اچولؤ هڅه وَ کوله نو سزا به ورکي، له بلې خوا یې د « سره بېل یې که نو اېل که » تګلاره غوره کړه – وَ یې ښودله چي د مسودخېلو سیمي له بهرني یرغل څخه ساتي او د بندوبستي سیموې د اولس په ښېګړه کښي یې زړۀ ښه کؤ. په بدل کښي یې د بندوبستي سیمي له اولس څخه غوښتنه وَ کوله چي د هغو غازیانو په نیولؤ کښي ورسره مرسته وَ کوي چي تر اوسه هم ازاد ول او په بریدونو کښي لاس لرلؤ. خو دغه یو ناشونی کار ؤ.

په ۱۰ اکتوبر توریخېل مشران میرانشا ته وروَ بلل شول. له یوڅو کمکیو بدلونونو سره دوی ته هم هغه ټکي وَویل شول.

کېدلای شي چي دغه د هند د برتانوي سرکار او افغان سرکار یوه تابیا شوې کړنلاره وه چي غازیانو وَ غولوي او له هغه وخته ګټه واخلي چي دوی د لیک غبرګون ته ګوري. په دغه ترڅ کښي انګرېز سرکار د سړکونو او کلاګانو په رغولو لاس پوري کؤ. کله چي غازیانو په سرکاري پوځونو او ځایونو باندي بریدونه ځنډولي ول نو سرکار د خونیاخېلؤ په کورونو برید وَ کؤ. د یوۀ پېټ ټپال له مخې، د خونیاخېلو په کلي باندي یوؤلس ټنه درونډ بمونه واچول شول. دغو الوتنو ۷۰ ګنټې وَ نیولې. بمونو سخت تاوان وَ رسولؤ.

کله چي د منداړ (لنډمهالي ډزبندي) ورځې تېرې شوې، نو حاجي صاحب موسا نیکه ته ورغلؤ. هغه د احمدزي وزیرو، کابلخېل وزیرو، سلېمانخېلو، خروټیو او نورو ډېر ټبرونو څخه په کلکه وَ غوښتل چي د کافرانو په چپه دي له هغه سره کومک وَکي. ګډونوالؤ له هغه سره بشپړه خواخوږي څرګنده کړه او پوره ډاډ یې ورکؤ. شول ته تر ستنېدلؤ وروسته هغه یواحمدزی وزیر، خلیفه پیرملا خان پرښودلؤ چي په جنوبي وزیریستان کښي دغازیانو لښکر جوړ کي .د حاجي صاحب ورور، شېرزمان، ته وَویل شول چي د غلجیو لښکر جوړ کي.

نایب سالار ملک موسا خان خېل هڅې پرې نۀ ښودلې. هغه د کربوغې فقیر ته، چي په ځوانۍ کښي د حاجي صاحب استاد ؤ، بلنه ورکړه چي په حاجي صاحب وَ مني چي له سرکار سره سوله یزه روغه وَ کي. په ۲۰ سپتمبر په سپین کمر کښي د حاجي صاحب او د کربوغې د فقیر تر منځ ناسته وَ شوه. نایب سالار موسا خان او د کربوغې فقیر هغه ته وَویل چي له ښخو لاس واخلي. حاجي صاحب ورته وَ ویل چي دی به په دوؤ ورځؤ کښي دوی ته غبرګون وَ وایي. د کربوغې ملا تش لاس ولاړؤ.

سملاسي په دغې ناستې پسي، خلیفه ملا شېر الي خان یوې جرګې ته (چي ټولې شمېر یې پینځ سوه ؤ) چي حاجي صاحب هم دوی ته هر هغه څه ورکولای شي چي سرکار یې دوی ورکوي. مګر د سرکار د پټو ټپالونو له مخې، حاجي صاحب له سرکار سره د رغې کولؤ کوم نیامت نۀ لرلؤ.

له درېو اونیو وروسته پلاوی له اورګون څخه بې له کوم ښه ځوابه بېرته راغلؤ. له وهغه وروسته حاجي صاحب د شمالي وزیریستان ګومبکې ته ولاړؤ او هلته یې د اور غوندي ویناوې وَ کولې او د سرکار غالي (دوکه) یې وَ غندلې. د دۀ له تګ سره په ټوچي، دته خېل، او میران شاه کښي د سرکار په شتَمنیو پراخ بریدونه پیل شول. پلونو او لارې تبا کړ شوې. د دته

خېل هندوانو د بريدونو له وېرې کدې وَ ترلې او بنو ته يې وَ ليږل. ډېرا خاسَدارانو، په ځانګړې توګه، مداخېل، خدرخېل، منزرخېل، مامتخېل او وړي ماتخېل، د سرکار نوکرۍ پرېښودلې. په دغسي ترنګلي اکر (وضع) او د دوړو خواږ په ناويساتوب کښي دواړو جنګي ځواکونو ته يوه لاره پاتې وه او هغه وه نښته.

د بېلابېلو سيمو غازيانو حاجي صاحب ته ويل چي تر ژمي وړاندي ژر يو تؤره (يرغل) وَ کي . افغان سرکار ډېرې هڅې وَ کولې چي د جنوبي افغانستان د غازيان د حاجي صاحب غازيانو ته له ورتګ څخه راتم کي، خو بيا هم ډېر حاجي صاحب ته ورغلل او لاربښوونه يې ورڅخه وَ غوښتله. افغان سرکار ځينو دسترخان والاو ته ګواښنه وَ کوله چي د دوی دسترخانونه (ماجب) به بند کي. خو دغه د افغان سرکار يوه ناڅرګنده (تته) کړه وه، ځکه چي نادرخان (کله چي په تخت کښېناستلؤ نو نادرشاه شؤ) په ۱۹۲۸ کښي کله چي په کابل ورختلؤ نويې د وزيريستان له دغو ټبرونو څخه پوره کومک اخيستی ؤ.

سرکار چي کله په نويو بريدونو پوه شؤ نو يې په ۲۴ سيپتمبر په ګومبکې د خبرداري پاڼې وَ شيندلي او ورسره يې په سيمه دوؤلس ټنه درانده بمونه وَ غورځول او شپاړس زره د نورو درستو مړدک يې وَ ډزول. که څه هم، دغې بمبارۍ کومه ښکاره تباهي وَ نهٔ کوله،خو غازيان يې سخت غبرګون ته را وَ بوړنول. د پټو ټپالونو له مخې، پيرملاخان د بشپړه لښکر په جوړولؤ کښي بريالی نهٔ ؤ. د ناکامی يو لامل د وزيريستان په اولس باندي د بغدادي پير، اغېزه وه . خلکو به ورته شامي پير هم ويل، ځکه چي هغه له سوريې څخه راغلی ؤ. بغدادي پير د سرکار لخوا راوړل شوی ؤ چي په خلکو کښي چاک واچوي او تر منځ يې نااندرۍ جوړې کي.

د بغدادي پير له ټول هڅو سره، چي د يوهٔ اوردو منشي له خولې يو نرم سړی او ټوکي سړی ؤ، بيا هم پيرملاخان او علی جان د ۱۵۰ کسانو په لښکر جوړولؤ کښي بريالي شول. دوی د پيرملاخان په مشرۍ کښي له پخوانۍ تيارزه خوله خاسَدار چوکۍ سره جوخت د پولونو ورانول هڅه وَ کوله. دوی په سيمه کښي له ټول سړک سره غځېدلي د تيليفون مزي پرې او يوړل. دوی په ګيروکوټ او کراب کوټ کښي د خاسَدارانو په چوکيو بريدونه وَ کول او سنټاله کنډوی يې وَ نيولؤ. دوی وانه ته په لاره يوه ملکي لارۍ هم لوټ کړه او بيا وَ سوزله.

کله چي وانه ليوا خبره شوه، نو يې کتار وروَ لېږلؤ چي يوهٔ ټولی کچرې، يوه وړه ټولۍ زغره وال ګاډي، يوه توپچي ډلګۍ او يوه د ۳/۱۲ ايف ايف ار د ماشين ګنؤ ټولیپکښي ول، او ورسره يې په ۱۱۲۵ بجې کومکي پوځيان چي يوه ډله خاسَدار هم پکښي ول وروَلېږل. د شاهي هوايي ځواک هوايي چتر هم ورسره ؤ. په دغه وخت کښي ۳/۶ پنجاب کنډک غيير پوزه وَ نيوله. يو کنډک پخوانۍ تيارزه خولې خاسَدار چوکۍ ته وَ لېږل شؤ. په تنايي چوکۍ کښي مېشت يوه توپچي ټولی او د ۳/۶ راج رايفل يوه د ماشنګنو ډلګۍ وخوځول شوې چي وانه – جنډوله سړک لوړ ځايونه وَ نيسي. د تنايي خاسَدارانو د سړک ختيځ لور ته لوړه سيمه وَ نيوله.

په ۱۳۰۰ بجې زغره وال ګاډو او الوتکو په سيټاله لګډ کښي کاروايي پيل کړه. له شمال ختيځ لوري څخه غازيانو په دوی باندي بريدونه پيل کړل. په ځواب کښي، د پوځونو تر يرغل وړاندي، زغره والو په دوی باندي د درندو ماشين ګنو ډزونه پيل کړل. په ۱۴۰۰ بجې د تنايي ځواکونو په لوړو ځايونو د ماشينګنو ډزونه پيل کړل.

د سرکار ټپالونو له خولې، مخکينی پوځيان له کوم لوی خنډ سره نهٔ شول مخامخ، ځکه چي په غازيانو يې نابېره بريد وَ کولؤ. په ۱۷۵۰ پوځيان وانه ته ستان شول. د دغې کاروايی په اړوند

یوه پټ ټپال وایي: « کاروایي ډېره کامیابه وه، د پوځیانو کوم تاوان وَ نۀ شؤ، په دوښمن کښي ۱۵ مړه او ۱۸ زخمیانو تاوان ورواوښتلؤ. »»» مګر د پیرملاخان زوی، علي شاه خان، او نورو غازیانو له خولي، یو غازي، یو خاسَدار او شپږ ګورکیان وَ وژل شول، د هغه ګورکي مړی چي توپ یې خراب شوی ؤ، تر ماښامه پوره پروت ؤ.

له دغې کاروایی وروسته نو هغه کار چي جنرال کولریج پیل کړی ؤ د ۱۹۳۷ د دسمبر په نیمی کښي په سرکاري توګه بشپړ شؤ. له غازیانو سره د جګړو په اړوند سر ویلیم بارټن، کي سي ای اي، په ۱۹۳۸ کښي ولیکل: « د برتانویانو لَخوا نیژدړې ۴۰،۰۰۰ پوځیان په جنګ لګیا ول، یو نیم میلیون پونډونه ګار شول، چي د هند په خزانې ډېر لوی پېټی ؤ؛ مرګ ژوبله تر ۱،۰۰۰ کسانو کمه نۀ وه. انجام یې څه شؤ؟ ستر دوښمن اوس برېوکی راته وهلې؛ لا تر اوسه یې زبردست ورانی کولؤ.»»»

## څپرکی – ۱۴

۱ په درګۍ سر باندي برید، ۱۴ – ۱۵ اپرېل ۱۹۳۸
۲ د مداخېلو لَخوا، دتَخېلؤ ته د تللي سړک بندونه، مې ۱۹۳۸
۳ په وانه سر برید، جولای ۱۹۳۸

## په درګۍ سر برید

په شهور تنګي کښي د ۱۹۳۶ له ناورین څخه د بچ کېدلؤ لپاره، د جنوبي وزیریستان سیاسي استازي (پولټیکل) پوځ او سکاټ ته وَ ویل چي له سپلیټوی سکاوټ چوکۍ څخه څلور میله شمال لوېدیځ ته په درګۍ سر کښي د خلیفه شېرالي خان په مشرۍ کښي د غازیانو یو لښکر سره غونډېږي. د تورن ایان ډېور او بریدمن پیپ الدرمن په مشرۍ کښي شپږ ټولی له سروکۍ درګۍ سر څخه د سپیلتوی په لاره وَ خوځېدلې. پینځه نورې ټولیو د جګړن وودز، تورن بابنګټن او بریدمن پېټیګرېو تر کومندې لاندي له سرۀ راغه درګۍ څخه د کوټکي په لاره خپل یون (مارچ) پیل کؤ. د دواړو ځواکونو ګډه شمېره ۲۵۰ مېړو ته رسېدله.

تر تورن ایان ډېور لاندي ټولی بې له کومي ستونزې وَ رسېدلې او څوکه یې وَنیوله. خو لاکري ووډې ټولی له سخت ټکر سره مخامخ شوې او بېرته ستنېدلو ته اړې شوې. په دغه ترڅ کښي غازیان په درګۍ سر راجاروتل او هغه یې د ووډز له ټولیو پرې کؤ، چي د بریدمن پېټیګریو له خولي، د کره او درندو ډزونو له امله په مخ نۀ شؤ تلای. د غازیانو د هغو کاړتوسو له لاسه چي څوکي یې پستې وې او بېخونه یې غوڅ شوي ول، چي له پټو سنګرونو به په دوی باندي وربېدل، دوی نۀ درګۍ سر ته نۀ شول رسېدلای.

تورن این ډېور په دغه کلابندی کښي وَ وژل شؤ. ټولی یې د خپلو دوؤ پالليو کوترو په مرسته جنډولي ته پیغام وَ لېږلؤ. د جنډولي کارکونکو په میرانشا کښي چاروکي خبر کړل، او هغو شاهي هوايي پوځ ته وَ ویل. الوتکو درګۍ سر ته کاړتوس وروَ رسول او د غازیانو سنګرونه یې بمباري کړل. بیا هم غازیانو ټوله شپه پوځیان پرېشان وَ ساتل ترڅو چي سبا ګهیځ وختي هغوی بېرته په شاتګ وَکؤ. کله چي سکاوټان، چي د پوځ کومک هم ورسره ؤ، هلته راوَرسېدل نو د غازیانو هیڅ درک نۀ ؤ. اوس چي جنګ نۀ ؤ، نو یې د تورن ډیور مړی یې ډېره سمایلخان ته یووړلؤ او هلته یې ښخ کؤ.

د مرګ ژوبلې ټپال په لاندې ډول ؤ:
برتانوي پوځيان: د تورن ډيور او درو سکاوټانو په ګډون دوه برتانوي او دوه هندي افسران وَ وژل شول.
زخميان: سکاوټان ١٠ ؛ پوځيان ١١
غازيان: ٢ وژلي، ٣ زخميان

## دَته خېل ته تللي سړک غوڅول

په پيل کښي سرکار په ارسلاکوټ او نورو ځايونو کښي په مداخېل غازيانو باندي زياته بمباري وَکوله. دوی ښکاره جګړې ته راوَوتل. دوی ړومبی د رازني د اوبو په ټانکونو کښي زنځېره واچوله بيا يې په ميرانشا – دته خېل سړک په بهيرونو باندي په کورنيو بمونو وَغورځول او چي کله به يې وار برابر شؤ نو پولونه به يې الوزول.

دوی هغه سړک غوڅ کؤ چي بويه او ميرانشا يې له دته خېل سره لګولؤ. د بريدمن اېل. لېرويل تر بولندی (کومنده) لاندي اوه ټولی سکاوټان کښېوتل او پينځو اونيو لپاره تر کلابندی لاندي وَساتل شول. دوی يوازي د بېسيم په مرسته له ميرانشا سره شانده (اړېکی) لرلای شوه، او خواړه او نور څيزونه به يې غوښتل. هره ورځ به الوتکو خواړه او نورې اړتياوې له ميرانشا وررَسولې. غازيانو به شپه او ورځ کله ويشتله. د شپې په تياره کښي به دوی چاونی ته نيژدې وَرغلل، او له هغوی څخه به يې غوښتل چي بريدمن لېرويل دوی ته وروَسپاري او له حاجي صاحب سره دي يوځای شي او د کافرانو په چپه دي غزا وَکوي. يوازي غازيان چاونی ته نهٔ ورنيژدې کېدل، په ١٠ مې دوی په مومي راغهٔ کښي جوړکړی توپ هم د زرو ګزو له واټڼ څخه وَ کارولؤ، د چاونی په اډه او د سيګنل په دفتر يې شپږ ډزونه وَکول. د توپ د ډزونو تر پوښ لاندي غازيان چاونی ته ورنيژدې شول. چاونی د غازيانو په سنګرونو د خپلو نويو هوويزرو ډزونه وَکول او د خپل توپ لري کولو ته يې اړايستل. ويشتندويانو لا هم ډزونه پرې کول خو څه شمر يې نهٔ لرلؤ.

پای، د کلابند پوځيانو بده ورځ بشپړه شوه، او هغه بريدمن لېرويل چي په چاونی کښي له پوتېدلو پرته يې هيڅ کولای نهٔ شول، د يوهٔ اتل په څېر وَلمانځل شؤ، چي د ځينو ټپالونو له مخي دهٔ پخپله هم باور پرې کولای نهٔ شؤ.

## په ونې سر کښي د سرکار په دفترونو بريد

١١ جولای ١٩٣٨، د جنوبي وزيريستان يوهٔ لښکر چي مشري يې ملاشېرآليخان کوله، په مومي راغهٔ کښي جوړ شوی يو بل توپ وَکارولؤ او د شپږ سوهٔ ګزه واټڼ څخه يې د ترکی په مورچل باندي ١۴ ډزونه وَکول. ترکی مورچل له سپلي توی څخه شمال لوري ته ١٣٠٠ ګزه لري پروت دی. يوازي يوه ګوله د مورچل په دېوال وَ لګېدله، مګر تر ريښتوني تاوان يې رواني (ارواييی) تاوان زيات ؤ. له ډېرو وېرې يې د سکاوټانو بلګه (ساه) وَ ايستله. په غبرګون کښي سکاوټانو هم د ۴.۵ هوويتزر دوه ګولې وار کړې.

غازيانو خپل توپ سره ټوټه کړ او په اوښانو يې کوټکي ته راوړلؤ. کله چي غازيانو د بل چپاو تابيا کوله، نو څرکانو (جاسوسانو) پولټيکل چارواکو ته د دوی د راتلونکي کار ټپال وروَرسولؤ. له کوټکي څخه دوه نيم ميله لري د سرهٔ راغهٔ په کلا باندي د چپاو د مخنيوي لپاره سرکار د بريدمن چيسمن په مشری کښي پينځه ټولۍ له سرهٔ راغهٔ څخه ونې سر ته وروَ لېږلې. د بېټل لويس او پيپ الدرمن په مشری کښي نورې ټولۍ له جنډولې څخه سرهٔ راغهٔ ته روانې

شوې چي پيځلس لارئ او تازه دم کورم ګنز Kurram Guns هم ورسره ول. بهير تر هوايي پوښ لاندي ؤ، مګر له سختې ډغرې (مقاومت) سره مخامخ شؤ. د الوتکې په تاوکش (راډيېټر) کښې هم يو مړدک وَ لګېدلؤ او بېرته جنډولې ته ستنېدلؤ اړه شوه. د جنډولې ټولئ سره راغۀ ته بې له کوم تاوانه وَ رسېدلې.

د چيمسمن لاره د غازيانو لخوا ټپه شوه. هغه سرۀ راغۀ کلا ته ستنېدلای نۀ شؤ، نو ځکه يې د شپې لپاره په ونې سر کښې مېشت شؤ. پرډغه سربېره، له هغه سره کاړتوس هم لږ ول. په شپه کښې يې په سنګرونو باندې يرغل وَ شؤ. غازيانو يې سنګرونو ته لاسي بمونه ورګېل کړل او له جوخت واټټه يې ډزونه وربانديي کول. په سرۀ راغۀ کښې پوځ او سکاوټانو بس د ډزونو له اورېدلو پرته بل هيڅ کولای نۀ شؤ. ګهيځ وختي غازيان په شا شول. په ښخه کښې يوازي شپږ سکاوټان ټپيان شول، چي برتانوي افسرانو يوه ډېره نېکبخته ساتنه بلله.

## څپرکی – ۱۵

۱ په خرې کښې په سرکاري دوترونو چپاو

۲ په بنو باندې بريد

خرې د دته خېل شمال لوري ته غرونه دي چي شتمني ده د مداخېل وزيرو، چي د غزا ملاتړ يو کولؤ، او د وزيريستان، افغانستان او نورو سيمو غازيانو ته به يې پناه ورکوله. په ۱۹۳۸ کښې د حاجي صاحب اډې هم هلته وې او له هغه ځايه به يې د سرکار په چپه کاروايی کولې. د حاجي صاحب ښکاره جنګ ته راايستلؤ لپاره او بيا د هغه اډې ورانولؤ لپاره، سرکار رزمک ليوا، ۳ پلي ليوا، ۱۷ ټوچي سکاوټ ټولی د ډګرمن ايف. ايچ مېنارډ تر بولندې لاندي سره يوځای کړې او په ۱۳ جولای ۱۹۳۸ يې د وشګی په لور وروځوځولې.

دغه ځواک په لاره په خرسيم کلي کښي يوڅو کورونه وران کړل. په ۱۴ جولای په دوؤ برخؤ سره وَ وېشل شؤ. رزمک ليوا له د سکاوټ له ۸ ټوليو سره د اي. ډبليو. ويليمز په بولنده کښي شؤ، او ۱۳ پلي ليوا د سکاوټ له ۸ ټوليو سره د بوب ينګمن په بولنده کښي شؤ. دوی تابيا لرله چي بوزوما نري لوړې او مزدک پونګه وَ نيسي او بيا سکاوټان کوز د حاجي صاحب اډې ورانولو ته ور وَ استوي او ژرترژره بېرته ستانۀ شي.

دغه تابيا چپه شوه. پوځ لاره نۀ پېژندله. دوی له هغو انځورونو د لارې هڅ (اټکل) وَهلؤ چي شاهي هوايي ځواک ورکړي ول، او د پېچوميو کچه يې ښودله – په ډېرو ځايونو کښي کچرې هيڅ پې ختلای نۀ شوې. بل پلو، غازيان په خپلو سنګرونو کښي د دوښمن ډغرې ته ښه چمتو ول. دوی په دواړو ليواګانو بريدونه وَکول. بيا هم ليواګاني له درې نيمو بجو وروسته مزدک پونګي ته وَ رسېدلې ، خو د کار سر ته رسول وربانديي ځنډېدلي ول.

د بوب ينګمن په ليوا باندې په يوۀ دغسي پېچومي کښي بريد وَ شؤ چي ډېرې ګڼې غڼې يې لرلې. بوب ينګمن او ايف. ويليمز پرېکړه وَکوله چي د هوايي ځواک تر پوښ لاندي لوړو ته پورته شي. په دوی ناوخته شوې وه چي په رڼاورځ وشګی ته هسک شي، پوځ د شنه يخ شپه په هغه وانده (کمپ) کښي تېره کړه چي ګورکيانو له يوۀ شپالۀ څخه جوړه کړې وه. پوځ په ګهيځ، چي تر شا يې د سکاوټانو بدرګه وه، وشګی ته ستون شؤ. غازيانو ټوله لاره په روانو

کتارونو وارونه کول. لکه د برتانوي پوځ افسران چي وايي، ریښتیا هم پوځ دوښمن جنګ ته راوستلؤ، بې شکه چي ډېر دوښمنان يې مړه او زخميان کړل، خو هغه د سيمي له سختيو او د دوښمن د ډغرې له لاسه بېرته ستنېدلو ته اړ شؤ. «فقير خوهيڅ پرېشانه هم نهٔ کړ شؤ». د مرګ ژوبلې شمېره ناڅرګنده وه.

## په بنو برید

د حاجي صاحب په اډې باندي د برید، او په تېره بیا، د اسلام بي بي په کشاله کښي د بنو د منځګړې (محکمې) د هندوانو او سيکانو په لوري پرېکړې د غچ اخيستلو لپاره په ۲۳ جولای ۱۹۳۸ شاوخوا ۲۰۰ غازيانو په بنو باندي برید وَ کؤ. دوی د برتانويانو اوه ملګري وَ وژل، زيات هندوان يې ټپيان کړل او ډېر دوکانونه يې وَ سوزل. له سختې ښځې وروسته، غازيان په شا شول، او د ښار شمال لور ته غونډيو کښي يې سنګرونه وَ نيول. دوی ته يوڅه مرګ ژوبله هم واوښتله. شل پکښي وَ نيول شول. مګر، په بنو باندي برید په برتانوي پوځ او پرنګي برم باندي یو غټ ګوزار ؤ. د برید په پايله کښي، د سرکار شکوميو هندوانو او سيکانو په درو کښي يوه برخه له بنو څخه هندوستان ته ولاړل.

## څپرکی – ۱۶

۱ د بنديزې جګړه

۲ د شمالي وزيريستان له پولټيکل، راجر بېکن، سره د توريخېلو جرګه

## د بنديزې جګړه

په ميرانشا او نورو سرکاري ځايونو باندي د بريدونو د مخنيوي لپاره، د ټوچي سکاوټ ټي. جې. فيليپ ته ډګرمن وايه (امر) وَکوله چي له بنديزې څخه، چي د دوړو يو کلی ؤ، برمته واخلي. فيليپ دوی ته ټپال ورکؤ چي دی او د دهٔ پوځيان تر هغو نهٔ ول خبر چي هلته د توريخېلؤ دومره لوی کلي شته تر څو چي دوی پخپله ناوې (وادي) ته ورغلل او هغه کلي يې وَ ليدل. کله چي دوی د توريخېل کليو ته ورنيژدې شول، نو پوه شول چي د ښځې په مهال به توريخېل د بنديزې د اولس ننګه وَکي، نو ځکه يې پرشاتګ باندي چورت وَ وهلؤ. هلته شاوخوا توريخېلؤ په دوی باندي چيغي وهلي چي بېرته ولاړ شي. سکاوټان يوه ښځه وَليدله چي له بنديزې څخه يې د دوی خواته اشارې کولې، او ورپسي د دوی په سنګرونو باندي درانده ډزونه پيل شول. نو دوی اړ شول چي له ډزونو وَ تښتي.

ډګروال له هغو سيکانو مرسته وَغوښتله چي يو غابښي يې نيولی ؤ، او ورته وَ يې ويل چپ دوه درې سوه غازيان ورپسي دي. که څه هم دوی له غازيانو سره د ډغرې نهٔ شوې وهلای خو سيکان او سکاوټان بې له کومې مرګ ژوبلې په تېښته کښي بريالي شول. کوم لښکر چي په دوی پسي ؤ، د کلي د جنوب خوا ته مخه کړه چي د ليسټر په غونډ باندي برید وَ کي. د غونډ شپږ کسان وَ وژل شول او شپږ يې زخميان شول. لاس په لاس جګړه کښي دوی اړ شول چي خپل دوه مړي له توپکونو او سامان سره ايله کي.

وروسته په ټپال کښي وَويل شول چي دغه يو نېکبخته تېښته وه. د فيليپ له خولې، يو څو ورځي وروسته يوهٔ وزير يوهٔ سکاټ ته وَ ويل چي دوی بختور ول چي د ليسټر غونډ يوازې يو څو کسان يې وَ وژل شول او زخميان شول.

شاوخوا درې سوه غازيان په غنو کښې پټکنۍ کړې وه چې پوځ او سکاوټان به کلی ته رانڼوځي دوی به ترې راجاروځي او بيا به ټول کار (ختم) کي. مگر بېوخته ډزونو پوځ پرشاتگ ته اړ کړ او د غازيانو ټوله تابيا يې ورانه کړه.

## د توريخېلو جرگه

د ورانېدونکي اکر (حالت) په تړاو، د شمالي وزيريستان سياسي استازي، راجر بېکن، د توريخېلو يوه بشپړه جرگه په ۱۹۳۹ کښې په وزيريستان کښې په ميرانشا کښې راوَ بلله. هغه دوی ته په پښتو وينا وَکوله، په توريخېلو يې د دوښمنيو تور وَ لگولؤ، او وَ يې ويل چې سرکار دغسې دوښمنۍ هيڅکله زغملای نهٔ شي. د دوی تر ټولو بدې دوښمنۍ وې:

(ا) فقير ايپي ته پنا ورکول، چې« د ټولو ستونزو زړی دی»؛
(ب) د بېگنا هندوانو تيښتول لپاره د بونگې (د پيسو لپاره)
(ج) په بمونو د پولونو الوځول
(د) په سرکاري پوځونو او شتمنيو باندي چپاونه کول

د پولټيکل وينا دومره ترخه، ستوغه او ترټونکې وه، چې د جرگې چټک غبرگون يې راوَ بوړنولؤ. د مرستيال پولټيکل له خولې: د جرگې کسانو، چې بنې يې بېخي قهره ډکې وې، پولټيکل ته دغه لاندينی وينا وَ کوله:

چې دوی به ولي فقير ايپي ته پنا نهٔ ورکوي چې يو سپېڅلی او ښه سړی دی او د توريخېلو د ټبر دی؟ هيڅ څوک دی له هغه کوره نهٔ شي بندولای چې ته دهٔ ته له خپله پلاره ورپاته دی. په سرکاري پوځونو، پنډغاليو او مورچلونو د بريدونو په تړاو خو چاروکي دوی نهٔ شي گرمولای، ځکه چې دوی خو برتانوي ځواکونه نهٔ دي رابللي چې دلته هرې خوا ته پنډغالي او مورچلونه جوړ کي او بيا له دوی څخه د پښتنو د مېلمستيا د دستور سره سم د ساتنې هيله وَ لري.

د هيندوانو او سيکانو د تښتولو په تړاو توريخېلو ورته وَ ويل چې دغه يوه بېله کشاله ده. دغه يوه د پيسو مرڼه (لانجه) ده چې سرکار پخپله لمن ورته وهي، ځکه چې سرکار د برمتَو د را ايله کولؤ پيسې پرې کړې وې. په برمته کونکؤ يې توپير نهٔ وُ چې پيسې هيندوانو پرې کړې او که سرکار!. سرکار هغه پيسې د ملکانو او خاسَدارانو له تنخاؤ پوره کړې. په بله وينا، سرکار خپلو ابله دوستانو ته سزا ورکړه.

غازيان خو په دې نهٔ دي گرم چې دوی په خپلو کليو باندي د شاهي هوايي ځواک اچولي ناچاودلي بمونه رااخلي او پلونه پرې الوزوي.

۱۷ – څېرکی

1. د ټپي کاروايي: ۷ اگست ۱۹۴۰
2. وزيريستان کاروايي: ۲۵ مي ۱۹۴۰ بيا تر ۳۰ سيپټمبر ۱۹۴۱
3. په سينټيږه کښې ښخه: دسمبر ۱۹۴۰

پولټيکلي چاروکيو ته ټپالونه وَرسېدل چې په ټپي، د دوړو يو کلی، کښې غازيان دي. ورپسې له کلي سره نيژدې په سرکاري گاډو باندي ډزونه وَشول او لوټ کړ شوې. دوی سکاوټانو ته وَويل چې له کلي څخه د غازيانو د برمتې سريښته وَ نيسي. ټپي له سپلگې سره چې د

توريخېلؤ يو کلی دی، جوخت پروت دی. له کلي سره شاوخوا ډېر وزير غازيان ول. تر تابيا شوې کاروايی لږ وړاندې يوه ډله غازيان هم هلته راوَ رسېدل.

په ۶ اګست، ۱۹۴۰ بريدمن ډګروال، ينګمن د کاروايۍ بولنده ورکړه. يوه نوې تر روزنې لاندې ټولی چې د جنګ ښه روزنه او تجربه يې نه لرله، هم په کاروايۍ کښې وه. د ينګمن د ناروغی له لاسه، تورن بليز ريډفورډ د کاروايی بولنده واخيستله، چې لانديني افسران هم ورسره ول:
بريدمن مايک ګارډينر
بريدمن ډيسمونډ کېبل
بريدمن فينچ، (ګورکی)
بريدمن ساندرس
ټي. تورن رسل
سوبيدار علي مست، (بارک خټک)
سوبيدار ولايت شاه، (سني بنګښ کوهاټ)

څلور ټولۍ د ساندرس او څلور د رسل تر بولندۍ لاندې د کلي ښی او کيڼي ډډې ته وَخوځېدل، ورپسې ريډفورډ ؤ له تر روزنې لاندې سرتېرو سره، چې په کلي باندې ورنيژدې کېدل. ورسره، يوه ډله د مرستيال پولټيکل وه چې ملکان او خاسَداران هم ول پکښي.

بريدمن ګارډينر وګړې تالاشي کړل او بنديان يې کړل. مرستيال پولټيکل دوی سره وَچنل. په کلي کښې يوه ګډوډې وه کله چې سرتېرو ښځې له کمکيانو بېلولی. ګارډينر له دوؤ سپايانو سره په کوڅه د «دوښمنانو» په لټون پسې ولاړؤ. کله چې هغه په کوڅې کښې روان ؤ نو د يوؤ کور له بامه وربانديې ډز وَ شؤ. دوی ويشتندوی وَ نۀ ليدلؤ مګر چورت يې وَ وهلؤ چې په ماجت کښې به وي. ګارډيند غوښتل چپ د جومات په دېوال کښې يو سوری جوؤ کي او لاسي بم دننه تر وروَ غورځوي، مګر ريډفورډ او نورو چاروکو راوَ ګرځولؤ.

چې د ټپي د بريد يې واورېدل، نو د سپلګي توريخېلؤ او شاوخوا د دوړو له کليو څخه د خلکو راتګ پيل شؤ. په دغه ترخ کښې ملکانو تر روزنې لاندې ټولی ته وَ ويل چې ژرترژره له کلي څخه وَوځي، کنې ټول به حلال کړ شي. ريډفورډ ته هم د خطر بوی ورغلؤ او ژرترژره د وتلؤ پرېکړه يې وَ کوله. چې څرنګه دوی وتل پيل کړل، غازيانو په وربانديې د هديرې له غونډۍ څخه ډزونه پيل کړل. تورن رسل او يوروزنی (ريکروټ) وَ لګېدل، او ورسره ګډوډې زياته شوه. علي مست د پوځيانو د ايستلؤ په ځای، د تورن په خسمانه بوخت ؤ.

رسل ډېر درونډ ؤ، چا چې يې تزکره اخيستي وه هغۀ يې تر يو څو ګزو ډېر وړای نۀ شؤ، ځکه چې غازيان هم لنډ ورپسې ول. ريډفورډ اتو ټوپکوالو ته وايه وَ کوله چې له هغه سره پاته شي او ګوره ګوره چې خوشې يې نۀ کي. پخپله دی له نورو افسرانو سره پاس د غونډۍ سر ته وَ ختلؤ. هغه ته وَ ويل شول چې راکوز شي او له خپلو ملګرو سره دي مرسته وَ کي. په ځای د ورکوزېدلؤ ، هغه يوې لرې سرک ساتونکې ډلي ته وَ ويل چې د دوی مرستې ته ورشي. هغو يې له وايې (امر) څخه نټه وَکوله. فينچ، د رسل ژغورونکی، پخپله له ستوزې سره مخامخ ؤ. کسان يې تږي ول، کاړتوس يې کم شوي ول، او پرلپسې تر بريدونو لاندې ول. مګر، هوالدار يارشاه چې جاره واره ساتونکی شپول يې برابر کؤ، دی او د دۀ ډلګی يې وَ ژغورله. تورن رسل له يوۀ تزکره وال سره پرېښودل شؤ. په پای کښې رسل هغه ته وَ ويل چې تورن ريډفورډ ته دې ورشي او مرسته دې ځيني وَ غواړي، او هغۀ بيا ورته وَ ويل چې

سرک ساتونکي ډلګی ته ورشي د مرستي لپاره. په دغه ګډوډي کښي ښاغلي حسن  تورن رسل وَ لیدلۀ چي سر یې غوڅ شوی ؤ او نور ځان یې تر ملا پوري بڅه ؤ.

کله چي تورن ریډفورډ، حسن او سنډرس خال پول ته په لاره روان ول، او له هغې لاری سره تېرېدل چي د تورن رسل مړی پکښي ؤ، نو بریدمن ګارډینر له دوی څخه وَ پوښتل: «څنګه دی لیژلي؟» نو سنډرس ورته وَ ویل: «داسي مړ لکه پړی».

پکار وه چي د ټپي په ناورین ملکي او پوځي افسران پرۀ بلل شوي وای، مګر دوی یوازي تزکره وال او اردلي ګرم کړل چي له تورن رسل څخه تښتېدلي ول. هغوی به خود ډارېدل چي که هلته پاته شوي وای نو هرومرو به وژل شوي ول.

په سخته کښي بریدمن فینچ، تورن ریډفورډ، بریدمن ګارډینر او بریدمن سنډرس څه کول؟ څه په دوی کښي یوۀ هم له بریدمن ډګروال ینګمن څخه، څوک چي د ټپي د ناورین لامل ؤ، پوښتنه وَ کوله؟ د برتانوي افسرانو او سپاهیانو مرګ ژوبله جوته نۀ وه. د غازیانو هغه هم نۀ وه څرګنده.

## په وزیریستان کښي کاروایي: ۲۵ مي ۱۹۴۰ بیا تر ۳۰ سیپتمبر ۱۹۴۱

په وزیریستان کښي د کاروایۍ (۲۵ مې، ۱۹۴۰ تر ۳۰ سیپمبر ۱۹۴۱) په اړوند جنرال سر ارچیبال پیرسیوال ویول وایي چي په ۱۹۴۰ کښي د یو څو اونیو لپاره خاموشي وه. مګر د جون په پای او جولای په سر کښي، «بیاهم، د فقیر ایپي په نغوته، په سیمه کښي ویشتني، د لاریو نیول او نور تنګول زیات شول، او په ۶ جولای د وزیریستان ریزیډنټ ته له اسدخېلۀ سره نیژدې پټکنۍ (کمین) شوې او زخمي کړ شۀ.

له دغې پېښي وروسته او کله چي اسدخېلو او موساخېلو د سرکار له وایو (امرونو) څخه سرغړونه وَ کوله، نو سرکار د له دغو دواړو کلیو سره د پوځي کار کولو پرېکړه وَ کوله، د رزمک لیوا خوځنده کتار ته یې وَ ویل چي ورشي د کلي ځینه برجونۀ دي وران کي او له ټوچي سکاوټ سره دي د دوښمنانو په نیولۀ کښي مرسته وَ کي.  کله چي ټوچي سکاوټان دغو کلیو ته روان ول نو په لاره کښي له غازیانو سره مخامخ شول. په شخه کښي د سکاوټانو یو سپاهي وَ وژل شۀ او دوه نور ټپیان شول.  د غازیانو مرګ ژوبله نۀ ده جوته.

د لیوا خوځندۀ کتار او ټوچي سکاټان کلي ته ورننَوتل او یو څو کورنوه او برجونه یې ویجاړ کړل او څلور کسان یې وَ نیول.  غبرګون ډېر سخت ؤ. د جولای په وروستۍ اونۍ کښي په جنوبي وزیریستان کښي ټول ټال ۱۸ لاری وَ نیول شوې. یوازي د دته خېلۀ د ډاک لاری اوه ځله وَ درول شوه. هره ورځ په پنډغالیو (وانډه)  باندي ډزونه کېدل او د ټیلیفون مزي به ورانېدل. د رزمک کتار شل کسان وَ وژل شول کله چي د جولای په وروستۍ اونۍ کښي رزني ته په لاره روان ؤ.

سرکار ویل چي په ۱۶ او ۱۷ اګست یې په ټپي او ایپي کلیو کښي غازیانو ته یې د ۵۰ مړو په ګډون د ۸۰ کسانو مرګ ژوبله ور واړوله.

اکر (حالت) هغه وخت نور هم پسي بدتر شۀ چي په ۱۷ اکتوبر فقیر ایپي مکین ته راغلۀ. په ۱۹ اکتوبر ۱۹۴۰، د ډامډېل په شمال کښي سړک ساتونکي پوځیانو باندي برید وَ شۀ، چي پینځه هندي او نور سرتېري پکښي  وَ وژل شول. پینځه اونۍ وروسته په ګردۍ کښي په یوۀ

مورچل باندي برید وَ شۀ چي یوه برتانوی او څو نور سرتېري پکښي وَ وژل شول. په سیمه کښي په سړک ساتونکیو باندي په یوۀ بل برید کښي هم پوځیانو ته مرګ ژوبله واوښتله.

## د سنتيري شخه

رزمک او وانۀ لیواګاني ولاړې چي سنتیره ورانه کي، په تېره بیا د حیات خان کور. د رزمک او سنتیرې په منځ کښي توده چینه او مکین پراته دي، چي ابدولي مسود پکښي اوسېږي. کله چي وانه لیوا هیڅ نۀ تر سترګو کېدله، نو ابدولي مسودو او غازیانو په رزمک لیوا باندي له تودې چینې سره برید وَ کۀ.

د جګړې په سر کښي د بولندوی افسر له وژل کېدلۀ وروسته، لیوا بېرته د تودې چینې واندې (کمپ) ته د تګ پرېکړه وَ کوله. خو په سلګونو غازیانو، د ښځو په ګډون چي اوبه او کاړتوس به یې ور رسول، له دوی سره شخ ول.

په ۴ او ۶ دسمبر یې سنتیره بمباري کړه، وروسته یې تودې چینې ته یو کتار وَ لېږلۀ چي لښکر سره تیت کي. سرکار وژل غوښتل د حیات خان، چا چي د غازیانو یو پیاوړی لښکر راغونډ کړی ۀ چي په جنوبي وزیریستان کښي په تیارزه کلا باندي برید وَ کي. چارواکیو ته ټپالونه رسېدلي ول چي هغه له حاجي صاحب څخه ټوپک ترلاسه کړي دي چي د سرکار په شتمنیو باندي بریدونه وَ کي.

په سبا ګهیځ، کنډک د تودې چینې واندې (کمپ) ته وَ رسېدلۀ. « ټوله شپه سخته او وېرونکې جګړه وه، چي زیاتره لاس په لاس وه، تورې، خنجرونه او ګورزونه ول پکښي».

د کنډک تر سلو زیات کسان وَ وژل شول، چي درې پکښي د وایسرای برتانوي افسران هم ول، او پنځوس یې توپکونه وَ بایلل. یوه الوتکه هم راوَ غورځول شوه. د غازیانو مرګ ژوبله جوته نۀ وه.

د ۱۹۴۱ د جنوری په دؤوم نیمي کښي، اکر سم برېښېدلۀ. سرکار ځینه پوځونه وَ ایستل. مګر یوې شخې د چوپتیا دغه څپه ماته کړه، سرکاري پوځونو، چي هوایي مرسته هم ورسره وه، یو ډېر نامتو غازی، شودې خېل، وَ وژلۀ. له وژل کېدلۀ وروسته، د هغه ورور، سوبیدار ولی خېل، نوکري پرې ښودله او د غازیانو یوه ډله یې جوړه کړه، چي د میران شاه په سړک به یې د سرکار په لاریو بریدونه کول. په ۹ فیبروري ۱۹۴۱، د توچي سکاوټ یو کتار توچي ناوې ته وَ استول شۀ. ناوې ته تر رسېدلۀ مخکي په ۱۱ او ۱۳ فیبروري د غازیانو له سختې ډغرې سره مخامخ شۀ. د شاهي هوايي ځواک تر پاسوکي (پوښ) لاندي د سکاوټ ټولی دوه اونی په ناوه کښي پاته شوه او هڅه یې وَ کوله چي په سیمه کښي د سرکار واک ټینګ کي. سربېرن خو اکر یو څه شه شۀاو پولټیکلي چارواکي خوښ ول او هیله یې کوله چي د سیمې له اوسېدونکیو سره به یې شاندې (اړیکي) ښه شي.

په دغه ترڅ کښي حاجي صاحب خېل کار چټک کۀ، هغه کسان به یې تنګول او ګروېږنې به یې ځیني کولې چي د سرکار شکومي (ملګري) ول. په پای کښي، ډېرو خاسَدارانو او ځایي ټیکه دارانو کارونو او نوکری پرېښودلې. په توچي ناوې کښي د خاسَدارانو زیاتې چوکی تر بریدونو لاندي راغلې او وَ سوزول شوې. د ۱۹۴۱ په مې کښي، حاجي د غازیانو د یوۀ لوی لښکر ، اټکل ۲۰۰۰، مخې ته راڅرګند شۀ، او په هغو یې زور واچولۀ چي د سرکار په شتمنیو او کسانو باندي بریدونه وَ کوي، هرڅنګه چي وي او هر چېرته چي وي.

لښکر په ډلو کښي وَ وېشل شوْ او په بويه او دته خېل کلا کښي يې د سکاوټانو په چوکۍ باندي بريدونه وَ کول. دوی ډېر پلونه هم وران کړل او هغه دوه سړکونه چي دته خېل ته تلل بند کړل. دو کورني توپونه وَ کارول چي په دته خېل سيمه کښي د سکاوټ په چوکيو باندي بريدونه وَ کوي. دوی په ۲ جون د ټوچي سکاوټ له يوه ګزمې سره يوه کلپه شخه هم وَ کوله.

يوه پوځي ټپال د اَ کر په اړوند دغسي وايي: «په هسکه ټوچي ناوې کښي اَکر له لاسه وتلی ؤ او د دته خېل سکاوټ چوکۍ سمي دمي کلابندې شوې وې، نه خو ساتل کېدلای شوې او نهٔ پوځونه له هغه ځايه ايستل کېدلای شول، ځکه چي سړکونه د دوښمن لخوا تړل شوي ول او هغو يې ډېره کلکه ساتنه کوله.»

په ۶ او ۷ جون، سرکار مځکنی پوځ او شاهي هواي ځواک کاروايی ته راوستل چي د دته خېل کلا کلابندي ماته کي. د دغو ورځو په جګړي کښي مرګ ژوبله: د سرکار لخوا دوهٔ نور سرتېري او دوه برتانوي افسران او ۲۷ نور سرتېري زخميان شول؛ د غازيانو په خوا کښي ۱۷ مړه او ۱۵زخميان شول.

د ۲۵ مي او ۳۰ سيپتمبر ۱۹۴۱ تر منځ د سرکار ټوله مرګ ژوبله: ۱۶۴ مړهٔ، ځای په ځای يا وروسته د زخمونو له لاسه، او ۳۲۷ زخميان.

## ۱۸ – ځپرکی

1. د ټيکري سر جګړه
2. د کلندرې سر جګړه
3. د دته خېل کلا دوٚيمه کلابندي

نيولي ويليمز له څلورو ټوليو سره له لډې کلا څخه ټيکري سر ته په ګشت ولاړ ؤ. کله چي څوکې ته وَ رسېدلؤ نو يوه لويه جرګه يې تر سترګو شوه، چي د ملافضلدين لخوا رابلل شوې وه. هغه يو خاسَدار له نېکې هيلو او سلامونو سره جرګې ته وروَلېږلؤ. که څه هم هغه ډېر زيات «دوښمن» خو نهٔ ؤ، خو دغه يې هم نهٔ غوښتل چي د کافرانو (سرکار) شکومی دي وَ بلل شي. هغه د خپلو کسانو يوه ډله د کلا خوا ته وَ لېږله چي په ګشت راوتليو پوځيانو مخه هغه ځای ته له ورتګه وَ نيسي. ويليمز د يوهٔ بېسيم پيغام له لارې له کلا مرسته وَ غوښتله. خو په دغو ګړيو کښي، له شاوخوا کليو په سلګونو مېړونه هلته ورغلل.

د څلور ټوليو په وړاندي په سلګونو غازيان ول. دوی له درو خواوو په غونډۍ باندي بريد وَ کړ. ويليمز پخپله په يوهٔ زاړهٔ سړي باندي لاسي بم ورغوزار کړ، خو هغه وَ ينولؤ او بېرته يې په دهٔ ورغوزار کړ. بم وَ نهٔ وسَستلؤ. غازيانو د غونډۍ په سر په سنګرونو بريدونه وَ کول خو په نيولؤ يې بريالي نهٔ شول. پوځيانو لاسي بمونه ورغوزارول او شاهي هوايي ځواک په غازيانو بمونه اچول. جګړه د څلور پوځيانو په مرګ او اوؤ نورو په ژوبلېدلؤ پای ته وَ رسېدله. يو بريدګی چي ډېر سخت ټپي هم ؤ وَ کولای شول چي څلور توپک د کلا تر دروازې وَ رسوي چېرته چي نور نو دی هم وَ پرتلؤ او مړ شوْ. بيا وروسته له مرګه په «انډيا ارډر اف مېريټ» باندي وَپېرزويل شوْ. د لډې چاونۍ يو زړې ښځې د هغې د هغې خواخوږۍ لپاره په

ټيکري کښې يو تان رخت ورکړ، چې د سختې جګړې په وخت کښې يې له خپل ژي (ګوډي) څخه زخمي سکاوټانو ته اوبه ورکړې وې.

## د کلندرې سر شخه، ۱۹۴۱

په ۱۹۴۱ کښې، تورن جان لَوچي د وزيريستان له جګړو سره ښه بلد نهٔ ؤ، يوازي له دوؤ ټوليو سره کلندرې سر ته ولاړؤ. غوښتل يې چې هغه غازيان وَ وېروي چې په سيمه کښې د خدرخېل وزيرو په کليو کښې مېشتهٔ ول. د غونډۍ له سره تورن لاندي د ټانګ کلي ته وَ کتل او يو څو درسته وال کسان يې تر سترګو شول. بېشکه دوی هغه کسان ول چې د دهٔ پکار ول، مانا غازيان. هغه وَ ويل چې يوازي يو ډز دي وَ شي. د هغهٔ دغه وايه (امر) وَمنل شؤ، مګر دغه يوه ستره تېروتنه وه، ځکه چې دغه له هره پاله يو بې مانا او د لېونتوب کار ؤ. يو سرکاري ټپال وايي، چې دغه ډز لکه خارګني ته چې څوک ښاخله وروړي. ډېر ژر خدرخېل لکه بمبرې (غومبسې) په غونډۍ سره راټول شول.

تورن لؤوې د ځان ژغورلو هڅه وَ کوله خو سملاسي تر ډزو لاندي راغلؤ. دوهٔ سپاهيان يې وَوژل شول او ډېر نور ټپيان شول. يو سکاوټ چې غوښتل يې د نورو وژل شوي پوځيانو توپک خوندي کي، هم وَ وژل شؤ. کله چې پوځيان سره ګډوډ ول او غازيان ترې راجاروتلي ول، د دوی يو ځاي شکومی، ميزل خدرخېل، يې ژغورنې ته راوَرسېدلؤ. د هغه هڅو د ډېرو سکاوټانو ژوند وَساتلؤ. هغه هر ګهيځ يوهٔ مورچل ته د اوبو رسولؤ ټېکه لرله.

په جګړې کښې، ميزل کلا ته منډه کړه، چې له کلندې سر څخه نيژدې يو ميل لرې وه، درزيان (خياطان)، جاروکشان، موچيان او نور يې راروان کړل چې له دهٔ، د دهٔ زوی او د دوی له څلور خرو سره مرسته وَ کي. هغه اوبه او کاړتوس د جنګ ميدان ته راواړل او له هغه ځايه يې مړي او ټپيان کلا ته وړل. او په همدغه وخت کښې به يې له ايلَجاريانو غوښتنه کوله چې جګړه دي وَدروي. د تورن لؤوې په ګډون، د ټول پوځيانو له را ايستلؤ وروسته هغه ټانګ ته ورغلؤ او کليوالو او غازيانو ته يې زارۍ وَکولې چې د دوؤ وژل شويو سکاوټان مړي ورکي چې ښخولؤ ته يې دته خېل ته يوسي. له ډېرو ريښتينيو (دلايلو) وروسته هغه د مړيو په لاس ته کولؤ کښې بريالی شؤ. د غازيانو او خدرخېلو مرګ ژوبله جوته نهٔ وه. له هغو دوؤ مړو چې پورته يې يادونه وَ شوه، د نورو سکاوټانو مرګ ژوبله هم څرګنده نه وه.

وَ دي شي چې تورن لؤوې به بريدمن ټاپ د روزنې په پېښه خبر نهٔ ؤ او يا به نهٔ غوښتل چې له هغه کوم لوست زده کي.

بريدمن ټاپ په سروکۍ جنوبي وزيريستان کښې له درې افسرانو څخه يو ؤ. نور دوهٔ يې تورن اي. ډي. مورهېډ او تورن ډينيس امبرسن ول. په ۱۹۲۴ کښې، دوی که هر څو له ګواښنه خبر هم ول، ټاپ خپل څلوېښت نوي ګومارلي د کاري روزنې لپاره بوتلل او د سروکۍ په شمال کښې تر بروند رغزۍ ښه تېر شؤ. په نويو ګومارليو کښې يو جمادار، يو ډريل هوالدار او يوڅو نايک ښؤونکي ول. دوی د بروند د کليو په خوا ولاړل. دوهٔ ډلګۍ وړاندي ولاړې او نورو دوو يې د شا لَخوا ساتنه کوله. کله چې دوی د اجازې تر ځايونو تېر شول، نو يو څوک يې وَليدلؤ چې د کلي لَخوا يې منډې راوهلې. کله چې يې د ډلونو ږغ واورېدلؤ نو تورن ټاپ په ګواښنې پوه شؤ. هغه ګومارليو ته د پرشاتګ وايه (امر) ورکړه. خو په دغه وخت کښې يو درځن قبايل دوی ته رانيژدې کېدل. دوی له دواړو غاړو راجاروتل. د پوځ په شا کښې يو ګومارلی او يو بولندوی وَ وژل شول. په نورو ګومارليو کښې وېره خپره شوه، په ځای د جنګ يا خوندي سنګرونو د تللؤ، په ډېره ګډوډۍ کښې راپه شا شول. بريدمن ټاپ پرشاتګ نور هم

چټک کړ او پخپله ببرته له خپل یوځ اردلي او نایک سره ولاړ چې خپل هغه توپک او سړي راواخلي چې په ښکاره ډاګ هلته پراته ول. هلته شاوخوا کلیوالو درې سره ځای په ځای وَ ویشتل.

لکه سټاکېل چې یې بیان کړی دی: «که څه هم ټول افسران او سرتېري «نالوستي» ول، مګر د پوځ او تورن لؤوې او ټاپ په ځېر افسران لپاره هیڅ پلمه ورپاته نهٔ وه. د ټاپ او لؤوې کارونه ښیي چې د هند په برتانوي سرکار په چاراواکو کښې همږغي نشته. تر ړومبني افغان جنګ (۱۹۳۸ – ۱۹۴۲) وړاندي او راهیسته د څلو کالو له تماسه او ټکره پَکارده چې برتانوي افسران د افغانانو له دستور سره بلد وي، ځکه چې د ډزونو کول او د هغوی غبرګون د ازمېیل د ناورین رابللؤ مانا لري. »

## د دته خېل کلا دویمه کلابندي

په خپل ټپال کښې، جنرال سر الان فلیمنګ هارټلي (ډیلی جنګ څانګه، ۱۹۴۳) د وزیریستان سیاسي اکر دغسي بیان کړی دی:

«د ټولو ستونز سرچینه اوس هم فقیر ایپي دی ... فقیر ایپي ډېر توپک جوړ کړي دي، او په هغو یې ځینه لوې کاروایی کړې دي او په ټبرونو کښې یې خپل نوم خورا لوړ کړی دی.
د فقیر کارونه لاندینی بڼې لري:

(ا) هغه کاروایی چې د وزیریستان په سړک باندي د موټرونو لېږد له کارهٔ واچوي؛ په وانډو او مورچلونو باندي ډزونه کيږي؛سړکونه بندوي؛ پلونه ورانوي؛ د ټیلیفون مزي پرې کوي او تبا کوي یې؛ او لاریو ته پټکنی کوي او لوټي یې.

(ب) هغه کاورایی چې د سرکار د رغونې له خنډ سره مخامخ کوي. په شینکي تنګي کښې د پوځ په ملکي کارکونکو باند بریدونه، په هینیس تنګي او رزمک هوایي ډګر باندي ډزونه کېږي او وېرول کيږي.

(ج) هغه کاروایی چې د سرکار د کاوکونکو زړهٔ وَ کاږي. خاسَدارن وېرول کیږي، او په دته خېل کښې ټوچي سکاوټ کلابند شول او توپکونو ډزونه ورباندي وَ شول. له جنوری راوروسته ټولو ته ویل کیږي چې له پوځ څخه وَوځي.

غازیانو خپله هڅه سره یو کړې چې د سرکار د کلاګانو او نور هر څه مخه وَ نیسي. په جنوری کښې د وزیریستان په بولندوی او ریزینډنټ باندي هغه وخت ډزونه وَ شول کله چې دوی دواړه سین تنګي ته ورغلل. د بدرګچیانو مرګ ژوبله یې نهٔ وه څرګنده. په شینکي ژوره کښې کار بندولؤ ته اړ شول. هلته نیژدې د رزمک – بنو سړک شمال ته په څمَځؤ کښې مېشتو شاوخوا څلورو سوؤ غازیانو کارګرانو ته وَ ویل چې، وه دي تاسي په ځان.

په سیمه کښې د ترینګلتیا لرې کولؤ اوسړک باندي د اړین کار د پیلولو لپاره د کارګرانو د جوګه کولو لپاره، سرکار په غازیانو باندي د برید کولو تابیا وَ کوله. د دغه کار لپاره یې د بنو لیوا او ملکي هواي ځواک راوَ خوځولؤ.

شاهي هوایي ځواک له سرکاري ځواکونو سره هوایي کومک کولؤ، مګر یوه ټولی چې سپکي ماشینګني ورڅخه وې، د غازیانو تر برید لاندي راغله. په ټولی کښې یو کسان وَوژل شول. ځکه چې غازیان ډېر جوخت ول او د چاړې غوندي تېرهٔ کمر ؤ، نو له ټولی سره شه هوایي

کومک هم کېدلای نۀ شۀ. له نورې مرګ ژوبلې له بچ کېدلو لپاره، ټولی د شاهي هوايي ځواک تر چتر لاندي ببرته په شا شوه، او غازيان وَ نۀ شۀ کولای چي ورپسې ولاړ شي.

د سرکار په غاړه کشي اته مړه او پينځلس ټپيان ول او د غازيانو په غاړه کښي اټکل لس مړه او ټپيان او دريِ وَ نيول شول.

په دغه وخت کښي حاجي د سړک د لېږل ورانولو، په وانډو (پنډغالو) او پوځيانو ډزونو او د سړک ساتني په سرتېرو باندي د بريدونه کاروايی کولې.

کله چي مداخېلو د حاجي صاحب له ايستلو څخه نټه (انکار) وَکولۀ، نو شاهي هوايي ځواک په ۲۹ او ۳۱ مارچ، په شېرانو، چي د مداخېلو له لويو کليو څخه يو دی، بمباري کولو ته راوستلې. په غبرګون کښي غازيانو په سرکاري ځواکونو باندي بريدونه زيات کړل.

په ګروېک کښي په يوې غونډې کښي، حاجي صاحب او څو نور وتليو غازي مشرانو د دته خېلو د يوې بلې کلابندۍ تابيا وَ کوله. د مي په 1 غازيان د لمرخاتۀ او جنوب ختيځ لور غونډيې ته جګ شول چي د دغې کلا کلابندي پيل کي.

## دويمه کلابندي د دته خېل کلا

بريدمن شريف خان اپريدي له سوبَدار لال دين خان سره د دته خېل کلا بولندويي کوله. دته خېلو ته تللی سړک بند کړ شۀ چي کلا ته د پوځيانو تګ راتګ وَ درول شي. يوازي له شاهي هوايي ځواک څخه دوی مرسته اخيسلای شوه، چي هر څه به يې له پاسه وراچول. غازيانو به ټوله شپه ډزونه ورباندي کول او له بريدمن شريف څخه به يې غوښتل چي تسليم شي خو هغه هم نۀ تسليميدلۀ.

د کلا پوځيانو هم ښه کلکې هلې ځلې کولې او تر ډېره ځايه خوندي ول، مګر يوه شپه غازيان په خاړپوسو کلا ته ورنيژدې شول غوښتل يې چي په اغزنو سيمونو باندي ټاټونه او برستنې واچوي چي کلا ته ورواوړي. پوځيانو وَ ليدل بيا يې د درې – ايپچي هاوانونو ډزونه ورباندي وَ کول او د دوی لاره يې ټپه کړه. خو بيا هم کلا بندي هغسي روانه وه.

په پای کښي پولټيلکي چاړواکيو بريدمن شريف ته وَ ويل چي راوَځي غازيان دي په جګړه اخته کي. که څه د هغه خوښه نه وه،خو وايه (امر) يې وَ منلۀ او ۰۳۰۰ بجې له درو ټوليو سره راوَ وتلۀ. په دوی باندي د درو الوتکو هوايي چتر ۏ. بريدمن شريف وَ ليدل چي ځينه غازيان لمنځونه کوي او نور د لمانځه تيارى کوي. هغه الوتکو ته دغه وينا وَکوله، الوتکي هم ورباندي راوَګرځېدلې او په غازيانو يې مخه وروَکوله. له يوې الوتکي د لوړوالي او کوزوالي اندازه ورکه شوه. نو يې مخه واړوله او د ميرانشا په لور کړه شوه چي په خوندي توګه کوزه شي. مګر له يوه کمرۀ سره وَ سولېدله، بيا ټکر شوه او وَ وسَستله. بريدمن شريف سوبَدار لالدين ته وَويل چي پيلوټ دي وَژغوري. هغوی د الوتکي خوا ته ورمنډه کړه چي شاوخوا دوۀ ميله لرې لوېدلې وه. له بله لوري غازيانو هم د الوتکي خوا ته منډې وروَهلې چي پيلوټ يې وَوژني او وسلې ځيني واخلې. بريدمن شريف او لالدين دغه منډه وَګټله. دوی پيلوټ او ځارونکی دواړه وَژغورل، چي ډېر بد سوزېدلي ول، او دواړه يې په تزکره کښي د کلاه خوا ته له بدرګې سره وَلېږل.

کله چي غازيان وروَرسېدل نو ډزه وَلګېدله. بريدمن شريف د چټک پرشاتګ وايه ورکړه، الوتکه او درستي يې په ځای پرې ښودلې چي لا اوس هم اور پې بل ؤ. وروسته بريدمن شريف په يوهٔ ټپال کښي وَويل چي دی وېرېدلؤ چي دی کله هم ژوندی نيول کېدلای شؤ چي د دهٔ په ګومان تر مرګ هم به بده وه. غازيان دومره نيژدې ول چي پوځيانو د دوی وېره څرګنده ليدله. رېښتا هم بريدمن شريف يو سړی وَ ليدلؤ چي خپله ړېره يې ژؤوله نو دی ورځخه وَوېرېدلؤ، ځکه چي احمدزي، اوتمانزي او مسود چي کله خواشيني وي نو دغسي کوي. د بريدمن شريف په ويان، دوؤ الوتکو دوی وَژغورل چي د غازيانو په سنګرونو يې بمونه غورزول او د دوی د تاړاک مخه يې نيوله. دغه جوپه د اوؤ سپاهيانو په وژنه او نورو ډېرو په ژوبلېدلؤ پای ته وَرسېدله. پيلوټ، چي موسيس نومېدلؤ، وروسته په روغتون کښي مړ شؤ، او د شريف په لاس يې يو پيغام خپلې مېرمني ته وَلېږلؤ.

دوه ورځې وروسته، لکه بريدمن شريف چي په خپل ټپال کښي وايي، روپرټ ټيلر له ميرانشا څخه دشپاړسو ټوليو له يوهٔ ګشت سره د غرونو سر ته راغلؤ. ورسره يو يو غټ سپين سکاټلنډی هلک، انډريو ډونس، هم ملګری ؤ. روپرټ تابيا لرله چي غچ واخلي او غازيانو ته يو ښه لوست وروَښيي. په سبا دوی وَخوځېدل او له دته خېل کلا څخه پينځه ميله د جنوب خوا ته له غازيانو سره مخامخ شول.په شخه کښي يوسکاوټ کاري ټپي شؤ. هغه د خپل ټبر د يوهٔ کس لخوا وَژغورل شؤ او د غابښي سر ته يؤوړل شؤ، خو هغه هم دوه ګولی وَلګېدلؤ. بريدمن شريف په خپل ټپال کښي دغه هم ويلي دي چي هلته له پول څخه د سکاوټان خواته يوه د پلوسي ونه وه او له غازيانو څخه يوهٔ کس ته تر غولي پوري د واټن پته وه. نو هر څوک چي به هغې ونې ته نيژدې ورغلؤ نو وَ به وشتل شؤ. کله چي انډريو ډونس راغلؤ نو شريف ورته وَ ويل چي له ونې سره دي پام کوي. انډريو هغه ته بې پروايی وَويل، «زه خو دومر غټ يم چي څوک مې ويشتلای نهٔ شي». درنګ شېبه وروسته يې په ټټر مرډک وَلګېدلؤ او په مرګ ويده شؤ. روپرټ ته چي د ډونس له مرګه پرته بل هيڅ په لاس ورَ نهٔ غلل نو په لومړي ماسپښين د پرشا کېدلؤ وايه ورکړه. غازيان لنډ ورپسي ول، مګر دوی وَکولای شول چي تر کلا ځانونه وَرسوي خو اوه يې وَوژل شول او نور ډېر يې ټپيان شول. مړهٔ د شپې تر کلا ورچني ښخ کړ شول، چي بريدمن شريف يې د کلا د بولندوی په څېر څارنه کوله.

د جنرال هارټلي د يوهٔ ټپال له مخې، له ۱ اکتوبر ۱۹۴۱ تر ۳۱ دسمبر ۱۹۴۲ پوري د سرکار يواويا وَوژل شول او يو سل يو اويا زخميان شول.

## ۱۹ – څپرکی
## د دويم نړیوال جنګ لپاره له قبايلي ايجنسيو څخه د پښتنو ګومارنه

په ۱۹۴۲ کښي، په دويم نړیوال جنګ کښي، کله چي پخپله په هند کښي سياسي اړیګړی وه او د برتانوي ستروا‌کی دغه مرغلره،هند، د جاپان له ګواښ سره مخامخ وه، نو د سرحد سوبې والي، سر جارج کنينګهم، د قبايليانو د ګومارنې يوه تابيا تياره کړه. دغه د ځينو موخو دَ پوره کولو لپاره يوه ښه برابره کړ شوې ستراتيجي وه. شمال لوېديځ سرحد به تل سرکار ته ستونزې جوړولې. د تزاري روسيې او فرانسې له ګواښونو سره مخامخ ؤ. له دغو سيمو څخه د زرو زلميانو ګومارنه د څو موخو لپاره وه: (ا) د خطرناک دوښمن جاپان په چپه د پوځونو شمېره زياتول، (ب) د کار په ښه د سياسي بدو له لارې د قبايلو ارامول، (ج) له قبايلي

سیمو څخه د جنګي ځواک لري کول، په بله مانا دغه سیمه د برتانوي هند ځواکونو ته یوه ډېره سخته وه.

والي جې. ایچ. پرینډرګسټ، چي دَ وزیرستان سکاوټ یو پخوانی افسر ؤ، له ډیلي څخه راوَبللؤ. هغه له پښتنو سره په راشه درشه کښي ښه بلدتیا لرله او د هغو خوی او غیرت هم ښه ورته څرګند ؤ. هغه د ایبلانکي په کاوایی کښي هم برخه اخیستې وه، چي دَ پښتنو دَ جنګي ستراتیجیو په اړوند یې دَ دهٔ پوهه نوره هم زیاته کړې وه.

په پېښور کښي، سر جارج کنینګهم پرینډرګسټ ته واک ورکؤ چي له جنوبي وزیریستان څخه شېږ سوهٔ مسود، له خیبر درې او تیراه څخه څلور سوه اپریدي او د خیبر له جنوب لېدیز (چي اوس مومند اېجنسي ده) څلور سوه مومندان وَ لګوي. والي یوه جرګه راوَبلله، چي دَ ټوّل اپریدي ټبرونو استازیتوب یې کولؤ. هغه جرګي د خپلې تابیا په اړوند په پښتو کښي وینا وَکوله او بیا دوی ته پرینډرګسټ وروَپېژندلؤ چي دَ ګومارنې کار به یې په غاړه وي. هغه وَ ویل چي مسود او مومند له خپلو خپلو پولټیکلانو سره لاپخوا دغه وړاندیز منلی دی.

په سر کښي پرینډرګسټ د والي په بلنه ډېر خوښ ؤ، مګر کله چي هغه ته دَ کار پته وَ لګېدله نو پرېشان شؤ. هغه ته جوته وه چي له مسودو سره راشه درشه څه اسان کار نهٔ دی. ځینه کسان په ړومبي نړیوال جنګ کښي په بلوچ رجمنټ کښي لګېدلي ول، خو کله چي ورته ځینه وایې (امرونه) ورکړ شوې چي دوی ته دَ منلو وړ نهٔ وې نو یاغیان شول او خپل ټول افسران یې وَ وژل. په دغه اړوند پرېډرګسټ لیکي: «« ما څه کړي دي؟ له هغوی څخه به شپږ سوه له ما سره وي، دغه خو یو ناورین دی.»»

مګر دَ وایې (امر) په ځای کولو لپاره یې د مومندانو او اپریدو دَ ګومارنې لپاره دَ پېښور په چاونۍ کښي یوه منځی (مرکز) وَ رغولؤ. دوه نور انګریزي افسران هم دَ دهٔ تر بولندې لاندي هلته وَ لګېدل. په سر کښي کله چي ګران وختونه ول نو دهٔ له خپله غونډه وَلي هاموندې او کانستېبلري افسر ویلي راوز چي سکندر میرزا ورته وروپېژندلی ؤ هم له ځان سره وَ نیول. راوز که څه هم ډېره بلدتیا یې نه لرله خو ځکه ډېر اغېزناک ؤ چي پښتو یې زده وه. دَ پینډرګسټ په وینا په ګومارنې کښي د دوی ستونزه دغه وه چي هغوی ته دَ ګومارنې لپاره څه پلمه وَ وایي او بل دا چي ولې به یې دَ جاپانیانو په چپه جنګوي.

ریښتیا هم دغه ډلې له هغو سیمو څخه وې چي دَ هند له نیمې وچې سره نهٔ وې تړلې. دوی دَ هند برتانوي سرکار ته نهٔ ول وفادار. کنینګهم او پینډرګسټ هڅ وهلؤ چي تر پوله پورې خوا قبایلو ته اسلام یو لوی څېز دی، نو ځکه یې هڅه وَکوله چي دوی ته وَ وایي چي جاپان وَ اسلام ته یو لوی ګواښ دی دوی به جهاد وَ کوي په چپه دَ ««تیارې دَ ځواک»»، مانا جاپانیان – چي دَ خدای پاخه دوښمنان دي.

له اسلام څخه دَ ناروا ګټې اخیستلو لپاره او دَ نالوستو پښتنو دَ کښي ایستلو لپاره، کنینګهم پینډرګسټ ته وَویل چي یو اسلامي توغ (جنډه) تیاره کي له ګومارلیو دي پرې لوړه واخلي. دغه اسلامي توغ چي ګومارلیو به دَ خپل یانه (مارچ) په سر کښي اخیستلؤ، په اړوند یې کنینګهم لیکي: «« زه په پېښور کښي د یوهٔ هندو ګنډونکي دوکان ته ورغلم او له یوهٔ ښه زرغونه بخمله مي یوه جنډه تیاره کړه چي د قران ایتونه په زرین سپېنسي (تار) پرې چکن شوي ول او یو لاس هم پرې جوړ ؤ چي دغه سپېڅلی کتاب یې نیولی ؤ. د توغ څنډې هم زري

وي – زه يې اوس هم لرم، چې له جنګ څخه زما يوازيی «شوکه» ده – او ما پرې له هره يوۀ څخه د خپلې ګروهې (عقيدې) سره سمه لوړه واخيستله.

پيندرګست له مسودو، اپريدو او موندو څخه دَ يو زر کسانو په ګومارنې کښې بريالی شۀ. دَ جنګ چيغه وه: « سره يو موټې اوسي، دغه يو سپيڅلی جنګ دی په چپه د دَ ځواکونو دَ تيارې چې ستاسي کلي سوزوي او ستاسي ښځې بې پته کوي ... !»

خو دَ قبايلي سيمو په ګومارليو باندې باور نۀ ؤ. نو ځکه يې دوی ته هغه توپک ورکړل چې پخپله قبايلو جوړ کړي ول. دَ پوځي توپکو غوښتنه يې وَ نۀ منل شوه ځکه چې وېره وه چې دوی به دغه ګران بها درستي غلا کي او تر پولي پورې خوا به يې يو سي. دَ اخور درې (ادم خېل دره) او دَ جنوبي وزيرستان کانيګورم په ګډون په قبايلي سيمه کښې د درستي ډېرې کارخانې وې. د دغو کارخانو ټوپک ښېخې دَ پخواني مارټيني – هينري غوندې ؤ چې ۳۰۳ بوُر يې لرلۀ، او هغه توپک چې پوځ به کارول. پرينډرګست دغو کارخانو ته ورغلۀ او توپک يې ځيني واخيستل؛ دَيوۀ پوځي توپک يې ۴.۷۵ پونډۀ او دَ مارټيني هينري يې ۲.۸۷ پونډۀ ورکړل. پيندرګست دَ دغو توپکو نيګړتياوې دغسي بيانوي: « دَ دوی روخونۀ ډېر ژر پټلي شول او مړدک به ډېر ژر له زوره وَلوېدلۀ، لنډه به پرېوتله او واټن او رکوالی (کرَتوب)به يې بايللۀ.»»

دغه قبايلي ځواک چې پينځه سوه مسود، دوۀ نيم سوۀ اپريدي او دوۀ نيم سوۀ موند ول پکښې له اټک سره نيژدې په کېمبل کښې دَ مانسا سيمي ته ولاړل. دَ ځواک ګومارنې او سريښتې (تنظيم) درې نيمې مياشتې وَ نيولې، پسته په اګست ۱۹۴۲ کښې دوی ويزاګرام، اندرا پردېش او جنوبي بهار او اوړيسې ته دَ تګ لپاره تيار ول. له هغه ځايه دوی ويزګا پټم ته ولاړل چې په بنګال خليج په ختيځه غاړه کښې د شاهي سمندري اډې په لاره کښې پروت ؤ، چېرته چې جاپاني ببړی ليدل شوې وې او دَ هند برتانوي سرکار وېره لرله چې جاپانيان به هلته راوَ خېژي.

که څه هم پښتنو هيڅا ته دَ تاوان ور رسولۀ نيامت نۀ لرلۀ خو دَ ويزګا پټم وګړي له دوی وېرېدل. که څه برتانوي چارواکيو دغسي اکر هيڅ نه خوښولۀ، خو دغه دَ بوبيلي دَ راجه لپاره ډېره خوندره وه. ځينو مظاهره چيانو بزګران تنګول، خو کله چې ورته جوته شوه چې پښتاه هلته دي نو ژر له هغه ځايه ولاړل او بزګران يې خپل کار ته پرېښودل.

مګر، کليوال ډېر وېرېدلي ول ، يو ځل يوۀ کليوال چې دَ ګومارليو د ګزمې ډله وَليدله نو دومره وَ وېرېدلۀ چې ډانګ راواخيستلۀ او يو ګومارلی يې پرې وَ وهلۀ. په غبرګون کښې ګومارلی هغه دَ خپل توپک په کونداغ وَ وهلۀ. دَ کليوال سر مات شۀ او په مځکه وَ پرتلۀ او پسته په روغتون کښې مړ شۀ. پيندرګستِ دَ توپک په مات کونداغ باندې خپه ؤ چې په قبايلو کښې دَ جوړ کړ شوي توپک څرنګوالی څومره بېکاره دی.

په ويزاګا پټم کښې د ځواک بولندوی پيندرګستِ ته وَ ويل چې هغه لوَړې ته دې وَ خېژي چې ټوله سمندري اډه له هغه ځايه څخه ښکارېږي. هغه ورته وَ ويل چې ۀ (بولندوی) چې نوې وسلې ورسره دي جاپانيان په شا وَ نۀ شول تمبولای نو دَ دۀ ځواک چې قبايلي توپک ورسره دي به څنګه دغه کار وَ کولای شي. دَ ويزاګا پټم دَ بولندوی له وايې سره دَ ته له ډېلي څخه هم وايه ورکړ شوه چې په جاپانيانو کښې دي وېره خپره کي که دوی هند ته دَ ننوتلۀ هڅه وَ کي. دَ

پینډرګسټ لپاره دغه وایي بېخي لکه بشکنځل ول، په بله وینا اوتې بوتې، چې دَ ده دَ زړو کسو ځواک چې په قبایلي توپکو سمبال دي، به له جاپانیانو سره جنګ کوي.

دغه ځواک له ویزاګام پټم څخه چیټاګانګ ته ولاړ او له هغه ځایه کالادام ناوې چې له برما سره نیژدې ؤ ولاړو. کالادام ناوې (وادي) ته په ټوله لاره کښې پینډرګسټ ته ډېره ګرانه وه چې په قبایلانو وَ مني چې خپل منزل ته ځانونه وَ رسوي. په کالادام ناوې کښې دوی نارامه شول، پرته له یوڅو نورو ټولو غوښتنه وَ کوله چې دوی ته دي پوځي توپک ورکړ شي. پنډرګسټ څو څو ځله بېخي زیاته هڅه کړې وه چې دَ دهٔ ځواک ته دي دغه توپک ورکړ شي خو کومه ګټه یې نهٔ وه کړې. هغه له جنرال مولزورت، چې یو وخت دَ دهٔ بولندوی هم ؤ، جنرال لوید او دَ کنینګهم او نور په ګډون هم دغه غوښتنه کړې وه، خو لکه دی چې یې بیانوي: ««‌ همهاغه دَ لېونتوب وېره وه، چې دغه ښه توپک به غلا شي.»

په پای کښې، پریټنډرګسټ پوه شؤ چې دغه ټولې هڅې ناهیلي او ناکامه دي. پښتنو بې پوځي ټوپکو له جنګ کولو څخه نټه وَکوله، او سرکار نهٔ په دوی باور کولؤ او نهٔ یې هغه څه ورکول چې دوی غوښتل. نو ځکه دهٔ دوی بېرته پېښور ته راوستل.

د پخوا په څېر چاروا‌کو تور وَ لګولؤ، « قبایلي ایلجاریان بې باوره ول نو ځکه مو بېرته راستانه کړل.»»

## ۲۰ – څېرکی

1. میرا کنډَو جګړه
2. په غریوم سکاوټ ډزونه او دَ مرستیال پولټیکل غلام یحیا وژنه
3. له وزیریستان څخه د پوځ ایستل

۱۲ اپرېل ۱۹۴۳ ماښام، په سروَکې کښې د ډاک لارې ټلوونکي او سولیو خبر ورکؤ چې د جنډولي په سړک باندي لوی شمېر غازیان روان ول. جان اوټلي او لاکري ووډس د اکر په اړوند خبرې وَکولي او پرېکړه یې وَ کوله چې تر سبا ګهیځ پورې به هیڅ هم نهٔ کوي.
د سبا لپاره تابیا وه چې د میراکنډَو، چې د سړک شمال لور ته یوه څارنده غونډۍ وه، به نیسي. کوم خبر چې چاروا‌کیو ته رسېدلی ؤ، له هغه سره سم غازیانو هوډ لرلؤ چې یو دغسي کار وَکوي چې چاروا‌کي، پوځ او سکاوټان یې باید دَ تل لپاره په یاد وَ لري. دوی تابیا لرله چې هغهٔ بهیر ته پټکَنی وَ کوي چې په ۱۴ به له وانهٔ څخه راتلؤ. په همهغه ورځ، لاکري ووډز له جنډولي څخه اته ټولی د جګړن خوش وقت الملک، چې ایجوټېټ ایچ. ار. هوچینز هم ورسره ؤ، تر بولندۍ لاندي ځای پر ځای کړې. دوی ته وایه (امر) وَشوه چې له سپلیتو څخه څلور پینځه میله لرې میرا کنډَو وَ نیسي.

په سبا (۱۵ اپرېل) په نیمه لاره کښې، تورن ایچ. ار. هوچینز، جګړن خوشي او جمدار اکبر دوه کسان وَ لیدل چې له غونډۍ یې کوز منډې وهلې. دوی ته درېږ وَ ویل شؤ، خو دوی دغه وایه وَ نه منله. پوځیان په هغې خوا یو څو ډزونه وَ کول. ډزونو هغه غازیان راوَبوړنول چې هلته یې یوه جرګه جوړه کړې وه. چې څرنګه یې ډزونه واورېدل ژر یې جرګه پای ته وَ رسوله او پاس په ختلؤ یې پیل وَ کؤ. پوځیانو د غونډۍ څوکې ته دَ رسېدلؤ هڅه وَکوله، خو غازیان هم هغې خوا ته منډې وَ هلې. ډېر ز غرد دَ ټوپکو ډزونه وَ شول او سکاوټ پکښې وَ

وژل شوٌ. یو بل سکاوټ، چي سپور ؤ، کوز منډه کړه چي د ګورګوري دَ وني تر شا پټ شي. خو تر یوهٔ خوندي ځای پیدا کولوٌ مخکي وَ ویشتل شوٌ او مړ شوٌ. هوالدار محمد سید هڅه وَکوله چي دَ خپلو ټولیو سنګرونه وَ ګوري، خو دی پخپله په تحرګ کښي وَلګېدلوٌ. ځینو سپاهیانو هڅه وَکوله چي وینه یې تم کي خو ګټه یې وَ نه کوله. هغه یو څو شېبې وروسته پور پرې کوٌ.

دَ ښاغلي اوټلي ټولی به تابیا سره سمي را وَ نهٔ رسېدلي. هغه میراکنډَو ته تر رسېدلو مخکي له وانه څخه دَ راوتلوٌ په وخت کښي دَ بهیر خوندي تګ ته لومړیتوب ورکوٌ. اوټلي د بهیر خوندي مزل یو ستر بری وَ بللوٌ.

په میراکنډَو دَ غازیانو لښکر یوې دغسي جګړې ته رواړل شوٌ، چي په اړوند یې اوټلي لیکي: « په دوی به اتو الوتکو بمباري کوله، چي له راولپینډۍ به راتلي، خو د بدې هوا له لاسه یې وَ نهٔ شوٌ کولای چي راشي. هوچینز او نور افسران پرېشان شول، ځکه بې له هوایي کومکه خو دوی ستونزې لرلې. هرګوره، یوه زړه اداکس الوتکه راښکاره شوه، بمونه یې وَ غورزول او د غازیانو په سنګرونو یې دَ ماشینګنو ډزونه وَکول چي له ټولیو سره کومک وَکوي چي دَ غونډۍ له سره ژر تر ژره راکوز شي. ورپسي ډېر ژر دَ جګړې ډګر ته یو توپان راغلوٌ. دَ هوچینز په وینا، هغه ډېر کومک وَکولوٌ، ځکه چي غازیانو دوی نهٔ شول لیدلای چي ډزونه ورباندي وَکوي. په دغه ترځ کښي دَ هغه په کینه اوړه باندي یو کلک ګوزار وَشوٌ. چي دی یې دغسي بیانوي: «په لومړي سر کښي هیڅ درد نهٔ کولوٌ خور وروسته یې درد کولوٌ. کله چي ما منډه کړه، دَ خدای دور هٔ (فضل) ول چي کونډه مي نهٔ وه، نو ما په خپل لاس باندي خپل ولی وَ موښلوٌ نو هیڅ وینه مي وَ نه لیدله. زه دَ ږلی په یوهٔ غټ غرم لګېدلی وم. »

کله چي توپان زیات شوٌ او سخته تالنده هم ورسره مله سوه، نوالوتکه بېرته له میراکنډَو څخه وَ ګرځېدله.

## دَ غاریوم سکاټ چوکی ویشتل

په ۱۹۴۳ کښي غازیانو دَ غاریوم سکاوټ چوکی څو ځله وَ ویشتله، یو شمېر سکاوټان یې پکښي وَ وژل. چي کله به دوی د الوتکي غورهار واورېدلوٌ نو هغه توپ چي دوی به دَ ویشتلو لپاره کارولوٌ، ډېر ژر به یې په یوهٔ غار کښي پټ کوٌ. دغه توپ خورا وېره او تر هغه جوړه کړې وه، او دَ سیمي دَ سکاوټانو غړي یې ښوی کړي ول. پولټیکلي چارواکي ځینو څرکښوٌ (جاسوسانو) ته دنده وروَسپارله چي دَ توپ کره ځایګی په ګوته کي. چارواکیو غوښتل چي هغه ولجه کي او یا یې ویجاړ کي. د دغي موخې لپاره اې پي اې بریان بېکر او جان اوربټ پرېکړه وَکوله چي دَ جام جامسن تر بولندۍ لاندي یوګشت او ځینه اینجنران او لغم پوهان وروَلیږي. بېکر او اوربټ دَ شپې په تیار کښي دَ هغه ځایګي په لور روان شول. څرنګه چي دوی له واندې (کمپ) څخه راوَتل نو له ورایه ورباندي ډزونه پیل شول. غازیانو پرلپسي ډزونه ورباندي کول او ورو ورو ورته رانیژدې کېدل. اوربټ کوز شوٌ چي له مړدکي ځان بچ کي ، خو بېکر او اې پي اې غلام یحیا توري دواړه په یوهٔ مړدکي وَ لګېدل. مړدک د بېکر تر پټانهٔ وَ وتلوٌ او دَ یحیا په تندي وَ لګېدلوٌ. بېکر جوړ شوٌ خو یحیا څو ورځې وروسته مړ شوٌ. تر څو چي دوی هغه غار پیدا کولوٌ غازیانو توپ له هغه ځایه لري کړی ؤ. دَ غارونو الوزولو هم ډېر وخت وَ نیولوٌ، ځکه پرلپسي دَ پوځیانو په سرونو مړدکي تېرېدل او یا په هغو تیرو لګېدل چي دَ دوی شاوخوا پرتي وې. دغه یو ډېر ګران کار ؤ. هرګوره، دوی دَ غار په اولوزولو کښي بریالي شول، چي په پوځي ژبې کښي یو بېشمرهٔ کار ؤ، ځکه چي غازیانو ته دَ بل غار جوړول څه ګران نهٔ ول.

## دَ پوځ ایستل له وزیریستان څخه

دَ ۱۹۴۴ له پیله او دَ ۱۹۴۶ تر پایه دَ بګی ټرانسپورټ او سرکاري لاریو باندي دَ ډزو، په سړک جوړولو او دَ یو یا دوو سکاوټانو په پټکنی کښي له وژلو پرته، نوري سختي جګړي نهٔ وي. لامل یې له وزیریستان څخه وَ برما ته دَ پوځ استول ول. دَ هند ساتل دَ سرکار لویه اندېښنه وه. له غازیانو څخه دَ ساتلو لپاره دَ شمالي او جنوبي وزیریستان بولندویانو سکاوټان له نیژدې سیمو او لویو لارو (بنو – رزمک او ټانک – منزئ) پرته له بل هر ډول ګشت څخه بند کړل.

په شمالي او جنوبي وزریستان کښي پرَته له دور افسرانو دَ نورو ټولو له پوځ سره له وَتلو وروسته غازیانو نهٔ غوښتل چي له سکاوټانو سره وَ جنګیږي. په پای کښي، دَ سکاوټ افسرانو دَ ۱۹۲۵ او ۱۹۳۵ کلونو دَ پرتلیزې ارامۍ خویونو ته مخه کړه کله چي به دوی بنو، ټانک او ډېرسمایلخان ته تلل نو بې درستي به له خاسَدارانو سره تلل، په دغو کلونو کښي سکاوټانو کولای شول چي دَ اړتیا په وخت کښي په رخصتۍ ولاړ شي.

## ۲۱ – څپرکی
## ګورکا کنډک او سیک غرنۍ بیټرۍ ته پټکنۍ

په اکتوبر ۱۹۴۷ کښي کله چي په کشمیر کښي جګړه روانه وه، یو ګورکا کنډک لا بیا هم په وانهٔ کښي پروت ؤ چي هند ته دَ تګ لپاره یې یوې بدرګي ته کاتهٔ (انتظار) کول. ډګروال کې. ایم. چیمبرس له بولندوی جیمز ماجوري سره د دغه ځواک بولندویي کوله.

په وانه کښي دَ لیوا بولندوی او په جنډوله کښي دَ سکاوټ بولندوی په ګډون هیچا چورت نهٔ وَهلؤ چي ټانک ته په لاره په بهیر باندي برید کېدلای شي. دَ بدرګي لپاره یوازي دَ یوې ټولۍ سرېښته شوې وه چي کې. ایم چیمبرس به یې په سر کښي ؤ او جېمز ماجوري به یې په لم کښي. په سروَکی کښي بهیر دَ ځو ګنټو لپاره وَ درول شؤ. جېمز ماجوري خپله پوره هڅه وَکوله چي تر تیارې مخکي بهیر وَ خوځوي، خو بې شمرهٔ. بهیر خو وَ خوځېدلؤ، خو هغسي نهٔ لکه ماجوري چي غوښتل. له سروکی څخه دوه نیم میله لرې لګډ ته چي راوَ رسېدلؤ نو تر ډزو لاندي راغلؤ. دغه یو ډېر بد برید ؤ. ډېرې پوځي موټرونه ویجاړ کړ شول او ډېر پوځیان په سړک وَ وژل شول. ګورکیان او سیکان دَ جېمز ماجوري دَ بولندی دَ منلو په ځای لکه بتې په خپلو لاریو کښي ناست ول.

دَ بهیر مخکینۍ ډلي ته په شهور تنګي کښي پټکنۍ شوې وه. کله چي جي. ماجوري دَ پټکنۍ واورېدل نو دَ بهیر شاتنی نیمی یې بېرته سروکی ته راوَګرځولؤ. وروسته په همدغه ورځ کله چي چګملی ته په لاره ؤ، نو جي،ماجوري دَ جګړې سختي په خپلو سترګو وَ لیدله، چي پوځي ګاډي پکښي ویجاړ شوي ول، څلوېښت یا پنځوس ګورکیان او سیکان وژل شوي ول او ډېر نور زخمیان ول.

له پټکنی دوه ورځي وروسته، نیمی بهیر لا په سروکی کښي ؤ، او بل نیمی په چګملی کښي ؤ، او ډېر ویجاړ ګاډي دَ دغو دوو سیمو تر منځ په سړک پراته ول. دوه ورځي وروسته، دَ هغو

ملکانو په کومک چي له غازيانو او قبايلي مشرانو سره يې خبرې وَ کولې، بهير جنډولې ته وَ خوځېدلای شۀ.

ځينه پوځيان چي له جګړې ځخه تښتېدلي ول، څو ورځې وروسته د سکاوټ چوکۍ ته راغلل. که څه هم اکر يې ډېر بد ؤ، خو دوی خوښ ول چي ژوندي دي. په دغه توګه په وزيريستان کښي تش په کاغز دَ برتانوي سترواکۍ (امپراتوري) وروستی برخه هم پای ته وَرسېدله. ډېری هغه کسان چي دَ برتانوي سترواکۍ لپاره يې بلهارۍ (قرباني) ورکړې وې، اوس پوچ او نامېنده ول، په رېښتيا چي دوی بايللي وه. په پای کښي دوی ته پته وَ لګېدله چي دَ دوی ټولې بلهارۍ بې شمره وې.

## ۲۲ – څپرکی
## دَ والي سر جارج کنينګهم تګلاره دَ پاکستان دَ ملاتړ لپاره

په ۱۴ اګست ۱۹۴۷ نيمه شپه، په نيمه وچه کښي دَ برتانيې واک پای ته وَ رسېدلؤ او دَ پاکستان او هيندوستان هيوادونه وَ زېږېدل.
که څه هم ميليونونه مسلمانان نۀ پوهېدل چي وروسته به څه پېښېږي، خو دغه دَ دوی لپاره يو ستر بدلون ؤ چي له ۲۰۵ زاتي هندوانو او ۷۰ ميلونوکمزاته هندوانو بېلېدل. کمزاته هندوان هغه دي چي ناګډي (اچوت) هم ورته وايي او نور هندوان ورسره تر بودۀ ګانو هم بد چلند کوي.

دَ زات له کَسَني (نظريې) سره سم دغو ناګډو وګړو ته دَ هغو ګناهونو سزا ورکول کيږي چي دوی په خپل تېر ژوند کښي کړې وي، او اوس يو ځل بيا دوی دنيا ته د کمزاتو په بڼه راوړل شوي دي. دوی ته اجازه نشته چي دَ نورو زاتونو نومونه په ځان کښېږدي. ناګډي له ټولنې څخه شړل شوي دي، هغوی يوۀ زاتي هندو ته لاس نۀ شي وروړلای. هغوی له زاتي هندوانو سره هيڅ ډول تماس نۀ شي نيولای. يو زاتي هندو دوی ته نيژدې نۀ ورځي، که چېرې ورسره لږ هم وَ نښلي نو بايد هغه دَ ځان پاکولو لپاره وَ لامبي، دغه لامبل ډېر اوږدۀ وي. شړلي اجازه نه لري چي دَ برهمن له کور سره نيږدې تېر شي ځکه چي په مځکه باندي دَ دوی پلونه د برهمن لپاره بنه نۀ ګڼل کيږي. که يو کمزاتۀ يوۀ زاتي هند ته په لاره ورشي نو بايد له لارې وَ وځي. که يو کمزاته خوړو ته لاس وروړي نو زاتي هندوان يې نۀ خوري او که هغه له ځاه څخه اوبه راوَکاږي نو هم يې دوی نۀ چيښي. داتي هندوان په هغه لوښي کښي اوبه نۀ چيښي چي يو ځل کمزاته پکښي چيښلي وي.

کمزاته له درمسالونو څخه ايستل شوي ول. دَ هغوی کمکيانو ته دَ ليک لوست اجازه نۀ وه، که چيري دوی دَ برهمنانو سپېڅلي کتابونه وَ لوستل نو سخت سزاګاني ورکول کيږي. دَ هغوی کمکيان له ښوونځايونو څخه ايستل شوي ول. هغوی اجازه نۀ لرله چي خپل مړي دَ زاتي هندوانو په سونځای کښي وَ سوزوي. دَ هند په ځينو سيمو کښي دوی ته يوازي دَ شپې له خوا دباندي راوتلو اجازه شته. دَ هند په ډېرو سيمو کښي دوی دَ مريانو په څېر کارول کېدل او دَ بودَګانو غوندي خرڅېدل. يو ځوان ناګډي بس دَ يوۀ غوايي نرخ لرلؤ.

هغوی يوازي هغه وخت دَ زاتي هندوانو پټيو ته نيژدې ورتلای شول چي په سپېڅلو غواګانو به کومه وبا وَ لګېدله او دوی به يې ورستې مړزګې لري کولې.

بېلتون مسلمانانو ته یو لوی چانس برابر کړ. دوی له شپږو میلیونو سیکانو او اوؤ میلیونو عیسویانو جلا ول. له دَ دوی بېلتون ډېر ښه ؤ له هغو هندوانو څخه چي دَ پینځلسو میلیونو سادوګانو (سپېڅلو وګړو) لرلو دعوه یې کوله. بېلتون له هغو هندوانو څخه چي دَ نڅا، بدلو، سندرو، مړیني ، تباهۍ او رنځونو لپاره یې بېل بېل خدایان او خدایاني لرلې. له هغو هندوانو څخه چي ګروهه یې لرله چي خدای په ونو، دَ هند په ۱۳۶ بیزوګانو او غواګانو کښي ښکاري. هغه هندوان چي مارانو ته یې لمونځ کولؤ په تېر بیا دَ څپرمار (کوبرا) ته، چي هر کال به یې په نیمه وچه کښي لږ تر لږه ۲۰،۰۰۰ کسان وژل. بېلتون له هغو هندوانو او سیکانو څخه چي دَ اوسني پاکستان په سیمو کښي لکه پېښور، او دَ وزیریستان په ګډون په ټولو قبایلي ایجنسیو کښي یې نیژدې ټول دوکانونه په لاس کښي ول. له هغو هندوانو او سیکانو څخه چي له انګرېز سرکار او پوځ سره ملګري ول. له هغو هندوانو او سیکانو څخه چي خوارو مسلمانانو او هندوانو ته بې پیسی په پور ورکولې، او چي کله به یې هغو پور نهٔ شؤ پرې کولای نو مځکي به یې ځیني لاندي کړې، او په دغه توګه یې میلیونونه مسلمان کشیان (بزګران) بې مځکو کړل. لنډه دغه، چي له هغو هندوانو او سیکانو څخه چي ان تر افغانستانه یې ټول سوداګریز کارونه په لاس کښي لرل.

ریښتا ده چي یوازي دَ پوځ بولندویان بدل شول، خو بیا هم بېلتون یوه خدایي لوره (پېرزوینه) وه. مسلمانانو ته یې وار(موقع) ور کړ چي دَ پاکستان په نوي دولت کښي دَ خپلو کارونو سرېښته پخپله وَکوي. دَ سیاسي اډانې (نظام) په اړوند، په تېره په وزیریستان کښي، اې، ایس، احمد، دَ جنوبي وزیریستان پولټیکل ۱۹۷۹ – ۱۹۸۰، لیکي: « که څه هم پرنګیان په ۱۹۴۷ کښي ولاړل ... دَ سیاسي چلاو جوړښت او دَ کارکونکو جوړښت او دَ هغوی ټوله دندې او نرخونه همهاغسي په ځای پاته دي.

حاجي صاحب چي سیاسي اډانه بې له کوم بدلونه همهاغسي په ځای وَ لیدله نو یې نوی سرکار هم وَ نهٔ منلای شؤ. خو دَ پاکستان دَ نوي سرکار په چپه (ضد) یې دَ هغسي بریدونو اجازه ور نهٔ کړه لکه دَ انګرېزانو په چپه چي به کېدل. هغه ارام ؤ او کتل یې چي دَ نوي سرکار تګلاره وَ ګوري.
سر جارج کنینګهم چي په دویم نړیوال جنګ کښي دَ ملایانو له لارې یې دَ اسلام پروپېګنډه کوله – لومړی دَ روسانو په چپه، وروسته دَ جرمنانو، ایټالویانو او جاپانیانو په چپه – چي برتانوي هند وَ ژغوري. هغه اوس دَ سوبه سرحد والي ؤ او ایم. اې. جناح دَ پاکستان ستر والي ؤ. دغه ځل هغه (کنینګهم) دَ پاکسان په پلوی پروپېګنډه پیل کړه. په یوه باوري لیک کښي، په ۶ پېرګراپ کښي، هغه په ۲۰ سیپتمبر لومړي وزیر لیاقت علي خان ته لیکي: « دَ پاکستان په پلوی به پروپېګنډه ډېره اغېزناکه وي.» «کوم لوی سببونه چي زه یې وینم هغه دي: (ا) په ګرده سره پاکستان او اسلام ریښتیا هم یو نوم دی، که دَ پاکستان دَ یوې برخې دَ کمزورَ کولؤ لپاره یا په هغه باندي دَ نیوکي کولو لپاره یوڅه کیږي نو دغه به په اسلام باندي چپاو وَ بلل شي.»

په ۹ پېرګراپ کښي هغه ښاغلي جناح ته وړاندیز کوي چي په لاندینو کرښو باندي خپلې څرګندوني وَ کوي: «« زه په ډاګه کوم چي زه فقیر ایپي ته بخښنه کوم دَ هغو ټولو دوښمنیو چي دهٔ پخوا دَ برتانوي سرکار په چپه کړې دي. او هغه ازاد دی چي په ازادۍ هر چېرته چي غواړي په پاکستان کښي وَ اوسېږي. همدغسي بخښنه زه دَ هغه ټولو ملګرو ته کوم دَ هغو ټولو دوښمنیو چي دوی پخوا دَ وزیریستان په سیمه کښي دَ برتانوي سرکار په چپه کړې دي.»

سر جارج کنینګهم ایم. اې جناح ته دَ وزیریستان دَ قبایلو ته دَ اورولو لپاره دغه لاندینی لیکل شوې څرګندونه هم ورکړه:

## لیکنه
## څرګندونه دَ ایم. اې. جناح دَ وزیریستان اولس ته

1. ما پرېکړه کړې ده، دَ خپل لوی درستیز او سرحد سوبې دَ والي په سلا، چي ډېر ژر له وزیریستان څخه دَ پاکستاني پوځ ټول رسمي ځواکونه راوَ باسم. دغه له هغې تګلارې څخه پرشا کېدل دي چي ۲۵ کاله پخوا دَ هند سرکار پیل کړې وه، او زه به تاسي ته خپل ټکي بیان کم چي زه ولي دغې پرېکړې ته رسېدلی یم. زه باور لرم چي په دغه ډول به موږ دَ وزریستان دَ قبایلو او پاکستان دَ اسلامي سرکار تر منځ دوستي ټینګه کو. زه دغه باور هم لرم چي دغه نوې تګلاره به تاسي دَ خوښۍ او ابادۍ خوا ته بوځي.
2. پخوا دَ سرکار دَ تګلارې یوه موخه وه چي دَ ټبرونو ټولنیز، چوچ (اقتصاد) او ښوُوَنیز اکر ښه کي. خو تر اوسته په دغو برخو کښي ډېر کم پرمختګ شوی دی، یو څه خو په تاسي کښي ځینه وګړو دَ برتانوي سرکار په نیامت باندي شکبره ول. ستاسي له هیواد څخه دَ ټولو رسمي پوځونو په ایستلو سره زه هیله کوم چي تاسي به وَمنئ چي دَ پاکستان سرکار ستاسي دَ هیواد دَ ازادۍ په چپه هیڅ نیامت (اراده) نهٔ لري، او یوازې غواړي چي له ستاسي دَ ژوند ټولنیز او اقتصادي اکر ښه کي، که چېرې تاسي دغسې غواړئ.
3. ما دَ سکاوټانو دَ لرې کولؤ پرېکړه هم کړې ده: په شمالي وزیریستان کښي له دته خېل او دوسالي څخه، او په جنوبي وزیریستان کښي له لډه، سره راغه، او کوټکي څخه. سکاوټان به دَ شمالي وزیریستان په بویا، میرانشا او سپین وام، او دَ جنوبي وزیریستان په وانه کښي پراته وي، سره دَ خپلو چوکیو او دَ مخابراتو له کرښو سره. لکه تاسي چي پو هیږئ، دغه سکاوټان ٪۱۰۰ پښتانهٔ دي – ستاسي خپل ورونهٔ. دوی به په وزیریستان کښي ستاسي دَ ورونو غوندي اوسیږي، نهٔ لکه دوښمنان؛ له تاسي سره به شخې نهٔ کوي، بلکي ارامي به پالي: دَ ښوُونځایونو، روغتونونو، اوبه خور او نورو پرمختګونو کښي به مرسته کوي – که چېرې تاسي پخپله دغه څیزونه خوښوئ.
4. ما وایې (امرونه) ورکړې دي زما پورتنۍ پرېکړې چي څومره ژر کېدلای شي پلې دي شي، کابو په راتلونکیو ۳ یا ۴ میاشتو کښي.
5. زه دلته دغه وړاندیز هم کوم او خپلو افسرانو ته وایم چي له تاسي سره وراسه (خبرې) وَ کوي دَ هغو څیزونو په اړوند چي ستاسي په ښېګړه باندي اغېزه کوي. زما خوښه ده چي کومې ګټې چي تاسي یې دَ لونګیو او خاسَداریو په بڼه کښي اخلې، دي همهاغسې رواني وي. دَ دغو ګټو په بدل کښي پخوا تاسي ځینه کارونه په غاړه اخیستي ول لکه ستاسي پخپلو سیمو او بندوبستي اولسوالیو کښي دَ ارامۍ او کرارۍ ساتل. زه خپلو افسرانو ته وایم چي له تاسي تر ورسې (خبرو) وروسته دي ماته ټپال راکي چي په راتلونکي کښي به کوم کوم کارونه ستاسي په غاړه وي. دوی به له تاسي سره دَ نور ګټو لکه ښوُونځایونو،روغتونونو، خړوب او نورو کارونو په اړوند هم وَ ږغیږي؛ او دَ پاکستان دومره پیسې له وسه پوره وي، زه به هڅه وَ کوم چي ستاسي ټولې غوښتنې پوره کم.

# عبدالغفار خان

عبدالغفار خان چي دَ ګاندهي دَ نَغال (عدم تشدد) تګلارې پرې اغېزه کړې وه، په کانګرس ګوند کښې ؤ. دی خو بېخي دَ ګاندهي لځوا تېرايستل شوی ؤ. هغه ګاندهي چي په سربېرنه توګه ويل چي دَ ټولي نيمې وچي دَ اولسونو دَ حقونو لپاره جنګ کوي، مګر په رېښتيا يې دَ زاتي هندوانو، دَ هندوانو دَ لاسبري، هندو ګروهي او هندو زاتونو اداني لپاره هلي ځلي کولې. عبدلغفار خان او دَ هغه ورو ډاکټر خان صاحب خو بېخي دَ ګاندهي او جواهر لال نهرو لځوا تېرايستل شول. عبدالغفارخان پخپله يوموټي هند غوښتلؤ. دَ وېش په اړوند دی وايي: «ګاندهي جي او زه دَ وېش په چپه وو، زه نهٔ شم ويلای چي دَ ګانګرس نورو غړو په دغه باره کښې څنګه انګېرني لرلې. » په ګډون دَ قبايلي سيمو، چي هيڅکله په هند پوري نهٔ وې تړلې بلکه هروخت دَ افغانستان برخه وې، او په نورو بېلابېلو سيمو کښې په اولس باندي دَ منلؤ لپاره يې جواهرلال نهرو راوَبللؤ چي هغوی ته وَ وايي چي له يوموټي هند سره يوځای شي. کوم ځايونه چي يې په نخښه کړي ول دَ دغه کار لپاره هغه ول وزيريستان، خيبر، ملاکنډ او باجوړ.

(The Voceroy's Agent: p. 324) تر ټولو لومړی وزيريستان اجنسي ته ورغلل. دَ ټرينچ ، دَ شمالي وزيريستان پولټيکل بينجي بروم هيډ په خپل باغ کښې دَ وزيرو يوه جرګه ورته راوَبلله. ډاکټر خان صاحب دغو وګړو ته چي ډېری يې ملکان ول، چي دَ دوی اولس خو ناپوه، نېستمن او ځنګليان دي او کانګرس ګوند به دوی ته ښؤونځي او روغتونونه ورکي. دوی ته به په دغو ښؤونځايونو کښې ديني او نورې زدکړې ورکړ شي.

په غبرګون کښې اوتمانزو وزيرو ورته وَ ويل چي له بده مرغه ډاکټر خان صاحب خو بېخي تېروتلی دی. دَ وزيريستان تومن خو ازاد ؤ او ازاد پاته کېدل يې غوښتل. دوی خو ښؤونځي او روغتونونه نهٔ غوښتل او نهٔ دوی اړتيا لرله چي څوک اسلام وروَښيي. دَ هندوانو په باره کښې دَ وزيريستان تومنونو ويل چي دوی خو دَ نورو له مرېيانو پرته بله هيڅ هم نهٔ دي. دَ دوی په چورت هندوان خو دَ انګرېزانو څېلی پاکوي او منونکي نوکران يې دي. دوی ته به يې بابوجي ويل چي له مرېيتوب سره سمه مانا لري. دَ دوی په لېمون (نظر) کښې نهرو يوازي سربابو ؤ بل هيڅ نهٔ ؤ.

له ميرانشا څخه دوی والوتل چي دَ مسودو له جرګي سره وَ ويني. دَ مسودو ملکانو هم نهٔ غوښتل چي له دوی سره وَ ويني، خو دَ ځايناستي پولټيکل هيډسن بلنه او زاری يې وَ منله چي ورسره وَ ويني. کله چي دَ جرګې خوا ته په پښو روان ول نو نهرو هوډسن او پکامن ته وَ ويل چي دوی خواران له بدمغزه مسودو او وزيرو خورا په وېره کښې دي.

نهرو چي کله وينا کوله نو په پښو وَ درېدلؤ او خپل لاسونه يې ښورول. دغه خو دَ پښتنو له جرګي سره بېخي سم نهٔ دی. هغه دوی ته وَ ويل چي دی راغلی دی چي دوی دَ انګرېزانو له مرېيتوبه ازاد کي. کله چي يې دَ مرېيتوب ټکي واورېدلؤ نو ټوله جرګه راوَبوړنېدله. ملک مهردلخان چي دَ نهرو په څرګندونه پوره رسېدلی ؤ، پاسېدلؤ خپله امسا يې په لاس کښې وه او بې له کوم سامه نهرو ته نيژدې ورغلؤ، او پرې ور بړچ يې وهل: «تا موږ ته سپکه راواړوله چي مو دَ انګرېزانو مرېيان بولې! موږ هيڅکله دَ هيچا مرېيان نهٔ يو پاته شوي، او به ستاسي مرېيان شو. که دي بيا خپل مخ دلته راڅرګند کؤ، نو موږ به دي سونت کو.»

دَ جرګي په پای کښې يو بل ملک پورته شؤ او وَ يې ويل چي دی نهٔ پوهېږي چي ولي دلته راغلي دي، ځکه چي دَ وزيريستان اولس خو تل ازد پاته شوی دی. خو بيا هم که دغه خامخا

وي چي دوی له يوۀ کوټيانې (جت) سره کوم تړون وَکوي،    نو هغه کوټيانې به جناح وي. دَ جنوبي وزيريستان اوتمانزو وزيرو له نهرو، عبدلغفارخان او ډاکټر خان صاحب سره له ليدلۀ نيۀ وَ کوله.  دَ واندې (پنډغالي) ځينه هندوان - چي دَ يورپ کالي يې اغوستي ول – دَ ګلونو له غاړګيو سره دَ هندو بابو مخې ته وروَ وتل. ځينه وزيرو ګره (منډه) پرې وروَکوله اوتر هغو يې منډې پسې وهلې چي  بېرته يې په واندې ننه ايستل.

نيژدې دَ ټولو ځايونو خلکو، لکه ملاکنډ، خيبر او باجوړ، له دوی سره دَ ليدلۀ په ځای يې دَ دوی موټر په ډبرو وَ ويشتلۀ. په پای کښي، کله چي دوی له ملاکنډ څخه درګۍ ته تلل، يوۀ سړي يې موټر په ګندګي وَ ويشتلۀ، جواهر لال نهرو او عبدلغفار خان خو بچ شول، خو ډاکټر خان صاحب ښه پرې وَ لړل شۀ. عبدلغفار خان دَ هندوانو په ملاتړ کولو دَ پښېمانۍ په ځای دَ ايجنسيو په اولسونو نيوکې وَ کولې. هغه دَ وزيريستان ځينه ملکان وَ غندل چي دَ مسلم ليګ ملاتړ يې کولۀ او ځينه برتانوي افسران چي دَ نهرو په چپه يې لاريونونه برابر کړي ول.

په ۳ جون ۱۹۴۷، سره له هغه چي لاټ مونټ بېټن دَ وېش ړغ کړی ؤ او کانګرس او مسلم ليګ هم دواړو منلې وه، خو بيا هم عبددلعفارخان او ګاندهي دَ يوۀ هند په ليديا (Idea)ټينګ ولاړ ول.

دَ هند دَ يوځای ساتلو لپاره ګاندهي جناح ته بلنه ورکړه چي دَ يوۀ هند لومړی وزير دې شي. دَ مونټ بېټن له څرګندوني وروسته غفارخان ډيلي ته ولاړلۀ چي دَ کانګرس په کاري جرګې کښي ګډون وَ کوي. په غونډ کښي دَ وېش ملاتړ وَ شۀ. سردار پټېل او راج ګوپال اچاريه دَ وېش په چپه دَ غفارخان خبرو ته غوړ کښي نۀ ښودلۀ، که څه هم ګاندهي يې ملاتړ وَ کولۀ. دَ دغو دوۀ کسانو په زور ګانګرس کاري جرګه ګۍ دَ ټولپوښتني او وېش دواړو ملاتړ وَ کولۀ.

يو وخت جناح هم دَ کانګرس غړی ؤ او دَ يوۀ هند ملاتړی ؤ. وروسته هغه له نهرو او ګاندهي سره چپ شۀ. هغه دَ وېش په تابيا له لاټ مونټ بېټن سره وراسه (خبرې) وَکوله. دَ هغه نيکه دَ هغه زات هندو ؤ کوم چي دَ ګاندهي زات ؤ او دَ کاټيواړ په ټاپو کښي به اوسېدلۀ،  خو وروسته مسلمان شۀ. جناح ته خو دَ هندوانو ښه پته وه. نو ځکه يې دَ ګاندهي هغه بلنه وَ نۀ منله چي دَ ټول هند لومړی وزير دې شي. جواهر لال نهرو او پټېل هم دَ دغي بلنه سره جوړ نۀ ول. نو دَ دوی دَ نټي له لاسه دَ ګاندهي او غفار خان هڅې بريالۍ نۀ شوې.

دَ يوۀ هند لپاره دَ ګاندهي دَ هلۀ ځلۀ په اړوند کولين او لاپير ليکي:  «هغه نهرو او پټېل بدل نۀ کړای شول. دَ هند دَ يو  ساتلۀ لپاره بلهاري (قرباني) هم تر يوځايه کېدلای شوه. خو هند جناح ته سپارل دَ دوی په وس پوره نۀ ول.»

کله چي پوه شول چي دَ هند وېش خامخا دی او پاکستان ريښتيا جوړيږي، نو ګاندهي، نهرو، مولانا ازاد او دَ کانګرس نورو مخورو دَ غفارخان هيڅ پروا وَ نۀ کوله – چي دَ دوی هسې سرحدي ګاندهي ؤ - . چي ريښتيا شي، نو غفار ته سرحدي ګاندهي ويل يوه سپکه وه. ګاندهي خو يو هندو ؤ. هغه په سپېڅلې غوا لکه دَ مور غوندي ګروهه لرله، خو غفار خان په الله باندي ګروهه لرله. دوی دَ هغه درناوی تر هغو کولۀ چي دَ خپلو موخو لپاره يې کارولۀ. دوی ورته سرحدي ګاندهي ويل چي دَ دوی موخو يې پوره کولې او کله چي يې اړتيا ورته پاته نۀ شوه نو ډېر په اسانۍ يې هېر کۀ.

عبدالغفار خان کاري جرګه ګی او ګاندهي جي ته وَ ویل: «موږ پښتانهٔ دَ له هغوی سره دَ هند دَ ازادئ په هلوځلو کښي وَ دربډلو. » «هند موږ په ښوی ډاګ پرېښودلو، نو ولي موږ دَ «هند یا پاکستان» په ټکي باندي ټولپوښتنه وَ منو؟ »موږ ورته وَ ویل چي بیا چیري کومه ټولپوښتنه وي نو باید دَ پښتونستان یا پاکستان په ټکي باندي وي. موږ جواهرلال ته ډېره هیله وه، چي ډېر لوی لوی کارونه یې کړي ول، خو نهٔ یو خبر چي ولي یې زموږ لپاره یې هیڅ نهٔ هم وَ نهٔ کول.

لکه پورته چي روښانه شوه، دَ پښتونستان نوم په پورتني وخت کښي وَ کارول شؤ، چي یوازي بندوبستي اولسوالی پکښي راتللي - لکه، پېښور، کوهاټ، بنو، ډېره سمایلخان، مردان او هزاره – خو وروسته دَ هغو هندوانو چي غفارخان ته یې دوکه ورکړې وه، دَ پاکستان دَ نارامه کولو ګټه ترې پورته کړه.

شوروي اتحاد دَ خپلو ګټو لپاره پښتونستان غورځنګ وَ کاوروئ. دوی غوښتل چي دَ کمیونزم ایډیولوجي افغانستان، پاکستان، هند او دَ اسیا نورو هیوادونو ته راخوره کي. (وَ ګورئ بابړی ایف)

غفار خان هیڅکله یو ازاد پښتونستان نهٔ غوښتلؤ. په هغه وینا کښي چي دهٔ دَ پښتونستان په ورځ په ۳۱ اګست ۱۹۶۵ په کابل کښي وَ کوله، دَ وَ ویل، زه په افغانستان کي جوړ شوي پښتونستان غورځنګ په مانا نهٔ پوهېږم! «دغه نهمه میاشت ده چي زه ستاسي هیواد ته راغلی یم. په دغه ټول وخت کښي زه هڅه کوم چي په هغه پښتونستان غورځنګ باندي پوه شم چي ستاسي په هیواد کښي جوړ شوی دی، خو ما ته شرم دی چي زه هیڅ پایلي ته نهٔ یم رسېدلی.»

له ۱۹۵۲ راهیسي چي دغه دَ پښتونستان غورځنګ په پوره زور کښي ؤ، زرګونه وګړي په ګروېک کښي دَ حاجي صاحب لیدلو ته راتلل چي دَ هغه په راتلونکي تابیا پوه شي. په دغه وخت کښي دی امیرالمومنین بلل کېدلؤ. ګروېک یو ځل بیا دَ سیاسي یووالي منځی ؤ او حاجي صاحب دَ یو والي نخښه ؤ. خو افغان سرکار له پښتونستان سره جوړ نهٔ ؤ، بس یوازي یې دَ هند او شوروي اتحاد ډنډوري ږغولي، نو ځکه یې دَ سیاسي یووالي دغسي منځی نهٔ غوښتلؤ. په ګروېک کښي دَ سیاسي یووالي دَ منځي دَ وهلو او پای کښي دَ حاجي صاحب بې اغېزې کولو لپاره افغان سرکار په دَ افغانستان په کابل، جلال اباد، کندهار، ګردېز، اورګون، برمل، او دَ قبایلي ایجنسیو په باجوړ او تیراه کښي منځي پرانیستل. له ګروېک او نورو قبایلي سیمو یې غازیان او نور قبایلي مشران دغو منځیو ته راوَبلل او هلته یې په میاشتو میاشتو ډوډئ ورکوله. کله چي به کورو ته تلل نو دوی ته له خپل اکر سره سم یو څو سوه افغانۍ هم ورکېدلي. په دغو منځیو کښي دوی پرلپسي دَ پښتونستان په اړه خبرې کولي، خو هیڅکله دَ ستوزې سر پیدا نهٔ کؤ او نهٔ پوه شول چي دوی څه غواړي.

حاجي صاحب څو څو ځله ګردېز ته وَ بلل شؤ، خو هغه هیڅکله دغه بلنه وَ نهٔ منله. هغه په ګروېک کښي له خپلو ریښتینیو ملګرو سره پاته شؤ، او کله کله به دَ وزیریستان نورو برخو ته دَ سختو شخړو دَ هوارولو لپاره تللؤ. هغه له پیسو او نورو ګټو سره جوړ نهٔ ؤ. دَ هند برتانوي سرکار په هغه باندي بدې وَ نهٔ شولي منلای. نو افغان سرکار هم له دهٔ سره چلونه نهٔ شول کولای.

حاجي صاحب دَ شامي پیر غوندي منافق نهٔ ؤ چي دَ پیسو پلورل کېدلای شؤ. شامي پیر دَ سوریې ؤ، چي په جون ۱۹۳۸ کښي دَ سرحد سوبې ته راغلؤ. دَ هغو نوم سید الګیلاني ؤ، چي دَ شامي پیر په نامهٔ نامتو ؤ. برتانوي چارواکیو هغه له سوریې څخه راوړلؤ چي په وزیریستان

کښي پرگني راوَپاروي دَ افغان سرکار په چپه يې وَ جنگوي. افغان سرکار سخته گيله وَ کوله چي دَ هند برتانوي سرکار يې تورن کؤ چي په دوهٔ مخی کښي لاس لري او په لوی لاس هڅه کوي چي افغان سرکار نسکور کي. برتانوي چارواکيو وَ ويل چي شامي پير ته ويزه ورکول يوه تېروتنه وه چي په منځني ختيځ کښي دَ دوی کونسل کړې وه.

برتانوي سرکار غوښتل چي افغان سرکار وَ وېروي چي دَ دوی خبرې وَ مني. موخه دغه وه چي افغان سرکار ته وروَښيي چي که چيري انگريزان دَ غازيانو ملاتړ وَ کوي نو خلک، چي دَ پخواني باچا امان الله خان ملاتړ يې کولؤ، به افغان سرکار نسکور کي.

شامي پير او دَ هغه ملگرو او خپلوان، لکه په (۷-۱) انځورونو کښي چي ښکاري، دَ بېلاريو، خپلچاروکيو او ديني کربوړيو (گرگټ) يوه ټولی جوړه کړه. خپل ځانونه دَ ستانه (بزرگانو) غوندي ښکاره کولؤ لپاره دوی ږيرې پرېښودلي او دَ عربو کالي يې اغوستل. خو دوی په پيسو گروهه (ايمان) لرولؤ او کله چي پيسي ترلاسه کړې نو له وزيرستانه دغسي ورک شول چي تر شا يې پل هم پاته نهٔ شؤ.